د هندوستان پښتانه

مالیر کوټله (ختیځ پنجاب)

صفیه حلیم

۲۰۰۹

۱* د اوبو مزل

۲.*پاچا او ملنګ

۳.* مالیر او کوټله

۴*ګورو او نواب

۵* د ژوندو لاره

۶* نوی ملګری نوی دښمن

۷* نولسمه پېړی

۸* نواب او انګرېز

۹* هغه تللی عظمت

۱۰* د لاهور مالېری

AghaLibrary.com

نا اشنا ټکی

جاګیر- ځمکه او کلی

جاګیردار- هغه څوک چې ځمکه او کلی ولري

پرګنه- د ځمکې یوه برخه

خلعت- قیمتی ټوکر نه جوړ اوږد کوټ یا چپن چې د پاچا له خوا به د یو کس د درناوئ لپاره ورکول کیدو

ضلع- ولسوالي

مها –لوئ

راجه- پاچاه یا واکمن

راجپوت- د راجه ځوئ- د هندوستان یوقام چې دمېړانی لپاره نوم لری

سنګ-سنګه........زمری- دا لقب راجپوت قام سړو د خپل پېژندګلوي لپاره کارو-وروسته د سیک مذهب منونکوهم دا لقب غوره کړو

نذر-نذرانه- تحفه یا ډالئ چې د واکمن د خوشالولو لپاره به ورته وړل کېده- مغلو به ورته پېشکش ویېل

ګرو یاګورو- هغه مشرچې نورو ته لاره ښائ

برهمن- د هندو مذهب لوړه طبقه

بېراګی- د هندو مذهب ملنګ

دیوان-مشر وزیر(وزیر اعظم)

چېلا- غلام یا مرید

کوټله- قلا

سادهو- ملنګ یا فقیر

وایسرائ-په هند کی د برطانوي سلطنت له خوا ټاکل شوی واکمن

Download From: AghaLibrary.com

پېژندنه

د صوبه سرحد ځینې خلک کله چی په اباسین جوړ د اټک له پله واوړي نو وایي چې مونږ پنجاب ته ورداخل شو. د تاریخ په پاڼو کې د پنجاب ټکی په لومړي ځل د شپاړلسمې پېړۍ په ورستیو کې د شېرشاه سوري د دور تاریخ لیکونکو وکاروو. له دې وړاندې دا ټوله سیمه د هند په نوم یادېده. د پنجاب نوم دلته بهېدونکو پنځو سیندونو له کبله ورته ورکړی شو- خو په اصل کې دلته شپږ سیندونه دي. د راوي، چناب، بیاس، ستلج او د جهېلم نه علاوه د اباسین اوبه هم دلته بهېږي. د هند او پاکستان ترمېنځ دا سیمه له اسمانه چې وګورئ نود یوې دایرې غوندې ښکاري .

دهند برخه یې ختیز پنجاب او د پاکستان هغه یې لویدیز پنجاب بلل کېږي.د لویدیځ پنجاب سرحد د سلېمان هغه غرونه دي چې دبلوچستان او افغانستان نه یې بېلوي.د پنجاب په دې برخه کې تر ټولومهم ښار جهېلم نومېږي چې د هندوستان نامتو واکمن شېرشاه په کې د روهتاس کلا جوړه کړه. هغه وخت ټېکسلا او کوهستان په پنجاب کې شامل نه وو بلکه دا د افغانستان خاوره ګڼل کېدل.

د ختیځ پنجاب سرحد د جمناسیند دی.او پدې کې لودیانه،جالندهر او دپټیالې ښارونه دي. جنوب ختیځ کې د ډیلي او حصار ښارونه دي چې پخوا د اګرې د حکومت برخه وو.خو د ۱۸۵۷م کال نه وروسته انګرېزانو په پنجاب کې شامل کړل. د پنجاب شمالي سرحد د اباسین او د ستلج سیندونه دي چې د بهاول پور او د راجهستان (راجپوتانه)نه یې بېلوي.دلته ددې لرغونی ښار ملتان نومېږي. ددې نه علاوه دېپال پور (پاکپتن)هم لرغونی تاریخ لري.

Download From: AghaLibrary.com

د انګرېزانو په هند کې د اوسني صوبه سرحد سيمه هم په پنجاب پورې تړلې وه. په ۱۹۴۷ م کې د پاکستان په جوړېدو پنجاب په دوو برخو وويشل شو. د هند پنجاب بيا هم دومره پراخه مځکه لرله چې حکومت په ۱۹۶۶م کې بيا په دوو نورو برخو وويشلو. د يوه نوم هريانه او مرکز يې چندي ګړ شو. دويم پنجاب په خپل نوم پاته شو او مرکز يې امرتسر وټاکل شو. دهندي پنجاب د شمال ځيني نورې برخې د هيماچل پردېش په ايالت کې شامل کړی شوی. ددې نه اندازه کېږي چې ددې لويې ځمکې انتظام او اداره څومره ګران کار دی.
په هندوستان کې ددې ټولو سيمو په ګډون دلته دخلکو شمېره دټولو نفوسو ابله ۲.۵ فيصده کېږي. يعني په هند کې پنجابيان په اقليت کې دي. خو ځمکې يې ټول هند ته د غنمو ۲۲% او د وريژو ۱۰% حاصل ورکوي. له دې پرته په ټول هند کې د پيو(شېدو) او له هغې جوړو شيانو دريمه برخه له پنجابه ترلاسه کېږي. د پاکستان په پنجاب کې د پنجابي وګړو شمېره د نورو ټولو په پرتله زياته ده. يعني د پاکستان د خلکو ۴۴,۵ % په پنجاب کې اوسېږي. او ددغې ځمکې ټول حاصل ۸۰ فيصده غنم پيدا کوي. په ۱۸۹۱ م کې انګريزانو دپنجاب دځمکې کچ يو لک څلور څلوېښت زره څلور سوه او شپږ دېرش زره مربع ميله ښودلو. او دلته هغه وخت پنځه ويشت لکه يو شپېته زره نهه سوه او شپږ پنځوسو کسانو ژوند کاوو.
په دې خاوره اوسېدونکي زيات تره په تېرو پنځو زرو کالو کې د افغانستان او دهغې نه وراخوا د مرکزي اېشيا د خاورو نه په بېلو بېلو پړاونو ورغلي دی. ددې ځمکې شنې او ښېرازې او هوا يې نرمه او معتدله ده. ددې کتاب لپاره مايواځې دهغو پښتنو حال راخيستی دی چې د هند په لوديځ کی د پنجاب د ايالت يو ډېر وړوکی ځای کی مېشت دی- خو د خلکو د تاريخ نه وړاندی د پنجاب د سيندونو معلومات ضرور دی چی د دی خاوری د ښيرازئ عامل دی-

Download From: AghaLibrary.com

د اوبو مزل

د پېښور له تعلیمي ادارو هرکال په سلګونو زده کونکي د اباسین او د کابل سیندونو سیل له ورځي، د اټک سره نږدی څوواړه واړه ټاپوګان دي چې یو په کې کنډ نومېږي. په هندی ژبه کې د اوبو تالاب ته کنډوای دې ټاپو سره یو ځای کې د ددو سیندونو اوبه یوځای کېږي. مست هلکان یا جینکۍ په اوبو کې ورښکته شي او دا یواځې په ژمي کې ممکن وي چې کله د دواړو سیندونود اوبو زور کم وي.-دوی په لویو تیږو پښې ږدي او هغه ځای ته ځان رسوي چې سنګم نومېږي عام خلک په دې باوري دي چې د دوو سیندونود یوځای کېدوپه مقام که څوک دعاوغواړي سمدستي قبلېږي. دا دود او عقیده له کومه ځایه پیل شوېده هیڅوک نه دی خبرڅوک په دې پسې هم نه ګرځي چې دعاګانې په رښتیا قبلېږي او که نه؟خو د دواړو سیندونو د اوبو بېل بېل رنګونه په خپله یوه په زړه پورې ننداره وي-

اباسین یعنی د سیندونو پلار... او دا نوم ورته بې ځایه نه دی ورکړی شوی، د آرییانو په وېدی سندرو کې وایي چې ددې سیند اوبه د یوه زمري له خولې راوځي. دهندو مذهب له مخې د همالیه په غرونوکې کېلاش نومي غرونو سلسلې کې د دوی تر ټولو قوي اسطوری *وشنو* چینه ده چې د اباسین اوبه ترې راوځي. د شلمې پېړۍ په سر کې د انګرېز جغرافیه پوهانو یوې ډلې ددې سیند سرچینه معلومه کړه او د دوی معلومات دا وو چې د کېلاش غره نه واورینې اوبه په شمال لویدیځ کې یو سل شپېته(۱۶۰) میله ښکته راکوزېږي او دلته د ګهار نومي یو بل سیند اوبه ورسره یوځای شي بیا دا اوبه چې د

Download From: AghaLibrary.com

کشمیر له لداخ نه تېرېږي نو بې شمېره لويې وړې ويالې ورسره يوځای کېږي او کله چې د پاکستان د سکردو په سيمه کې راتېرېږي نو مخه يې جنوب لوري ته شي دلته د گلگت سيند هم ورسره يوځای شي او د هندوکش د غرونو نه درابڼ ته رارسېږي تر دې ځايه د اباسين اوبو اته سوه دولس(۸۱۲) ميله لاره وهلې وي.
په درابڼ کې ددې لويديځې غاړې ته د صوبه سرحد د بنو او ډېره اسماعيل خان ښارونه دي او ختيځې غاړې ته ډېره غازي خان چې په پنجاب کې شامل دی .دلته دا سيند د غرنيو پښتنو د سيمو وروستې سرحد يا پوله جوړوي.
کله چې د چچ په وادي کښې ددې سيند اوبه غورځېږي نو دسيند لمنه دومره پراخه شي چې څو ځايونو کې جبه زارونه پيدا شي دلته پکې کشتۍ هم چلېږي. څلوېښت ميله چې نور مزل ووهي نو د کابل سيند اوبه ورسره يوځای کېږي اوکه د اټک د پله نه که څوک ښکته ځير شي نو د دواړو سيندونو د اوبو رنگ بېل بېل ښکاري.
زما د ماشومتوب يوه تجربه دا وه چې پلار به راته د اټک پله نه د دواړو سيندونو رنگونه ښودل د اباسين شنې او د کابل ژېړبخنې سرې اوبه ـدلته دا سيندونه ديوه بل په څنگ کې بهېږي او زمونږ لپاره به حېرانونکې خبره دا وه چې دا اوبه ولې يو بل کښې نه ورگډېږي .دواړه سيندونه لږ نور ښکته د اټک د پله نه پورې ختيځ ته چې ورسېږي نو د اوبو رنگ تېز نيلا شي.دا د هغه نيلا رنگو تيږو له امله وي چې د سيند دواړو غاړو ته په اوبو کې پرتې دي.او د اوبو رڼا دا رنگ منعکسوي ، دغه ځای ''نيلاب'' نومېږي د نيلاب نه ښکته د اباسين او د کابل اوبه په گډه کالاباغ ته ورسېږي نو ددې مخه جنوب ته شي او ۳۵۰ ميله مزل وهلو نه وروسته مټهن کوټ نومې ځای کښې څلورو نورو سيندونو سره يوځای کېږي، دلته د پنجاب يو مشهور ځای ''پنج ند'' دی خو اباسين ته يو اځې ځان له ۴۹۰ ميله لاره اوس هم پاتې وي چې سمندر ته ور

Download From: AghaLibrary.com

رسېږي.او دا هغه لويه دښته ده چې د ګرمۍ له کبله پکښې ډېرې اوبه په هوا کښې يا په شګه کښې ورک شي. خود اباسين اوبه اوس هم ډېرې وي ځکه په دې کې د شلو نورو سيندونو اوبه ورګډې شوې وې چې د سپين غر او چترال نه واخلې د سليمان د غرونو نه راماتې وې. له کومو ځمکوچې دا سيند تېرشوی دی ددې ساحه ۱,۱ ۲۵,۰ مربع کلوميټره ده. دسيند د غاړې وروستی ښار "جام شورو" دی اودلته دا اوبه د يو لوي ډنډتر جوړېدو وروسته سمندر ته ځان وسپاري.ددې سيند اوږدوالی درې زره يو سل او اتيا کلوميټره دی.

د اباسين تر ټولو زوړ نوم په ويدي سندرو کښې يادېږي چې ورته "سپتا سيندهو" وايي يعني اوه سيندونه دا ځکه چې ددې په شپږو څانګو کې يو بل سيند هم ورګډ وو چې "سرسوتي"نومېدو او په لرغونو وختونو کې د سنده ايالت په شګو کې ورک شو. په سانسکرت ژبه کې دا سيندهوس نومېږي، د اوستا په مناجاتوکې سيندهوس بيا هيندوس شو هم دغسې سپتا،هپتا شو،ځکه په زړې باختری ژبه کښې د "س"غږ په "ه"اوړي .د هند ټکي له پارسي نه يوناني ته کډه وکړه او په دې ژبه کې "ه"په "يا" اوړي.هندو، يندو بيا اندو او اخرترې انډيا شو .يونانيانو" سيندوس" بيا انډوس(انډس) کړو.

کله چې لرغونې ويدي سندرې وليکل شوې نو دوی ته يې "ريګ وېد "وويل او په دې سندرو کې د سيندوس ذکر ۱۷۲ ځلې راغلی دی.

ددې سيند په غاړه په ۳۳۰۰ ق م کښې ښارونه آباد وو چې د شلمې پېړۍ په پېل کښې انګرېزانو رابرسېره کړل. د هړپه او د موهنجوډارو لرغونو ښارونو تمدن ته د "انډس تمدن "يعني د "اباسين تمدن"نوم ورکړی شو. دلته د موندل شويو توکيو ځانګړتيا دهند په لويه وچه کښې د دوو سوو نه زياتو ځايونو کې په نښه شول.په افغانستان کې د آمو سيند په غاړه په شور توغه

Download From: AghaLibrary.com

کښې هم ددې تمدن آثار پېدا شول ، د کندهار منډی‌گک او د ژوب رڼا غونډی د انډس تمدن ښې بېلگې دي.
په ۳۲۶ ق م کې د یونان اسکندرمقدوني د ټېکسلا (تاکشاشیلا) کې د راجه امبهي مېلمه شو، د یونان د لښکرو یوه برخه کال وړاندې د خېبر د درې د لارې د اباسین تر غاړې رسېدلی وۀ او د خپلو هغو ملگرو لپاره پر اباسین د تېرېدو لپاره یو مضبوط پل جوړکړی وو چې داسکندر تر مشرۍ لاندې د لغمان،کونړ ،چترال او د باجوړ له لارې ورغلي وو. امبهي اسکندر ته د خپل سیال د جهېلم راجه پورس پر ضدد پوځي او مالي مرستو ژمنه کړې وه.
جهېلم سیند
د اباسین نه پورې جنوب لوري ته جهېلم د یوه لوی سیند پر غاړه د اباد سلطنت نوم وو. دا سیند ویتاستا نومېدو.چې په پخوانیو ویدي سندرو کې یې ذکرشوی دی. ددې سیند سرچینه هم د همالیې غرونه دي او ددې اوبه چې کله د کشمیر د سرینگر ښار نه تېرېږي نو هلته د اباسین اوبه ورسره گډېږي، دا گډې اوبه د بارامولا نومې تنگئ نه په تېرېدو مظفرآباد ، بلتستان،هزاره او آخر جهېلم ته ورسېږي. ددې سیند اوږدوالی ۷۷۲ کیلومتره دی او په جهېلم کې د دې اوبه دومره پراخه شي چې ټاپوگان په کې پېدا شي.
اسکندر، راجه پورس ته پیغام ور واستوو چې ده ته تسلیم شي خو هغه ورسره د جنگ اعلان وکړ. په اول جنگ کې اسکندر ماتې وخوړه خو ددویم ځل لپاره یې په شپه کې خپل پوځ په یو ټاپو کې پټ کړ او سهار یې د پورس په پوځ یرغل وکړ او ماتې یې ورکړه. د جهېلم سر زوره اوبه د یونانیانو لپاره یو لوي گواښ و نو کله چې دوی بریالي شول نو ددې په ختیځه څنډه کې یې جشن جوړ کړ او داسیندیې د خپل یو اسطوري هایډاسپس په نوم ونوماوه. د جهېلم سیند دبهیره،خوشاب،ساهیوال،جهنگ اودملتان دلارې بهاولپور ته رسیږي، دلته د بیاس د سیند اوبه ورسره گډ شي او د چناب سیند ته په رسېدو اخر د

Download From: AghaLibrary.com

اباسین برخه شي. د جهېلم د سیند په غاړه اسکندر مقدوني د خپل اس بوکا فیلا په نوم یو ښار هم اباد کړ، دغه اس د زوړوالي له امله دغلته مړ شوی و. هم د دې سیند په غاړه د روهتاس مشهوره کلا ده چې شیرشاه سوري جوړه کړې وه.

چناب سیند

د کشمیر په لوړو غرو کې د واورینو اوبو دوه لوی جهیلونه دي چې یوه یې چندرا(سپوږمۍ) او بله یې بهاګا(تقدیر) نومیږي..د اوبو دا دواړه چینې په شمال لویدیځ کې د جمون نه تر کشتواړه ۱۳۰ میله مزل وهلو نه وروسته په اباسین کی ورګډ شی خو لږ ښکته بیاد اباسین نه بېلي شی، سیالکوټ او وزیر ابادد ښارونونه په تیریدو د جهنګ نومې ښار شګلنې ځمکې خړوبوي. په دې لاره دا اوبه د چناب په نوم یادیږي خو په لرغوني وېدی سندرو کې دا اشګینۍ بلل شوي دې. د پنجاب په اولسي داستانونو کې دا سیند لوی نوم لري د پنجابي ژبې دوه د مینې داستانونه هیر رانجها او سوهني مهینوال هم ددې سیند په غاړو جوړ شوي دي. د ۷۲۵ میله مزل وهلونه وروسته دا سیند د دوو نورو سیندونو ستلج او ښاس په بدرګه پنجند کې د اباسین سره یو ځای شي..

ستلج سیند

د پنجاب تر ټولو لوی سیند ستلج (ست لوج) دی اوږدوالی۱۴۴۸ کلومیټر دی. د اباسین په څیر د دې اوبه هم د کېلاش له غرو سرچینه اخلي خو په لاره کې ورسره بې شمېره لوی او وړې ویالې ورګډیږي، همدا ده چی په سانسکرت کې ورته "سوتودرو" وایي یعني د سلو سیندونو سیند. د دی اوبو مخه ختیځ لوری ته وي، او دسوالک دغرونو نه د هندوستان د بلاس پور او روپړ ته چې رسیږي نو په دوو برخو ووېشل شي. دلته د لودیاني مشهور ښار دي، کله چې د پاکستان د پهلور او پتن ته رسیږي نو د بیاس اوبه ورسره ګډې شي. دا

Download From: AghaLibrary.com

سیند د خپلو یخو اوبو او کبانو لپاره ډیر نوم لري. ځیني خلک ورته لال دریا یعني سور سیند وایي ځکه د سرو خاورو له کبله د دې رنګ سور دی.

راوی سیند

د سرو اوبو دی سیند ته د لاهور سیند هم وایي ځکه د دې سیند په ختیځه غاړه د لاهور ښار اباد دی. په ویدې سندرو کې دا په دوو نومونو یاد شوي دي، پارو شاي او اراوتي. په لرغوني یونان کې دا" هایډراوتېس" نومېدو. د دې اوبولاره لنډه ده اود کشمیر د کانګړه غرونو نه راوځي. هلته دا سیند ډیر سپېڅلی ګڼل کیږي. په لویدیځ کې د دې اوبه د پنجاب له غریزې سمیې چمبه ته چې را ورسیږي نو د دې نوم راوي شي. بیا د جمون نه شل میله ښکته یو بل سیند "توي" په کې ور کډ شي. دیرش میله ښکته د راج پور په میدانونو کې ځلور سوه کاله پخوا مغل واکمنو د دې اوبو نه یوکانال را ویستلی وو چې نهرشاهي نومیږي او اوبه یې د لاهور ښار ته رسیږي. دهند په ګورداسپور او امرتسرښارونو کې له دې سیند ځای ځای نهرونه او ویالې ویستل شوي دي نو ځکه تر لاهوره د دې سیند اوبه ډیرې کمې پاتیږي. د لاهور ښار نه تاو را تاو د دې دوه برخې جنوب لویدیځ کې بیا یوځای شي، ساهیوال او ملتان ښارونو ته ځان رسوي او همدلته د چناب په اوبو کې یوځای شي. یو مهال په دغه سیند کې لویې سوداګریزې کښتۍ چلېدی او پنجاب ته به یې مالونه رسول.

بیاس سیند

اسکندر مقدوني چې کله د جنګ جګړو له لارې د پنجاب لویه خاوره ونیوله نو د هند د نورو ځمکو د را لاندې کولو هوس یې لا په زیاتیدو شو. هغه خپل پوځ د پنجاب د وروستي سیند بیاس پورې را وستو خو دلته د ده په عسکروکې خپل وطن ته بیرته د ورتلو ارمان پیدا شو. اوس دوی په هیڅ شان نه غوښتل چې وړاندې ولاړ شي. اسکندر ورته د هغه مال او دولت او زرو جواهرو یادونه وکړه چې د ګنګا جمنا په وادیو کې یې پاچاهانو لرل خو هیڅ

Download From: AghaLibrary.com

اثريې پرې ونکړو. بياس د دوی وروستی حد و او په يوناني ژبه کې دا سيند هايفاسس نوميږي.
د دې اوبو سرچينه د هند د پنجاب د لاهول وارين غرونه دي. د کانګړی نه دا په شمال لويديځ کې د سوالک د غونډيو نه تاو را تاو بهيدو وروسته لومړي جنوب اوبيا جنوب لويديځ ته مخ کړي. د هوشيارپوراو ګورداسپور د ښارونو ترمنځ تېرېدووروسته د امرتسر او کپور تهله ته رسېږی او بيا پتن کې د ستلج له خړو اوبو سره يو ځای شي. ۴۷۰ کيلو ميتره اوږد دا سيند په سانسکرت ژبه کې" دياسا" نوميږی خوځای نومونه هم لري لکه ديپاسه، بياسچه، بياند ، وياه او بيپاشه او يو ځای کې ارجيکی هم ورته وای..
د سيندونو د اوبو شخړه
د پنجاب د ټولو سيندونو سرچينه د هماليې په غرونو کې د هند په خاوره کې ده. د هند د وېش نه وروسته دواړو هيوادونو د بريښنا او د کرکرهنې لپاره د بندونو د جوړولو اوداوبو د مخې د اړولو اختيار غوښتو. د ويش نه وړاندې هم د انګريزانود حکومت پرمهال د پنجاب او سنده دصوبې په منځ کې په ۱۹۴۲ کې دا شخړه را پورته شوې وه. پنجاب بره دخپلی خاوری نه د تېرېدونکی سيندونو اوبه د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره غوښتې او ښکتنه د سنده ايالت دا خبره نه منله. هغه وخت د اوبو شخړه نا حله پاتې وه. په ۱۹۴۷ م کی دا شخړه بيا را پورته شوه چی د پاکستان او هند ترمنځ به دا اوبه څنګه وېشل کيږي. نو هم دا وه چی د پاکستان او هند حکومتونو د اوبو په سر خبری پيل کړې چې په پای کې په ۱۹۶۰ م د ستمبر په مياشت کې د نړيوال بانک په مرسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د اباسين(انډس) په نوم يو تړون په کراچۍ کې لاسليک شو. د دې تړون له مخې د اباسين،جهېلم او د چناب د اوبو کنټرول به د پاکستان په لاس کی وې او د ستلج، بياس او د راوي سيندونو اوبه به هند کنټرولوي. هندوستان ته دا حق هم ورکړی شو چې

Download From: AghaLibrary.com

د پاکستان د برخې په دریو سیندونو اباسین، جهېلم او چناب غېر زرعي پراجې جوړولی شي. عملا د دې خبرې مانا دا وه چې د کر د ځمکې لپاره د سیندونو د اوبو مخه نشي اړولې خو که د برېښنا لپاره ورباندې بندونه جوړوي نو جوړولی شي. همدا وه چې هندوستان په ۱۹۹۹ کې د چناب سیند په اوبو د بګلیهار(بګلي یار) نومې د برېښنا د بند جوړولو په کار لاس پورې کړ نو پاکستان ور باندې سخت خپګان څرګند کړ.

نور سیندونه

د پنجاب له اوبو پرته دوه نور سیندونه داسې دي چې د پښتنو لپاره تاریخي ارزښت یې له پامه نشي غورځیدی. د ګومل سیندچې ځینې خلک ورته ګومله وایي ، د افغانستان له غزني ولایت نه سرچینه اخلي، له پکتیا ولایت را تیریږي ، یوه څانګه یې له کټواز نه را وځي او دویمه یې د دې نه څوارلس میله ښکته ورسره یو ځای شي. په ویدي سرودونو کې دا سیند د ګومتي په نوم یاد شوی دی. ددی اوبه قریباً یو سل او لس میله مزل وهی. د ګومل اوبه د جنوبي وزیرستان د صوبه سرحد د ټانک ولسوالۍ په ګرداوي کې د کرکرهنې لپاره کاریږي او په کلاچي کې د دامان نه تیریږي . وروسته د ګومل اوبه په کجورۍ کې د ژوب له اوبو سره یوځای او په پای کې د ډېره اسماعیل خان نه شل میله جنوب کې په اباسین ور ګډیږي.

یو بل تاریخي سیند د کرمې (کورمی) سیند دی، د دې اوبه د سپین غر د جنوب نه را وځي. د پکتیا نه په تیریدو پاړه چنارد پېواړ درې نه تیریږې او د کوهاټ سیمې ته را وځي، وروسته د بنو له میدانه تیریږي او اباسین ته ځان ورسوي. په رګ وېدا کې دا سیند د کرومو په نوم یاد شوی دی. د کرمې سیند قریباً دوه سوه میله مزل وهي اود دې اوبه تر ډېره د اوبه خوړ او د کرکیلې لپاره کاریږي.

پاچا او ملنګ

د سلېمان د غرونو په لړئ کې د اوسني ډېره اسماعېل خان ښار په لوېدېځ کې د غرو لمنې خاص دامان نومېږي او همدلته يوه وړه دره اوس هم د درابن په نوم يادېږي.دا دره دولس مېله پلنه او يوه وېشت مېله اوږده ده، يو مهال يې ځمکه شنه او له ونو ډکه وه. دلته هغه وخت واړه واړه کلي و چې په کې لس دولس کورنيو ژوند کاوه، هر کوريوه کوټه لرله چې د غره په ډډه کې به جوړه وه. د دېوالونو د پاسه به يې د لرګيو چت و چې په کې د لوګيو د وتلو لاره جوړه شوې وه. د کوټو دروازې به نه وي او د شپې به يې په ازغنو بوټو او لويو دړو بندولې.په ژمي کې به د کوټې په منځ کې اور بلېده او خلکو به د پسو په وړيو کې ځانونه تاوول او د اور چاپېره به وېده شول.د رڼا لپاره به يې د ځلغوزو د ونو شونټې کاروله چې په غرونو کې ډېرې کېدلې.

په پنځلسمه پېړۍ کې دلته د متې خېلو سروانيانو چې نېکونه يې د غور نه ورغلي و ډېره و. دوی د لودي ټبر سره خپلوي لرله، خلک يې ميانه قد، قوي غړي اوخړې غټې سترګې يې لرلې. سړيو به د کمېس پرتوګ د پاسه يوه توره شړۍ له ملا تاووله او بله به يې په اوږو غوړوله. د څرمنو څپلۍ به يې په پښو وې او يو ثوګزه سپين کتان به يې د پټکي په توګه د سر نه تاوکړي و. ښځو تر ډېره تورې کوچېانۍ جامې کولې. سروانی مشرانو د ملتان وربښمن لونګۍ په سرولې، عام خواړه يې د جوارو ډوډۍ، کوچ او کروت ووخو کروت يوازې هغو خلکو خوړی شو چې پسونه يې لرل د غنمو ډوډۍ يې يوازې په اختر او برات کې خوړله. د دوئ په ځنګلونو کې به د زېتونو ونې هم وې چې د هغې زېتون به يې وچول او خوړلو لپاره به يې په اوبو کې وېشوول. د ځنګله

نه به یې انار هم را شکول او د توتانو ونو خو به ورله هر ډول توتان ورکول، ځلغوزي هم ورته ډېر رسېدل.
سروانپانو تر ډېره کروندې کولې او د للمې په ځمکو کې به یې جوار او غنم کرل. دوی د شپانو په راکړه ورکړه خپلې اړتیاوې پوره کولې، د لور په سر به یې ولور نه اخیستو او کله به چې لوڼه یې ودولې نو پسول(جهېز) به یې ورله ورکاوه. دوی خپل ټول کارونه په خپله کول او خدمتګاران یا غلامان یې نه لرل.
په سروانیانو کې د دیني ازدکړو شوق تر نورو قبایلو ډېرو او په څوارلسمې میلادي پیړۍ کې د دراېڼ په ډېرو کورنیو کې لوستي خلک موندل کېده چې د ځېنو شهرت خو یې آن خواوشا سېمو ته هم رسېدلي و. په دوئ کی شېخ سلېمان دانا، شېخ ملي، شېخ احمد نوموړنه دیاد وړ دی. یو وخت د تصوف په تذکرو کې د دراېڼ د صوفیانو او اولیاوو نوموړنه له ډېرشو واوختل.
د پینځلسمې میلادی پیړۍ د ۱۴۳۰ کال تېر شوی دی. دا هغه وخت و چې له پښتنوسیمو جوپه جوپه ځوانانو د بهلول لودي په لښکرکې د جنګ لپاره ځانونه شاملول. د شېخ صدرالدین پلار شېخ احمد سرواني په دراېڼ کې د ژوندي پېرپه نوم شهرت لرلو. د ځوئ زړه یې غواړی چی د اسلام رڼا د پنجاب سیمی ته خپور کړی او له بوې قافلې سره د اباسین، چناب او راوي د سېندونو پورې ولاړ. د پټیالی سره نږدی د ستلج د بوی وبالی په غاړه په یوه وړوکي کلي کې یې واړول چی بهومسی یا جهومسی نومېدو.
شېخ صدرالدین د ورځې کارمزدوري کوي او شپه په عبادت رڼوي. لږه موده وروسته دلته د مالېر (ملېر) په نوم بو نوی ښارګوټی ابادوئ. د هند پاچا بهلول لودی ورته خپله لور په نکاح کوئ او ده ته د صدر جهان خطاب ورکوئ.
وروسته د شېخ صدرالدین او د مالېرد ابادېدو په اړه تاریخ په بوداستان بدل شو. په دی اړه د حیات افغاني لیکوال واي."هغه وخت د مالېر ښېې ښاني هیڅ موجودی نه وې خو د جهوم په نوم یو کوچني کلي کې د شیخ صدرجهان

عبادت ځای موجود و او په هغه وخت کې یوه ضعیفه مسلمانه ښځه چې د مالي قام نه وه هلته لا پخوا اوسېدله. دغه ښځه لومړی د شیخ معتقده او بیا یې مریده شوه. کله چې صدرجهان د سلطان بهلول لودي د لور سره نکاح وکړه نو دلته یې د یو کلي د جوړولو نیت وکړاو د مالي د نوم سره یې د (ر) توری چې د رب لومړی توري دی یو ځاې او له همدې امله په دغه ځای د مالېر نوم کېښود".

د هندي سرچینو له مخې دا ځای د ملېرسنګه نومې راجه لخوا د ځښتو جوړ شوی کلا نوم وچې ملیرکړ نومیده. صدرالدین د بهومسي نومې کلي کې په یوه جونګړه کې اوسیدو چې ملیر ته نژدې وه دا کلا د لرغونو وختونو نه ورانه وه خوکله چې د صدرالدین د جونګړې شاوخوا خلکو ژوند پیل کړ نو د دې پخوانی نوم مالېر(ملیر)هماغسې د خلکو په ژبه پاتې شو. مالي قام په پنجاب کې میشت و او د دوی په نوم ملتان ښار اباد شوی وو چې لومړی مالستان، مولستهان او بیا مولتان شو.

د مالیر په اړه د خلکو یوه بله مشهوره کیسه هم شته، دا چې یو وخت د ستلج سیند نه راوتلی ویاله د شیخ صدرالدین جونګړې ته ډېره نژدې بهېده یوه ورځ شیخ د سیند په اوبو کې د پښې د وینځلو لپاره چې خپله پښه (پایزار) وویسته نو هغه ترې په اوبو کې لاهو شوه، له خولې یې را ووتل چې "ځه نو زما له پښې سره ته هم ورکه شه" له دې خبرې نه یې مطلب اوبه وې. له هغې راهیسی د ویالی اوبودمالېر کوټلې نه خپله لاره بدله کړه او اوس له دې ځای سل کیلومټره لېرې بهیږي، دا خبره رښتیا ده چې د ستلج سیند اوبو خپله لاره بدله کړې وه خو د پنجاب ځینو سیندونو د وخت په اوږدو کې ځوواړې د اوچ کالئ او سېلابونو له کبله خپلې لارې بدلې کړې دي.

د بهلول لودی سره د شېخ صدرالدین د لیدنې په اړه هم د ده عقیدت مندان یوه کیسه کوئ. دی یوه شپه د خدای په ذکر بوخت و بهرسېلی را الوځی، د

ده د جونګړې ډېوه نه مړه کېږي. بهلول له خپل لښکربېلیږی او لاره ورکوی.
په دې تورتم کې ددې جونګړې بله ډیوه د بهلول لپاره حیرانونکې وه، خو ده د
شیخٍ صدر الدین سرواني په تندي د پوهې او تصوف نښې لیدې، هغه ته یې
وویل دعا راته وکړه چې د ډیلی پاچا شم او په زړه کی واېې که زه د هندوستان
په تخت کښېناستم نو صدرالدین ته به خپله لور ورکوم. شیخ ورته دعا کوئ
او بهلول چې د خپل لښکر سره یوځای شونوملګروته یې داکیسه وکړه.
څوکاله وروسته چې دی د ډیلی په تخت کښیناست نوشیخ صدرالدین ته یې
خپله لورتاج المرصا په نکاح کړه. د لور په پسول کی بې ورته دولس کلي د
جاګیر په توګه ورکړل چې د شپږو نومونه یې داسی وو، مالېر،برناله، پهول،
امرګړ، لونګه وال او اسلوه.
د صدرالدین د اوسني زیارت شاوخوا او په خپله په مالېر کوټله کې د هغه
وخت په اړه داسې کیسې نوری پوښتنی پېدا کوئ. که د مالېر په نوم ځای
موجود نه وو نو دا څنګه امکان لري چې بهلول لودي دا د لور د پسول په
دولسو کلیو کې شامل کړو. د مالېر کوټله ځینې خلک دی خبری ته د شک په
سترګه ګوری چې ګوندی هغه دروېش وو. دوئ باور لری چې صدرالدین د
بهلول لودی د ېو قوماندان ځوئ ووځکه په تاریخ کی داسی هیڅ ببلګه نشته
چې یو پاچا دی خپله لوربو دروېش ته په نکاح کړی وی. خو ددی خبری د
امکان لپاره به پخپله د بهلول لودی شخصییت ته وګورو. داسې ښکاري چې
بهلول په اولیاو ډېر باور لرلو.
د پټیالې نه دولس مېله جنوب لوري ته د سامانه لرغونې ښاریه ده. د دولسمې
پیړۍ په وروستیو کې دا په لومړي ځل شهاب الدین غوري ونیوله او دلته یې
یوه پوځي چاونۍ جوړه کړه دا هغه مهال و چې د دین د تبلیغ لپاره به صوفیان
له افغانستان نه هلته ورتلل. یوه ورځ بهلول د قطب خان(چې وروسته د ده یو
امېر شو) او خپل تره ملک فېروز سره سامانې ته روان وچی یو ملنګ ورته

مخې ته راغی. دی سید انام یا سید ابن انام نومېدو (مرقع افغان- او طبقات اکبری) ملنګ ورته وویل " په تاسو کې څوک شته چې د ډیلی پاچایي په دوو زرو سیکو واخلي؟" بهلول سره شپاړس سوه سیکې وې. ده هغه ملنګ مخې ته کېښودې او ورته یې وویل "نورې نه لرم" ملنګ پیسې واخیستې او ورته یې وویل پاچاهي تا ته مبارک شه . په لاره کې خپلو ملګرو ورپورې ټوکې ټکالې کولې چې پېسې یې وبایللې، بهلول ورته په ځواب کې وویل که د ملنګ وینا ریښتیا وي نو بیا مې ارزانه سودا کړې ده او که نه د یو ملنګ خدمت مې وکړو، دا هم ثواب لري .
بهلول لودي د عالمانو او دیني بزرګانوډېردرناوی کاوو. ده په لاهور، ملتان او دیپال پور کې دیني مدرسې هم جوړې کړې وې. دده ځوئ سکندر لودي هم خپله یوه لورشاه عبدالجلیل ته یې واده کړې وه چې لقب یې چوهړبندګي و.
شاه عبدالجلیل د بهاول پورنه دیپال پور (پاک پټن) او بیا لاهور ته ولاړواو د ملتان او لاهورپه مېنځ کې د غوریانود وخت ښارچې کوټ کروړنومېږي، میشت شو. دلته د شاه عبدالجلیل په لاس د راجپوت هندو قام ډېر خلک مسلمانان شول. شاه عبدالجلیل هم د صدرالدین په شان خپله روزي په خپله ګټله، غنم به یې په خپله په مېچنی اوړه کول. د ده په ارادت مندانو کې شیخ موسی آهن ګر او شیخ زین الدین غازي شامل وو.
د مالېر کوټله د نوابي کورنۍ په تاریخ کې لیکلی دی چې بهلول خپل زوم صدرالدین په خپل دربار کې د قاضي په توګه ټاکلی و نو ځکه د ده لقب صدرجهان د ده د شهرت سبب وګرځېد. بهلول لودی د خپلې لور په پسول (جهېز) کې شپږ پنځوس نور کلي هم صدرالدین ته ورکړل او درې لکه روپۍ د کال نغدې به یې د خرڅ لپاره ورلېږلې .
د مالېرد تاریخ نه وړاندې به د دې سېمې د نورو مشهورو ځایونو تاریخ ته وګوروچې نومونه یې بیا بیا یادېږي. د پنجاب دا سېمه دوآبه په نوم یادېږي او

علت يې دلته د دوو سېندونو راوي او د ستلج اوبه دي. سلطان بهلول لودي کله چې د هندوستان پاچا شو نو په دې کلونوکی بې شمېره پښتانه د سليمان د غرونو او نورو ځايونو نه د پنجاب په لورې و لاړل، په دې سېمه کې د پښتنو ميشتېدل د لسمې پېړۍ راهيسې پېل شوي وو. د"افغان نوبيليتي او مغل" نومې کتاب لېکونکی ريتا جوشي وايي"د پټيالې په خواوشا د افغانانو داسې بې شمېره مېشت ځايونه موجود وو، دوی ځمکه وال وو او کر کرونده يې کوله ځينې افغانان يواځې په ښارونو کې اوسېدل". د دې لېکوالې خبره رينښتيا ده ځکه چې اوس هم په ختيځ پنجاب کې بسی پټهانان(د پښتنو کلی) او د سلطان پورغوندې ښاريي شته چې پښتنو اباد کړي دي خو اوس په کې يو تن پښتون هم نه موندل کېږي. استاد رشاد په خپل کتاب (لودي پښتانه کې لېکلي" د سرهند په شاوخوا کې بهلول پور- يا بهلول پوره نومې ځای شته" او بيا د بابرنامې له نقله وايي"د بهلول پور کلا د چناب د سيند پر ژۍ په يوه لوړ مواقع ده".

د لاهور نه ډېلي ته تلونکي په لوی شېرشاهي سړک مالېر کوټله نه شل کيلو متره ختيځ کې د سرهند ښاريه ده چې د لويديځ لخوا ورتلونکو لپاره دا ځای يو مهم پړاو وو. د ملتان د لرغوني ښار په شان دلته هم يوه غونډۍ ده چې د پخوانيو وختونوراهيسی ورباندې يوه دفاعي قلا جوړه وه. په ۲۰۰ ق.م کې دا ځای د "ستودرا ديش" په نوم يادېدوچې وروسته" شيتوتو" شو، همدغه نوم د ستلج سيند لپاره هم کارېدو. د مېلاد نه وروسته دا ځای دافغانستان د کوشاني واکمنو لپاره هم يو مهم مرکز وګرځېد او په دوېم ميلادي پېړۍ کې دا ځای د هندو شاهي پاچايانو پلازمېنه وه. د لسمې ميلادي پيړۍ په وروستيو کې دلته راجپوت چوهان هندوان ميشت وو، خو د غزنوي او غوري تر حملو وروسته دا يوه پوځي چاونۍ شوه. وروسته د ډېلي د تخت ساتنې

لپاره د سرهند ساتل ضروري وګڼل شول. د دې ځای والي به پاچا پخپله ټاکلو او سرهند به چې د هر چا لاس ته ولوېدونو مهم برى به يې ګڼلو.
د ډېلي د سلطنت تر اخيستو وړاندې بهلول لودي د خلجي پاچا محمد شاه لخوا د سر هند والي ټاکل شوی و. بيا سلطان بهلول لودی خپل دوه زامن خواجه بايزيد اوشهزاده نظام(سکندر لودهي) پرله پسې د سرهند واليان ټاکلي و. بهلول خپله يوه لور چې سبحان نومېده د سرهند يووالي ته په نکاح کړې وه چې لقب يې مېر مېران و. د دوئ دواړو قبرونه د سرهند په شاهي هديره کې اوس هم شته او د سبحان د قبر په شناخته د هغې د مړينې نېټه ۹۰۱ هجري قمري او د ۱۱ صفرى مياشت ليکلې ده. خو د هند د عامو مسلمانانو لپاره په سر هند کې د شيخ مجدد الف ثاني زيارت مهم دی چې د اکبر پاچا د نوي دين (دين الهی) پر ضد يې مبارزه کړې وه او د سيکانو لپاره دا د ګورو ګوبند د ځامنود ياد ګار لپاره اهمييت لری چې د مالير کوټله په تاريخ کی يوه مهمه پېښه وه. دلته د افغانستان پاچا شاه زمان هم خښ دی.
دا چې ځايي راجاګانو صدرالدين ته څومره احترام لرو په ۱۴۵۸ م کې د کپور تهله د رياست نواب رائ بهرام بهادر بهټی خپله لور شيخ ته په نکاح کړه يعنې د بهلول د لورسره د واده نه څلور کاله وروسته صدرالدين دوېم واده وکړو. دا مېرمن د بهټياني جي په لقب وپېژندل شوه. او ښايي د راجپوت دود سره سم ورته په جهېز(پسول) کې کلی اوځمکی ورکړل شوی وي.
د شيخ صدرالدين درې زامن وو چې مشر يې حسن، دويم يې عيسی او دريم يې موسی او يوه لور وه چې د بي بي منګي په نوم يې پيژنو. خو د مالير کوټله د نواب کورنئ تاريخ ليکونکې عنايت علی خان ليکی د صدرالدين د لور هيڅ زکر نه دی کړی. دی حسن د تاج المرسا او عيسی او موسی د بهټياني ځامن ښاي.

د پینځلسمې پیړۍ په وروستیو کې شیخ صدرالدین خپله لوربي بي منګي د توهانه په یوې مسلمانې کورنۍ کې واده کړله. توهانه په ختیځ پنجاب کې اوس د هند د هریانې په ایالت کې شامله ده. ځینې سرچینې وایي چې د توهانه دا کورنۍ راجپوت وه او د غورېانو په وخت مسلمان شوی وه. د بي بي منګي اولاد نه لرلواو د واده نه پنځه کاله وروسته یې خاوند مړ شو. د خاوند ځلوېښتي یې چې پوره شوه نو خسرګنۍ ورته د دویم واده وویل. د هند راجپوت قام د کونډې په واده ټېنګکار نه کوي او په هند کې ځینې مسلمانان اوس هم د کونډې دویم واده یو عیب ګڼي خو داسی ښایي چې د بی بی منګی خسرګنئ ېا خو په اسلامی اصولو ټینګه وه او ېا ېېا د مزکی او د مال شخړه وه. کېدېشی بي بي منګي مجبوره کړې شوې وې چی د خپلې خوښې خلاف خپل لېور او یا په نژدې خپلوانو کې چاته په کښېني. هغې خپل پلار ته پیغام واستوو چې ځوک دی ورپسې راشي، صدرالدین خپل مشرزوی شیخ حسن ته وویل چې توهانې ته ولاړ شي او خپله کونډه خور ورسره راولي. حسن دا خبره و نه منله او ځرګنده نه ده چې د هغه د انکار سوب څه و خو داسې ښکاري چې پلاراو زوی ډېرې ورځې په دې تېرې کړې.
د مالېر کوټله د خلکو روایت دی چې یوه ورځ بي بي منګي په خپله کوټه کې ناسته وه ، د هغی خسرګنئ له خوا دوه جوړه جامې چې یوه یې سره او بله یې سپینه وه ورته راوړل شو چې باید یوه په کې خوښه کړي. د سری جوړې مانا د دویم واده منل او د سپینې مانا کفن و یعنې مرګ ته دی تیاره شي. یو روایت دا دی چې بي بي منګي سپینه جوړه واغوسته او د شپې په تیاره کې له کوره بهر ووتله. بهر ورته د پلار له خوا ورلېږلی کسان ناست وو، دا یې له ځانه سره کړه اومالېر ته یې را وسته. خولیکلی تاریخ وای چې شیخ صدرالدین کله چې د شیخ حسن نه ناهیلی شو، نو خپل دوه کشري زامن عیسی او موسی لور پسې واستول. دا چې دوی څنګه خپله خورپه خوندې ډول پلارکره راوسته په

دې اړه معلومات نه شته، خو شیخ صدرالدین د بي بي منګي په لیدو خوشحاله شو. اوخپلو دوو زامنو ته یې په دې الفاظو دوعا وکړه " دیغ (دیګ) تیغ (توره) فتح" یعنې رزق موډېر، په توره مو برکت او بریالیتوب مو په برخه شي. د مالېر کوټله خلک چې اوس هم چاته دوعا کوي نو همدغه درې ټکي یادوي. د بي بي منګي قبر په توهانه کې دی او څرګنده نه ده چې دا په کومو حالاتواو شراطو کی ببرته ولاړه، دوبم واده یې وکړو که نه؟

.لږه موده وروسته د صدرالدین دریم زوی شیخ موسی ناروغ او مړ شو، او د هغه هیلې په خپل وروستي زوی عیسی پوری وتړل شوی. . د شیخ صدرالدین د مړینې په نېټه کې د اوو کلونو توپیر لېدل کېږي، د ده په مزار**۱۵۱۵** میلادي کال او د تاریخ په پاڼو کې د ده د مړینې نېټه **۱۵۰۸** لیکل شوې ده. هغه د خپل مرګ پرمهال یې وصیت وکړ چې د ده ځای ناستی به د ده کشر زوی عیسی وي خو په دی وصیت د هغه په دوو زامنو کې د تربګنۍ داسې زړې وکرل شوچې دغه کورنۍ یې سره وویشله. د تېغ او د توری وضاحت د مالیرکوټله هغه خلک چی ځان ته منجاور وای داسی کوئ. د شېخ هغه ځامن چی دده امر یې ومنلو ورته د تېغ او د فتح دعا وشوه، دوئ نوابان شول او هغه چی د پلار امر یې ونه منلو هغه ته یې د دېغ (دېګ) دعا وکړه او د هغه اولاداوس دده په زیارت د پخېدونکو دېګونو له برکته ژوندی دی. یو ساده وضاحت چی خلک یې کوئ دا دی چی حسن د مسلمانی مېرمنې ځوئ و نودده اولادونه د صدرالدین د ذیارت منجاوران او د راجپوت مېرمنې اولادونه نوابان شول. خوکه حسن د تاج المرسا ځوئ و نو دې د هندوستان د پاچابهلول لودي لمسې او د سکندر لودي خورئ و. تاج المرصا به په دې خوشحاله نه وی چې د مشر زوی شیخ حسن حق دې وخوړل شي. د صدرالدین د وصییت تر مخه دجاګېر په اړه داسې پرېکړه وشوه چې د بهلول او سکندرلودی لخوا چې کومې ځمکې شېخ صدرالدین ته ورکړل شوې وې هغه

به ټول شیخ حسن اودده اولادونوته رسېږي. کومې ځمکې چې شیخ صدرالدین ته د دواړو مېرمنو تاج المرصا او بهټیاني په جهېز کې ورکړل شوې وې، هغه به د شیخ عیسی او دده د زامنو وي. په دی کی نه د نوابئ ، نه د منجاورئ او نه د یو یا بل ځوئ سره نا انصافي وشوه. د لودیانو په سلطنت کی دصدر جهان وظیفه په ډېلي کی یوه لوړه عهده وه. او د پاچا د پر تخت د کښېناستو مراسم دده په وېنا به پېل کېدل. پاچا به په مهمو فېصلو له ده مشوره کوله. خو د صدرالدین ددی رول او د هغه د ډېلي د ژوند په اړه هیڅ نه دي لیکل شوي.

ګورو او نواب

په ۱۴۶۹ میلادی کال د راوی سیند سره نږدی په یو وړوکی کلی تلونډی کی د هندوانو د کهشتری زات د یو دکاندارسېوا رام کره یو ماشوم وزېږېدو چی مور پلار ورله نانک نوم غوره کړو. سېوا رام شته من نه و خو د کلی خلکو ېې درناوې کوو.دلته د بهټي قام خلک د لودیانو پر وخت مسلمانان شوی وو. په کلی کی هندوانو او مسلمانانو په ګډه ژوند کووخو کله کله مذهبی شخړی به پېدا کېدی. هندوانو به مسلمانانو ته د ښکېلاک ګرو په سترګه کتل. نانک چی د وو کالو شو نو پلار د کلی په ښونځی کی داخل کړوخو ماشوم د الف په توری ښوونکی سره بحث پېل کړواو د خدائ د وحدانیېت خبره یې وکړه. د سېوارام په ګاونډ کی د یو مولوی سېد حسېن کور وو. هغه چی د نانک خبری واورېدی نو پوه شو چی دی ولی وو. هغه ته یې د اسلامی ازدکړی پېل کړی. نانک به زیات تره په نږدی ځنګل کی ځان ورک کړو. د نهو کالو په عمر کی مور پلار ورته د هندوانو د تار اغوستودودیزه مېلمستیا جوړه کړه. خو نانک د تاراغوستل رد کړل. دی چی د پینځلسو کالو شو نو پلاریي فکر وکړو چی د دکاندارئ ته یې را ووهځوئ. یوه ورځ یې ورله پېسی ورکړی او د خپل ملازم

بالا سره یو ځاې ور واستوو چی مالګه دی واخلی او په نږدی کلو بانډو کی دی خرڅ کړی. منډئ ته په لاره دوئ د ملنګانو د یوی ډلی سره مخ شول چی د ولوږې د لاڅه یې خبری نشوی کولی. نانک د ټولو پیسو ډوډئ واخیسته او ملنګان یې پری ماړه کړل. بیا یې ورسره مذهبی بحث وکړو. پلار یې خبر شو نو دده د وهلو لپاره یې لستوڼی راښکل. خو د کلی مشر رام بولارچی د نانک د درویشئ نه خبر وو له خپله جیبه ورله تاوان پورا کړو.
بهلول لودي په ۱۴۸۸ عیسوي کال کې د ۳۸ کالو او اتو میاشتو حکومت نه وروسته مړ شو. دده زوی نظام خان د سکندر لودي په نوم چې د ډیلي پر تخت کېناست نو پښتانه د پنجاب نه ور اخوا د هند ختیځ او مرکزي برخو کې خپاره شول. یو لوی شمېر پښتنوته د مالوی، بندېل کهنډ او نورو ته په بهار او بنګال کی مزکی ورکړی شوی. د پینځلسمې پېړۍ په وروستیئو کې سکندر لودي د دوآب شاوخوا د کوکر(کهو کهر) قبیلې د بغاوت ختمولو لپاره دوه سرداران یوسف خان او نهاند خان ور واستول. دوی د ستلج سیند په غاړه په یوه وړوکي کلي کې خپل پوځې لښکر تم کړ. . نهاند خان د سیند په ختیځه غاړه پاتې شو ،دلته د محمد غوري پر وخت یو وړوکی کلي اباد و چې په کې د هغه وخت یو جومات هم جوړ و.نهاند خان د دغه جومات چار چاپېره د یوه نوي ښار د ابادولوکار پیل کړ او دا یې لودیان ونوموو چې وروسته بیا لودیانه شو. د پنجاب په ځینو تاریخونو کې د نهاند نوم "نهنګ" لېکل شوی چې ګواکې دی دومره ظالم سړی و چې له خلکو نه یې په ژوندوني څرمنه وېستله او له همدې امله ورته نهنګ وایي.
د سیندپه لوېدیځه غاړه د سلطان پور لودی ښار اباد دی او په ځینو تاریخونوکی راغلی دی چی یوسف خان د ستلج نه پورې غاړې یعنې لویدیځ غاړې ته ولاړ او هلته یې د سلطان پور لودي په نوم د یو ښار بنسټ کېښود خو د سلطان پور لودی نومی ښار زکر د بولسمی پېړئ راهیسی شوی دی.. دا ښار

په لرغونی زمانه کی د سرومان پوراو په کوشانی سلطنت کی د یو لوئ بودهائ مرکز په توگه پېژندل کېدو. د سلطان محمود غزنوی په حمله کی دا ښار ویجاړ شو او بیا د دولسمی پېړئ په سر کی سلطان خان لودی چی د غزنوی دوری یو جنرال و، دلته یو نوی ښار اباد کړو. دا ښار د ډیلي او د پېښور تر مېنځ د تجارتی قافلو د لاری په سر وو نو ډېر ژر دپارلس کلومیټر پراخه شو. د ښار په مېنځ کی یوه ویاله بهېده چی کالی بین به یې ورته ویېل. په ښار کی د مساپرو لپاره سرایونه او په برابره فاصله حفاظتی میناورونه جوړ وو. یو وخت دلته ۳۲ بازارونه او د پینځو سوو نه زیات دکانونه وو. په څوارلسمې پېړئ کی دا د لوېدیځ پنجاب مرکزاوپه پینځلسمی پېړئ کی د لودی حکومت والی دولت خان به له دی ځایه دپنجاب پراخه سیمه اداره کوله. ښاي لاهور هغه وخت هم یو وړوکی ښاریه وه. د نانک پلار خپله لور د سلطان پور د یو تن جې رام ته واده کړی وه. ده د دولت خان لودي سره کار کوو. د ځوم په صلاح نانک ته یې په سلطان پور کی یووړوکی هټئ واخیسته. خو نانک د دکان هرڅه وېړیا خلکو ته ورکول. په نتیجه کی دکان بی له څه گټی تش شو. جې رام خپل بادار ته د نانک په اړه وویېل. دولت خان ده ته د سرکاری مودي خانې (خېرات خانی) مشری وروسپارله او داسی ښایې چی نانک په دی کار خوشاله وو. لږه موده وروسته پلار ورله واده وکړو او دده دوه ځامن ووزېږېدل. دولت خان لودي د نانک د درویشئ نه خبر وو او هڅه یې وکړه چی دی رسمی ځان مسلمان اعلان کړی. ځکه ده د اسلام په پېغمبر حضرت محمد صلی اله علیه وسلم هم ایمان لرلواو هغه یې ریښتونی نبي گڼلو. خو نانک د مذهبونو د مراسمولکه لمونځ او نورو عباداتوسره ځان نه تړلو. ده د سرکاری خېرات خانې نه دومره ډېر شېیان په خلکو وېشل چی د نورو چارواکوکینه یې راپاروله او هغوئ دولت خان لودي ته دده شکایت ووکړو. دولت خان د مودی خانی د سامان اود حساب جاج واخیستونو هر څه

ورته سم ښکاره شول. نانک ته یې درناوی ووکړو او نور اختیارات یې هم ورله ورکړل. خو سازشیانو څه موده وروسته بیا په نانک تور ولګوو چی سرکاری مال خپلوانو ته ورکوئ. د دولت خان په امر پلټنې ووشوې خو هر څه سم وو. له دی وروسته که څه هم دولت خان په نانک ټینګار ووکړو چی ورسره دی پاته شی، نانک دا نوکری پرېښوده. ده یو واری بیا د ملنګانو جامی په غاړه کړی او له کوره ووتلو. اوس له ده سره دوه نور کسان هم مله وو. یو مسلمان چی رباب به یې غږوو او مردان نومېدو ، بل هندو چی رام داس یې نوم وو خو خلکو به ورته بدها ویېل. نانک به په پنجابي ژبه کی صوفیانه شعر وویېلو نو مردان به ورله په رباب سر برابر کړواو زمزمه به یې کړو. دری واړه لومړی په پنجاب کی وګرځېدل، ورپسی کابل ته ولاړل. بیا د ایران د لاری ترکی او مکی معظمی پوری ورسېدل. د هغه ځای یوه پېښه داسی ده ، چی یوه ورځ نانک ویده وو اوکعبه ته یې پښی وی. د مکی قاضی رکن الدین وولیدو نو تری پوښتنه وکړه چی ولی یې د خدای د کور سپکاوې وکړو. نانک ورته وویېل که کولی شی نو زما پښی هغه لور ته تاو کړه چی خدای پکی نه وی. په واپسئ د افغانستان د شمال په خلم کی د نانک مسلمان ملګری مردان مړ شو. خو نانک د هغه مړی وسوځوو. بېرته پنجاب ته راوګرځېدو او اوس د مردان ځوئ سجاد ورسره شو. دا ځلی دوی ملتان او ورپسې کندهار ته ولاړل. په دی سفرونو کی د نانک نوم ووتلو او لوئ شمېر هندوان دده منونکی شول.

په ۱۵۱۷ کې سکندر لودي له نړۍ سترګې پټې کړی نو د پښتنود سلطنت زوال هم پیل شو. په ډېلي کې ابراهیم لودي د لیونتوب نښې څرګندولې او په هر څا یې شک کاو. خپل ډېر تکړه سرداران یې د همدې شک له امله یا ووژل او یا یې بندیان کړل، نور چې د ده با اعتماده امیران وهغوي یې تېښتې ته مجبوره کړل. آن تر دې چې خپل سکه ورور جلال خان یې لومړی بندي او بیا

يې وواژه. د نانک د منونکوشمېره مخ په زياتېدو شوه نوابراهيم لودي، دی خپل دربار ته را ووبللو. نانک هلته پاچا ته هم دروېشانه خبری وکړی خو پاچا ورله د بندسزا وټاکله. پښتانه اوس په ابراهيم نه راټولېدل. دا وخت د پنجاب والي دولت خان لودي مغل پاچا بابر ته پيغام استولی و چې که پر ډهلي يې حمله وکړه نو دی به يې ملګرتيا وکړي
د کابل نه مغل پاچا ظهيرالدين بابرخپلې لښکرې د اباسين نه پورې د دوآبې شاوخوا را ټولې کړې. او په ۱۵۲۲ ميلادي کال کې ابراهيم لودي په پاني پت په جنګ کی ماته وخوړه، هم هلته ووژل شواوهند د مغلو لاس ته ورغلو. نانک وو مياشتی په بند کی وواودبابرپاچا له خوا ورخوشی کړی شو. د نانک منونکی وای چی بابر د نانک سره وليدل او ده ته يې د شرابو د څښلو بلنه ورکړه خو نانک ورته وويېل چی د خداې د معرفت مستو ملنګانو ته د دنيا نشې نه وی پکاری. د بابر په ليکلی ياداشتونو کی د نانک زکر نه دی راغلی. د مغلو په دوره کی نانک چی اوس خلکو ورته بابا نانک او ګورو نانک ويېل، د هند نورو سيمو ته ولاړواو لوئ شمېرخلک دده پېرويان شول.
دی د خپل ژوند وروستي څو کاله د راوی سيند په غاړه يو کورکی وسېدو اوهم دلته د بی وزلو خلکو لپاره يې يو ځای جوړکړو چی هره ورځ په زرګونو خلکو به پکی ډوډئ خوړه. د ډېره بابا نانک په نوم دا ځاې اوس هم په لاهور کی شته. د سيند په غاړه ده د کرتار پور نومی يو ښار هم اباد کړوچي وروسته په سېلابی اوبو لاهو شو. نانک په ۱۵۳۸ کی د ۷۱ کالو په عمر کی له فانی نړئ سترګی پټی کړی. د نانک په مړينی د هندوانو او مسلمانانو تر مېنځ شخړه را پورته شوه. دوئ د هغه وروستي مراسم د خپلی عقيدی پراساس سر ته رسولی. دده مړی د يو څادر لاندی ايښی وو او کله چی څادر لری کړی شو نو هلته مړی نه وو. اخر څادر دوه ټوټی کړی شو. مسلمانانو دا څادر خښ کړو او هندوانو خپله برخه وسوځوو. نانک د ژوندپه وروستېو ورځو کې خپل بو

مرید خپل ځای ناستې ګورو وټاکلو چې لهنا نومېدواو وروسته د ګورو انګدپه نوم يې د نانک تعليمات خپرول. دنانک يو ځوئ لکهمی چند دنيا داره شو او اولادونه يې اوس هم شته. دوېم ځوئ سری چند د پلار په شان ملنګ شو، ده د وېښتو نه پرېکول، د توری چلول او د ځان د دفاع لپاره جنګی دود رواج کړو. په راتلونکو سلو کالو کی پنجاب د ګورو نانک د منونکو ټاټوبی شوچی سيک په نوم دی نوی مذهب پکی وده وکړه.
د ۱۵۲۲م د پانی پت په لومړی جنګ کی څرګنده نه ده چې د مالېر پښتانه شيخ حسن او شيخ عيسی د چا پلويان وو. شيخ عيسی په ۱۴۹۳ کې سون پت د راي صوبه خان لور را واده کړې وه او مشر زوی يې خان محمد شاه نوميدو، د شيخ حسن مشر زوی سليمان نومېدو. دواړو توربورانو په يوه وخت کې ملګرتيا هم لرله او تربګني يې هم پاله. د مغلود واکمنئ سره شيخ حسن چې لا تراوسه يې د پلار په بی انصافئ د مالېرله مشری لاس په سر نه و، دا موقع مناسبه وګڼله او د مغلو لخوا ټاکل شوي استازي (شاهي ګماشته) ته يې د خپل حق غوښتلو لپاره دعوه وړاندې کړه. په مالېر کې د شيخ صدرالدين د وصيېت د ټکي بدلول نا ممکنه خبره وه او شيخ عيسی د خپل ورور په دعوه دومره په قهرشو چې د ډېلي يو قاضي ته يې مخه کړه، هلته فيصله وشوه چې د وصيېت ټکي نه شي بدلېدی.
شيخ عيسی په ۱۵۳۸ م کې د شپېتو کلونو په عمر کې مړ شو او څلور څلوېښت کلن محمد شاه د پلار په ګدی کېناست، په دې وخت کې د ده لقب رئيس وو. که څه هم د مالېر ډېرې ځمکې د خان محمد شاه په لاس کې وې خو د ډېلي له لورې ورباندې يو چارواکې (مېرفېصلی) ټاکل شوی و چی د ماليي او نورو اداري کارونو څارنه به يې کوله. د شېخ حسن ځامنو ميرزا خان اوسلېمان د خپل تربور نه د بدل اخېستو لپاره يوسازش وکړو او مېر فېصلي يې وواژه. د مغل د يو چارواکي وژل قانوني جرم و او د ډېلي له لورې ددی

جرم سخته سزا وه. په دی کار نه یوازې دا چې د مېرزا خان او سلیمان ټولې ځمکې ضبطې شوی بلکې د صدرالدین ټولو خپلوانو ته هم له مالېرنه د وتلو امر وشو.

خان محمد شاه دټول ټبر سره یوځای د خپل نیکه دسون پت رای صوبې خان (چی دده د مورپلاروو) سره واړاوه خو ډېر ژر د هندوستان د سیاست یول بل لوبغاړې مېدان ته شو. د بنګال او بهار واکمن شېرشاه سوري د بابر پاچا زوی همایون ته چې د خپل پلاربابر له مړینې وروسته د ډېلي پر تخت ناست و، په ېو جنګ کی ماتې ورکړه او د هند پاچاهی ېو واری بیا د پښتنو لاس ته ورغله.

همایون د ایران له پاچا طهماسپ سره پناه واخېسته. خان محمد شاه د شېرشاه سوري لخوا ټاکل شوی د سرهند والي ته خپل خواست یوړ او په ۱۵۴۳ عیسوي کال کی د نذرانې د پیسې ورکولو نه وروسته او د شاهي پوځ د منصب په اخیستود مالیر رئیس وټاکل شو. په دی کار د نواب او د منجاور کورنئ سره ووېشل شوی. مېرزا خان او سلیمان هم د خپل نېکه ځمکو ته بېرته ور وګرځېدل خو اوس د سرهند والي د دوئ په ځمکومالیه اخېسته. ښائ هم له دی وخته دوئ د مزکه والو یا خانانو په توګه وپېژندل شول. محمد شاه د لودیانو، مغلو اودسوریانو دورې ولېدې او په دې سیمه کې دپرله پسې جګړو شاهد و. نوموړی د مالېر د رئیس په توګه د پاچا او د مرکزی حکومت سره اړیکی ټینګی کړی. دی په ۱۵۴۵ عیسوي کال کې ومړ او درې زامن محمد اسحق، شاه منصور او عبدالله یې پرېښودل. محمد اسحق د خپل غورنېکه په څېر یو مذهبي کس و. ده د خواجه معدود (مودود) په لقب شهرت لرلواو کله چې ده د خپل پلار پټکې په سرکړو نوهغه مهال د شېرشاه سوري زوی اسلام شاه حکومت کاوه.

د پنجاب وړې وړې سيمې اوس د سرهند له لورې اداره کېدې اود دې مشر د چکله دار په نوم د ډيلي له لورې ټاکل کېدو. خواجه مودود د خپل پلار ځمکې په برابر ډول په خپلو ورونو ووېشلې چې په نتيجه کی يې د دوئ په کورنۍ کې بی اتفاقي او جګړې رامنځ ته کړې. د ده دوو ورونو شاه منصور او عبدالله د سرهند له والي سره نيغ په نيغه اړيکې ټېنګې کړې چې په دې کارد يوبل پر ضد د سازشونو لړئ پيل شوه.

د سوري سلطنت په ډيوه کې تيل په خلاصيدو شول او په ۱۵۵۵عيسوي کال کې د بابر پاچا زوی همايون يو وارې بيا د ايران نه لاهور ته را ورسېد، د شېرشاه لمسی سکندر سوري د سرهند سره نژدې د هغه مقابلې ته را ووت خو په جنګ کې يې ماتې وخوړه. په دغه جنګ کې خواجه مودود بی طرفه پاتې شو، همايون بری وموند او يو وارې بيا د هند واکمني د مغلو لاس ته ورغله خوهمايون په ۱۵۵۲ ميلادی کال د شېر شاه له خوا جوړ شوی د ډېلي په پرانا قلا کی د شېرمنډل نومې ودانۍ له پوړيو په را پريوتو مړ شو نودده دولس کلن ځوئ جلال الدين د خپل پلار د پتمنو اميرانو په مرسته د دلي پر تخت کښېناستو.

خواجه مودود په ۱۵۲۲ عيسوي کال کې له فاني دينا سترګې پټې کړې او د ده د دوو زامنو فتح محمد خان او عبدالرزاق خان نه يې مشر زوی د مالېر رئيس و ټاکل شو. د فتح محمد خان د ورور عبدالرزاق دا هېله وه چې څرنګه د ده پلار خپلو ورونو ته په ځمکو کې برابرې برخې ورکړې وې، د ده وروربه هم داسې وکړې خو فتح محمد د نوي مغل واکمن اکبر پاچا د پېر د انتظامي چارو نه ښه ګټه اخېستل غوښته. فتح محمد خان خپلې ډېرې شاړې ځمکې کرنېزې کړې او د ماليې په چارو کې به يې د سرهند د چکله دار مرسته کوله.

په ۱۵۵۲ کی ګورو انګد مړ شو او دده بو مريد امر داس د ګورو په توګه وټاکل شو. تر هغه وخته هم د نانک پېروپانو د هندوانو ډېر رواجونه نه وو

پرېښي چي يو پکی د ستی رسم وو. امر داس د سيکانو لپاره ددی ممانعت ووکړو. خو ددی رواج د ختمولو اصلی عامل مغل پاچا اکبر گڼل کېږی. امر داس په ۱۵۷۴ کی مړ شو نودده ځوم رام داس يې پر ځای گورو شو او له دی وخته دا منصب موروثی شو. رام داس د اکبر پاچا په بلنه د ربار ته ورغلو او لکه چی د پاچا عادت وو د بېلا بېلو عقائدو د منونکو سره به يې مباحثی کولې، رام داس هم د نانک لاره ورته روښانه کړه. دا د اکبر پاچا سرپرستی وه چی رام داس په ختيځ پنجاب کی د سيکانو د لومړی ښار امرتسر د جوړولو کار پېل کړو. د نانک منونکو د پورا مذهبی جذبی سره ددی ښار په جوړولو کې مادی مرستی وکړی. او سيکان د لومړی ځل لپاره د يو قام او د قوت په توگه د هندوستان په تاريخ کې ووپېژندل شول. د رام داس ځوئ ارجن په ۱۵۸۲ کی گورو وټاکل شو او ده په امرتسر کی د اوبو تالاب او معبد جوړ کړو چي اوس د طلائ معبد په نوم يې پېژنو. د شپاړسمې پېړئ وروستی کلونه په هند کی د شورشونو شاهد وو.اکبر لا ژوندې وو خو په مغل کورنئ کی د اکبر د ځوئ سليم او د لمسي خسرو تر مېنځ د پاچاه کېدوسيالی پېل شوی وه. د خسرو مور او خسرگنئ راجپوت هندوان وو او دوئ د پوځ لوېه برخه اداره کوله.

په مالېر کوټله کی فتح محمد د يوښه واکمن په توگه را وځلېد ، او د سرکاري لقب له ورکړې پرته به خلکو نواب فتح محمد خان باله. د ده مېرمنه د جهال نومې کلي يوه راجپوته وه، دلته له تېرو دوو سوو کلونو راهيسې افغانان مېشت وو او ډېرو په کې د مالېر له افغانانو سره خپلولي لرله. خو فتح محمد خان د پنځوسو کلونو په سن کې هم اولاد نه لرلواو اخرد کورنۍ په غوښتنه يې د پنجاب د روپړنومې کلي د بوې افغانې کورنۍ جينئ را واده کړه چې خپلوان يې د مغل حکومت په لوړو عهدو(دندو) مقرر و.

په ۱۵۹۳ م کې د ده په کور کې یو ماشوم وزیږېد چې بازید خان ونومول شو، په دې وخت کې فتح محمد ۵۳ کلن و. دوه کاله وروسته دده بل زوی بهاول خان وزیږېدو خو فتح محمد خان د خپلو زامنو ځواني و نه لیده او په ۱۲۰۰ م کې یې له نړۍ سترګې پټې کړې.

مالیر او کوټله

نن د فتح محمد خان څلوېښتې ده، ټول خپلوان په مالېر کې راسره را ټول دي. د فاتحې او دوعا نه وروسته یو سپین ږیری پاسېږي، اووه کلن بازید خان ته د خپل پلار د مشرئ پټکې په سروئ او په هغه ګدۍ یې کښېنوي چې د مالېر د مشر لپاره ځانګړې شوې ده. د یوې پردې تر شا د بازید مور دا هرڅه ویني، څو ورځې وړاندې د هغې په کاله یو برهمن راغلی او د بازید په اړه یې وېلي و چې دی به لکه د لمر په اسمان وځلېږي. د دواړو وروڼو (بازید او بهاول) د زده کړو لپاره ښوونکي وټاکل شول، د هغی پېر له دود سره سم دوئ د تورې وهلو، د اس د سپرلئ، غشې او نېزو ویشتل ازده کړل. له وړوکي عمر نه یې مورورته د انتظام، د خلکو سره د چلن او ناستې ولاړې ته پام کاوو.
په ډېلي کې ۱۲۰۵ کی د اکبر پاچا د مرګ نه وروسته د هغه زوی سلیم د جهانګېرپه نوم پرتخت ناست کښېناستو او دده ځوئ خسرو پروېز پنجاب ته ووتښتېدو. د پاچاهئ په هیله ده خپل تیت و پرک ځواک راټولوو. ده د سیکانو ګورو ارجن سره هم وولیدل او هغه ته یئ خواست ووکړو چې دده د بریالیتوب لپاره ورته دوعا ووکړی. داسی ښایئ چې ګورو ارجن د خسرو سره د پوځی مرستی ژمنه هم کړی وی. چې نتیجه یې دده لپاره ښه نه وه. د مغل پاچا جهانګیر د خزانی وزیر چانډو شاه نومېدو او ارجن د خپل سېاسی اغېز د زیاتولو لپاره د خپل ځوئ هرګووند د واده لپاره د هغه لوروغوښته. وزیر نه

ېواځی دا چی د ارجن خواست یې رد کړو بلکه د هغه سپکاوی ېئ هم وکړو.
وروسته چانډوشاه خپله فېصله واړوله او ارجن ته یې ښه سوغاتونه ور
واستول. خو ارجن داهر څه ددی ځواب سره ببېرته ولېږل چی اوس که د ټولی
دنیا شته منی هم ورله ورکړی نو دی د هغه لور نه غواړی. وزیر په دی
سپکاوي په قهر شواو د بدل اخیستو لپاره یې جهانګیر پاچا ته لمسون پېل
کړو. پاچا د خپل نافرمانه ځوئ هرملاتړی ته سزا ورکول غوښته. چانډو شاه
ته یې اجازه ورکړه چی ارجن ته دی پخپله سزا ورکړی. ګورو ارجن په لاهور
کی وونیول شو او په بندی خانه کی شکنجه او هم هلته د مرګي د مرض د لاسه
مړ شو.
د ارجن وروړ پرتهی مل غوښتل چی د خپل ورارہ هر ګووېند پرځای دی پخپله
د سیکانو مشر شی خود قام وګړویې مخه وونیوله. ګورو ګووېند د پلار د
بدل او د وولس لپاره د وسلی را ټولول او د هر سیک لپاره جنګی تربیه لازمه
ووګڼله او ورو ورو د امن او د صلح پر ځاې ددی مذهب منونکی سیکان د اور
پکو او د جنګیالو په توګه یو ځواک شول. دی پخپله د جهانګیر پاچا په پوځ
کی د یو عسکری سردار په توګه ورګډ شو او ېو وخت د خپل پلار قاتل چانډو
شاه ګوتو ته ورغلو نو په پښه کی یې ورته پړی واچوو او د ښار په لارو کی یې
په راښکلو راښکلو ووژلو.
د یووېشتو کالو په عمرکی بازید خان د یو پوخ سیاست وال او پوځي په توګه
د مالیر د مشر دنده په غاړه واخېسته. له رئیس کېدو سره سم هغه د شیخ
صدرالدین کورنۍ پر ځان را ټوله کړه. خپلو تربورانو او شاوخوا کلیو کې
مېشتو پښتنو ته یې بلنه ورکړه چې تربګنۍ دې شاته کړي او د مالېر په
جوړولو کې دی ورسره لاس یو کړي. ده په لومړي ځل د مالېر لپاره یو پیاوړی
پوځ جوړ کړ او د پوځیانو په روزنه کې یې خپله هم ونډه اخېسته. د سرهند د
چکله دار سره یې د ځمکو او د پرګنو د مالیې چارې دومره قوي کړې چې هغه

به د ده مشورې منلی. خوپه کورنئ کی دننه د تربور ولئ او د وړو وړو شخړو د هوارولو کار دده مخه نیوله چی په مالېر کی د پر مختګ څه کار ووکړی.
په ۱۲۲۸ میلادی کال کی جهانګیرپاچا مړ شونو دده ځوئ خرم د شاه جهان په نوم د ډېلي پر تخت کښېناستو. هغه خپل مشر ځوئ دارا شکوه د پنجاب والی وټاکلوچی په لاهورکی ووسېدو. داراشکوه پخپله یو متقی کس وو او د دروېشانو سره به کېناستو پاسېدو. ګروهرګووېند دده نږدی ملګری و.
سیکان د یو پوځی قوت په توګه د مغل سلطنت لپاره د خطر بوه الامه وه او شاه جهان غوښتل چی ددوئ زور مات کړی. هغه د مخلص خان په مشرئ وو زره پوځ پنجاب ته ور واستو او د امرتسر سره نږدی په لومړی ځل سیکان او مسلمانان د جنګ لپاره یو بل ته مخامخ شول. مسلمانانو سخت جنګ وکړو خو ماته یې وخوړه. د داراشکوه په مېنځګړتوب روغه وشوه او هر ګوویند د بل جنګ د مخ نیوی په هوډ د خپلو جنګیالو سره د ستلج سیند نه پینځلس میله لری دجنوب په ځنګلونو کی ژوند پېل کړو. څه موده وروسته د هرګوویند یو ملګري د شاهی طوېلی نه دوه اسونه غلا کړل او د پاچا قهر یې راو پارو. مغلو بیا پنجاب ته لښکرورواستو او بیا یې ماته وخوړه. سیکان په دی بریالیتوب ډاډه شول، د ځنګله نه راوتل او په کرتار پور کی مېشت شول خو دوئ د یو لوئ جنګ لپاره څه موده ځانونه غلی وونیول.
د هرګوویند یو پښتون ملګری پېنده (پاېنده) خان نومېدوچی ده ورته ورور ویېل. د هر ګوویند د ځوئ سره یو باز وو چی پېنده خان ته یې ورکړی و. بوه ورځ دا باز والوتو او ورک شو. د ګورو او د پېندا خان تر مېنځ خبری ورانی شوی او د ګورو په کېږدئ کی ولاړو ځینو سیکانو پېندا خان ووهلو. پېندا خان د بدل اخیستو په موخه د شاه جهان دربار ته ورغلوچی سمدلاسه یې ورله پوځ ورکړو او د سیکانو سره یې د دربم جنګ لپاره ور واستو. د جنګ په مېدان کی څو ورځی توری برېښېدی او دواړه غاړی په مېړانه وجنګېدې. اخر

هرگووېند او پېندا خان ېو په ېو د جنگ مېدان ته ورودانگل. پېنده خان د هر گووېند په توره ووژل شو. **مغل** پوځ د **خپل** سردار په وژنې جنگ ووبابللواو د هر گووېند د مېړانی کیسی هری خوا خپری شوی. مغلو ډېره هڅه وکړه چی دی ژوندی وونیسی خو بریالي نشول. په **۱۲۴۵** کی دی مړ شو او د ده د وصیېت سره سم دده لمسې هر رائ گورو شو. هررائ د **خپل** نیکه په پرتله امن غوښتونکی و.

په مالېر کې چې کله بازید خان **خپل** خپلوان ځان ته را نژدې کړل نو ډېر د ده په کور اوسېدل، د صدر الدین ټبر اوس ډېر شوی وو. او د اوسېدو کورونه پرې تنگ شول آن تر دې چې په **۱۲۵۳** م کې د بازیدکشر ورور بهاول خان د **خپل** ترېور سلطان خان لخوا د کور په سر ووژل شو، بازید خان د یوې لویې قلا د جوړولو لپاره د ډیلي چارواکو ته درخواستونه کول او ټولوخپلوانو ته یې ډاد ورکو چی دی به ډېر ژریوه پخه قلا جوړوئ خو د ورځو د تېرېدو سره د هغه مشکلات زیاتېدل. **مغل** حکومت د هند ټوله خاوره د پاچا ملکیېت گڼله او هر چا به چې د یوه پوخ کور ودانۍ او کلا د جوړولو هوډ وکړ نو حکومت نه به یې اجازه اخېسته، پایله یې دا وه چې ولسي خلکو پاخه کورونه نه شوای جوړولي او خامو کورونو کې به اوسېدل. یوه ورځ د بازید خان یو ترېورهغه ته دا پیغور ورکړ چې ترڅو ستا قلا جوړېږي موږ به مړه یو. د بازید لپاره دا پیغور یوه ننگونه وه، ده د سرهند د چکله دار نه یو لیک واخیست، په روپړ کې د **خپل** ماماخېلو په سفارش د ډېلي دربار ته ورغلو چې د پاچاامر واخلي.

شاه جهان پاچا اوس ناروغه و او دده د دوو ځامنو دارا شکوه او اورنگزېب تر مېنځ د تخت لپاره مبارزه پېل شوی وه. په دې وخت کې اورنگزېب **خپل** پلار او خورجهان ارا د اگرې په کلا کې نظر بند کړي و او د **خپل** مشر ورور دارا شکوه پسې لاهور ته روان و چې د تخت وارث شي. دارا شکوه د هر رائ

مرسته تر لاسه کړه خو داورنگ زېب ځواکونو دارا شکوه ووژلو اود هغه سر يې ورته راوړو.

. مغل پاچا به په دوبي کې کشمير ته تلو او په لاره کې به د پنجاب راجاگانو د ده امنېت نېولو ، د مالېرد پوځ يوه ډله به هم د انبالې نه د شاهي لښکر سره مله وه او دا به يې د ستلج ترسينده بدرگه کاوه. په لاره به د شاهي کورنئ غړو ښکار کو. بازيد خان په ځوانۍ کې څو واری د شهزاده اورنگزيب سره د ښکار پر وخت ملگرتيا کوله. د پنجاب دغه سيمې په ځنگلونو پټې وې او په کې هر ډول وحشي ځناور پيدا کېدل. يو حل اورنگزيب دلته پړاوو اچولی و چي يو زمری شاهي خېمې ته نژدې ورغی. بازيد خان سم د لاسه پخپلی توری دا زمری وواژه. افسانه ويونکي واي، د ده همدغه کار د اورنگزيب خوښ شوی وي چې په مالېر کې ورته د بوې کلا د جوړولو امر ورکړ. خوپه اصل کی بازيد د دارا شکوه سره په جنگ کې د اورنگزيب ملا تړ کړی و او کله چی اورنگزېب لاهور ته په لاره د امبالې، سر هند ، لودياني او روپړنه تېرېدو نو د مالېر ځواک هم ورسره د لاری ملتېا کوله. او ښېا د ستلج سيند نه پورې وتلو کی يې ورته لاره ښودله.

اورنگزيب په خپل مرام کې بريالی شونو په ډېلي کې پر شاهی تخت د کښېناستو په موقع يو لوی دربار جوړ کړ، بازيد خان ته يې د سيف الملک او د اسدالله د القابو او نواب د خطاب سره د قادر اباد او نوان گاون پرگنۍ د جاگېر په توگه ورکړې او په همدې موقع هغه ته د بوې کوټلې او د ښار د جوړولو اختيار ورکړل شو. اورنگزېب د سيکانو گوروهر رائ هم ډېلي ته راوبللو ، خو هغه خپل مشر ځوئ رام رائ ته ېو ليک ورکړوچی پکی د خپل ځان په اړه بئ ليکلی و چی دی يو ملنگ سړی دی او د خپلی جونگړی نه به پاچا ته دوعا کوئ. اورنگزېب په دی ليک ارامه شو خو د ضمانت لپاره يې رام رائ په خپل دربار کی ووساتلو او ښه چلند يې ورسره کوو.

په مالېر کی بازید خان په ۱۲۵۷ میلادي کال کې د مې په میاشت د محرم په لومړۍ نېټه د ښاراساسی تېږې د ایښودو ورځ و ټاکله. د دې لپاره یې دوه شخصېتونه را وبلل چې یو یې صوفي بزرگ عالم شاه فاضل چشتي او دویم یې د هندوانو یو بېراگي سادهومهاتماشام دهمودهرو. ده شاه فاضل ته خواست وکړ چې په دغه نوي ښار کې د خلکو د مېشتېدو دوعا وکړي، شاه فاضل د اوبو یو ډک منگی را وغوښتو. وایي چې بازید خان دا کار په خپلو لاسونو وکړ، له کوهي نه یې اوبه را وویستې منگی یې ډک او شاه فاضل ته یې ورکړو. شاه فاضل د قران څو ایاتونه تلاوت کړل او بیا یې ورته وویل چې دا اوبه د سیمې ټولو کوهېانو کې لږې لږې واچوه او ورته یې وویل هر هغه څوک چې کوټلې ته راځي همدلته به مېشت پاتې کېږي. په سر کې د بازید خان د کلاد بنیاد تېږه کېښودل شوه، د دې کار لپاره هغه د تېرو دوو کلونو راهېسې مواد را ټولوو. دا ښایي چې بازید خان د ښار نقشه له وړاندی لرله. ځکه په یو کال کې د ده کوراو بل کال ته د مالېرکوټله د کلا جوړول پوراشو.
ښار په څلورو برخو وېشل شوی و چې د بازید خان د څلورو ځامنوپه نومونو یادېدل، فېروز، حسېن، سروراو اختیار. د ښار د قلا دیوال درې مېله اوږد و، مستطېل شکل اوځای ځای یې دڅارنې برجونه لرل. په دی کی اووه دروازی وی چی لاهوری، کابلي، ملتاني، سرهندی، سونمي، ډېلیاوکشمیری نومېدی. دې سره مالېر کوټله د یو مکمل ښار بڼه خپله کړله او د لومړي ځل لپاره د دې اوسېدونکو په پخو کورونو کی ژوند پېل کړو.
د سیکانو گورو هر رائ په ۱۲۲۱ کی د مړینی پر وخت خپل کشر ځوئ هری کشن د گورو په توگه وټاکلو چی ماشوم و. په دی فېصله په مغل دربار کی رام رائ سخت په قهر شو. دی او هری کشن د بېلو بېلو مېندو ځامن و. هری کشن اورنگزېب ته خپله دعوی وړاندی کړه او پاچا امر وکړو چی هری کشن دی د هغه دربار کی حاضر کړی شی. اورنگزېب د هری کشن په لیدو د هغه د پوهی

او هوښيارئ نه متاثره شو. او اعلان يې وکړو چی هم دی به د سيکانو گورو وی خو ماشوم هری کشن د چيچک په مرض اخته شو او د ژوند هيله يې ختمه شوه. دده منونکو تری د راتلونکی گوروپه اړه وپوښتل نو ده د خپل تره تېغ بهادر نوم واخيستو. د هرگووېند دا ځوئ د پلار د مړينې پروخت ماشوم و او د هغه د وروستئ مېرمنی اولاد و. هم له دی وخته سيکان په دوو ډلو ووېشل شول.

بازيد خان له مغلو پرته په گاونډ کې د راجپوت او سيکانو سره هم ښې اړېکې وساتلې. په نابېه، جيند او بټاله کې هغه مهال د پهول سنگه کورنۍ واکمنه وه چې وروسته ببا د پهولکيان سرکار په نوم يې شهرت پېدا کړ. د گومتي را جه سردار چېن سنگ و چې ښه انتظامي صلاحيت يې لاره. د بازيد خان په وينا د سر هند چکله دار له هغه سره سلا مشورې پېل کړې، د بازيد خان په سفارش د مغلو لپاره به د پنجاب د دې ځنگلونو حاصلات او محصول پهول سنگ را ټولول چې خپله برخه به يې هم په کې اخېسته. له دې کار سره د چېن سنگ په زړه کې کينه او حسادت پېدا شو. يو کال سخته وچکالي وه او پهول سنگ له خپلو ځمکو ډېره گټه ونه کړه چې په پايله کې د ماليې ډېرې پېسې ورپورې شوی. چېن سنگ همداسې موقعې په لټه کې و، د سرهند چکله دار چې ماليه ترلاسه کوله هغه ته يې وويل پهول سنگ ته د ماليې پېسود ادا کولو موده (مهلت) مه غزوه، که ډېلې درباندی بد گومانه شوه نو ممکن دا عهده درنه واخلي. په دې خبرې چکله دار د پهول سنگ د نيولو او په بند کې د اچولو امر وکړ.

بازيد خان چې خبر شو نو د خپل ملگري د راخوشې کولو لپاره سملاسي سرهند ته ولاړ، له هغه ځايه يې د ده لپاره پروانه ترلاسه کړه خو په لاره کې خبرشو چې پهول سنگ په بندي خانه کې مړشو. بازيد خان د ده مړی واخېست، پټيالې ته يې يوړاو د هغه خپلوانو ته يې د وروستي مراسمو لپاره

وسپاره. په ځينو تاريخونو کې راغلي چې پهول سنګ د مرګي په مرض اخته و او د بې هوشۍ چپه به ورباندې راتله، دی روغ و خو د مړي ګمان پرې شوی او په اصل کې ژوندی و. انګريز تاريخ لېکونکی ګريفن په دې نظر دی چې پهول سنګ د هندوستان د سادهوانو نه هغه هنرزده کړی و چې سړی تر ډېرې مودې ساه بندولی شي او خلک پرې ګمان کوي چې دی مړ دی. هغه د بندي خانې نه د تېښتې دغه لاره پېدا کړې وه.
د نواب بازيد خان دوه مېرمنې وې، لومړۍ يې د بهمنانو له کلي نه وه چې په پنجاب کې دی او په ځينو تاريخونو کې د بهمن په نوم داسې اندازه شوې ده چې هغه بهمن شهزادګۍ وه (بهمني سلطنت په ګجرات او احمدنګر کې جوړو) او دوېمه مېرمنه يې د کپور تهله اوسېدونکې وه. د بازيد خان پنځه زامن و چې مشر فېروز خان په ۱۷۵۹ کې د پلار د مړينې وروسته نواب شو.
تېغ بهادرخېل ټول ژوند د بهار په ايالت کې په سختيوتېرکړې و. خود سيکانو د مذهبي مشرپه توګه اوس ده سره يو زر سپاره عسکرو او په کرتار پورکې يې د خپلو مريدانو په پېسو يوه لويه کلا جوړه کړې وه. ده به په کلا کې دربار لګوو. اخوا اورنګزيب پاچا په هند کې د توری په زورد اسلام خپرولو ته بډې وهلې وې، امرېې وکړو چې تېغ بهادر دې د خپلې کورنۍ سره وونيول شي اودده دربار ته يې حاضر کړي. په ۱۷۷۵ کې دی لومړی سرهند ته او بيا دهغه ځايه د اوسپنې په پنجره کې بند ډېلي ته ورسول شو. هلته دی د جې پور د راجه په کور کې ايسار کړی شو. راجه دده د ضمانت هڅه وکړه خو پاچا تېغ بهادر ته د اسلام په دين کې د داخلېدو ووېل. د ده په انکار جلاد د پاچا په امر دده سر پرېکړو. دده ځوئ ګوبند نومېدو او تېغ بهادرد خپلې ګرفتارئ پر وخت هغه د ګورو په توګه نومولې و. وروسته ده د بهارپه پټنې کې ژوند پېل کړواو د هندو مذهب د لويو پنډتانو نه يې ديني ازدکړې وکړی.
د بهار صوبه د اورنګزيب د ورور شجاع په لاس کې وه، خو هغه د دې د انتظام

نه عاجز و او ډېر ژرپه کې د مرهټو مشر شیواجې سر را پورته کړو چې له څو کالو راهیسې د مغلو پر ضد په چریکي جنګ بوخت و. اورنګزېب به ددی جنګونو لپاره لوئ شمېر پوځ وراستولوچی د مالېر کوټله ځوانان به هم پکی شامل و

نواب فېروز د پلار په شان مالېر کوټله ښه اداره کړه، خو څلور کاله وروسته مړ شو او د ده مشر زوی شېرمحمد خان په ۱۶۷۲ م کې د مالېر کوټله نوابي ترلاسه کړه. دی د خپل نیکه بازید خان تر سیوري لاندې لوی شوی واو په اوولس کلنۍ کی یې نه یوازې دا چې په پوځي مهماتو کې ګډون کوو بلکه د مغل پاچا اورنګزیب د ښکار لپاره تابیا هم کوله چې پکی په زرګونو کسان، اسونه، هاتیان او سامان د یو ځای نه بل ته وړل کېده.

د شېر محمد نوابي د مالېر کوټلې لپاره یو ډېر مهم پړاو و. د اورنګزیب په مخالفت د هند په ډېرو برخو کې بغاوت روان و، د مرهټو سربېره سیکان هم د هغه د سختې مذهبي تګلارې پر ضد را پاڅېدلي و. نواب شېر محمد خان د مرهټو سره جنګ لپاره د مغلو لخوا بهارته ولاړوچی ددی ایالت لویه برخه یې نیولې وه. په دی وخت کی د مالېر کوټله چارې دده ورور خضرخان په مخ بېولی. شېرمحمد د یوه غښتلي پوځ مشري کوله او د بهارد بیا نیولولپاره یې دومره مېړانه وکړه چې اورنګزېب ورله په پنجاب کی اویا کلي په جاګیر کې ورکړی. په دې وخت کې د بازید خان دوو نورو زامنو حسېن خان او اختیار خان هم ځان ځان له پوځي ډلې او په خپلو سیمو کې پخې قلاګانې جوړې کړې وې اود مغل پوځ په ملاتړ جنګېدل.

د بهار د کمپاین نه په راستنېدو شېر محمد د خپل نوي جاګیرپه انتظام لاس پورې کړ،او د جبوال په کلي کې یې یوه پخه کلا جوړه کړه. دا ځای د شېر پور په نوم مشهورشو او اوس د پټیالې په ضلع کې شامل دی، دلته ځینې پخوانۍ قلاګانې اوس هم شته. د شېر پور د ابادولو نه وروسته نواب شېر

محمد خان نورکسان وروزل او خپله جنگي ډله یې لا پیاوړې کړه. دی یو واری بیا ډیلۍ ته را وبلل شوخودا وارد هغه خدمتونه د پښتنو د یو باغي سردار پر ضد په کارو.
د بدایون په ولسوالۍ کې د روهیله پښتنو یو مشرعلي محمد خان مغل واکمن ته د مالیې ورکولونه ډډه وکړه اود بغاوت بیرغ په پورته کولو ډیر ځواک یې موندلي و. دوئ سره د جنګ لپاره نواب شیر محمد خان د مغل پوځ مشری کوله او په دوو جنګونو کې روهیله پښتنو ته یې ماتې ورکړه ، علي محمد خان د خپلو یو شمیر پوځیانو سره لاس تړلی ډیلي ته راوستل شو. شیر محمد خان د دې بریالیتوب په بدل کې د پنجاب نهه مهم ځایونه چې پکی لودیانه، روپړ، ماچې واړه، پائل او بابیان شامل و، د جاګیر په توګه ترلاسه کړل. ددی سربیره د اورنګزیب له خوا یوه توره ، یو اس د شیر بهادردخطاب سره یې ترلاسه کړل او د سرهند د نایب چکله دار دنده هم ورته وسپارل شوه.
د بدایون زیاتره پوځیان چې بندي نیول شوي و هندوان و، د پاچا په امردوی شیر محمد ته وسپارل شول چې مالیر کوټلې ته یې را وستل، دوی یې مسلمانان کړل او ځمکې یې ورته ورکړې. وروسته چې کله شیرمحمد د مالیر کوټلې لپاره سرکاري پوځ جوړو نو زیاتره همدغه خلک په کې شامل و، دوی ته به یې د شیر محمد چیله ویل. اورنګ زیب د غلام لپاره د چیلا ټکیې د کارولو امر کړی و. د چیلیانو کوڅه په مالیر کوټلې کی اوس هم شته.
د هند په لر او بر کی جنګونه روان واو مغل خزانه په تشیدو وه. په ۱۶۷۲ م کې اورنګزیب د جنګ لپاره د پیسود پوره کولو په تکل شو، هغه د هند د نامسلمه خلکولپاره د جزیه ورکولوقانون جوړکړوخو په دې کارهغه د هند په ګوټ ګوټ کې د خلکو قهر او غصه را وپاروله او څه لږ ډیر خلک چې ورسره و هغه هم ترې خپه شول.

په دکن کې د مرهټه شیواجي په مشرۍ لا پخوا څو وارې بغاوت شوی وخو اوس په پنجاب کې سیکانو د ګوروګوبند په مشرۍ د بغاوت اور بل شو.
د جزیې نه پرته اورنګزیب د پلو محصول هم وټاکلو چې تجارت او سوداګرۍ ته یې یو لوی ګوزارورکړ. له یوې صوبې نه چې بل ته تجارتي مالونه لیږدول کېدل، سوداګر به مجبوره و چې په هغې مالیه ورکړي، په دی کار سیمئیزو زوره ورو ځمکه والو، پخپل سرمالیه اخیسته، سوداګرو به د خپلې ګټې نه زیاتې پیسې په مالیواو محصول ورکولې، هغوی چې مالیي به یې نه ورکولې مالونه به یې ځمکه والوضبط کړل. په داسې وخت کې زیاتره کاروبار د هندوانو او سیکانو په لاس کې واو په دی کارتر ټولو زیات تاوان دوئ ته ورسېدو. اورنګزیب د خپل ژوند پنځه ویشت کاله په دکن کې له مرهټو سره په جنګ جګړې کې تیر کړل او پاتې ژوند یې د سیکانو په سرکوبۍ پسې را واخیسته. د سیکانو روحاني مشر ګوروګوبند سنګ چې د خپل چریکي جنګ له لپارې په پنجاب کې د لوټ تالان، چورچپاول او د وېرې اچولو لپاره متې را نغښتې وی، د عامو سیکانو یو لوی پوځ جوړ کړی و چی مغلو ته به یې ځانی تاوان رسوو.
د سر هند چکله دارد ده سره د جنګ لپاره د عسکرو دوه لوې ډلې انند پورته وروا ستولی چې ګوروګوبند په کې خپل سنګر نیولې وخومغل پوځ ماتې وخوړه. اورنګزیب د دې خبر په اورېدو په قهر شو د لاهور والي او د جالندهر او د سرهند چکله دار ته یې امر وکړ چې خپل خپل پوځ ته حرکت ورکړي او د سیکانو د ماتولو لپاره دې خپل ټول وسایل په کار واچوي، ده د ګوروګوبند د ژوندي نیولو امر وکړ. دا جګړه تر اتو کلونو روانه وه او څومره چې مغل د سیکانو په ماتولو کې پاتې راتلل اورنګزیب ورته هماغه هومره ټکنې کیدو آن تر دې چې اورنګزیب خپل زوی مراد د لسو زرو عسکرو سره پنجاب ته ور ولېږلو. د سرهند او د جالندهر چکله دارو یو وارې بیا خپل پوځ ور برابر کړ،

د دې ټول ځواک شمېر څلوېښت زره و. شهزاده مراد لاهور ته ولاړ او په ۱۷۰۲ کال کې په انندپور یوه بشپړه حمله پیل شوه. په دې کې د نواب شېرمحمد خان پنځه زره سپاره او پلي عسکرهم شامل و چې مشري یې دده ورور خضر خان اوتربور ناهر خان کوله. د دې ځواک مشرانو په ګډه دا مشوره وکړه چې دوی به انندپور د هرې خوا نه کلابند کړي چې د بهر نه د رسېدو ټولې لارې ورته وتړي.
په دې اوږدې محاصرې د ګورګوبند ملاتړې د ولږې او تندې له لاسه ورو ورود سیمې نه په وتلو شواو په اخره کې د ګورو ګوبند سره یوڅو پټمن ملګري پاتې شول. دوی نه غوښتل چې ژوندي د دښمن لاس ته ورشي ځکه چې د اورنګزیب پاچا نه یې د ښه سلوک توقع نه لرله.
ځینو سیک مورخینو لیکلي چې په دې بد حال کې هم ګورګوبند د تېښتې لاره نه خپلوله خو خپلو ملګرو ورته وویل چې که ژوندي پاتې شوې نو له بله ځایه به خپله مبارزه جاري وساتو. یو بل ځای لیکلي دي چې کله د ده نه پنځه ویشت زره د مجهیل ډلې سیکان بیل شول نو ګوروګوبند په انندپور کې خپل ځان خوندي نه ګڼلو، هغه خپل دوه زامن چې یو یې زوره ور سنګ او بل فتح سنګ نومېدو د شپې د قلا نه له خپلې مور سره یوځای وویستل او دوی په یوه وړوکي کلي کهېرې کې د یوه برهمن په کور کې پناه واخیسته چې ګنګا نومېدو. ګوروګوبند د خپلو څو ملګرو سره انندپور نه ووتلو او چمکور ته یې ځان ورساوه. په بل سحر چې مغل پوځ خبر شو نو په شاوخوا کلیو کې یې ورپسې لټون پیل کړ، لټون کوونکي د مالېر کوټله اود سرهند پوځیان و، دوی د چمکور کلا د دننه حال نه، نه و خبر چې څومره کسان په کې دي، اود یوې لوې حملې فیًصله یې وکړه.
د شېر محمد خان ورور ناهر خان د ځینو پوځیانو سره د کلا دیوال ته اندرپایه (پارسنګ) ولګوله او په خپله وربادې وخوت. کله چې بره ورسید نو

وربانديږ چا د يو کاڼي ګوزار وکړ، دی په سر ولګيد او د لرګيڼي اندرپايي نه لانديږ را ولويد، له ديږ سره يو ځای د ده په سينه او تندي کيږ يو شمبېرغشي خښ شول او د بيږ هوشۍ په حال کيږ له هغه ځايه وويستل شو.
د ده تربور خضر خان د جګړيږ قومانده پخپل لاس کی واخيسته او دی هم ووژل شو. نواب شېر محمد خان د خپلو دوو وروڼو او تکړه قوماندانانو په وژنيږ سخت خواشينی شو. ګوروګوبند په هغه شپه د چمکور د کلا نه هم وتښتېد او د مچهي واړيږ په کلا کيږ ييږ مورچه ونيوله. بل خوا د هغه مورله خپلو دوو تنکيو لمسو سره د ګنګا برهمن په کور کيږ وه، دوی په اسونوورغلي واو د هراس له زين سره ځوړنديږ خلتيږ د روپو او د سرو زرو ډکيږ ويږ. ګنګا دغه هر څه ترېنه غلا کړل او فکر ييږ وکړچيږ که دوی مغل واکمن ته وسپاري نو ډېر انعام به ترلاسه کړي، هم په هغه شپه ييږ چارواکوته ددوئ حال ورکړ.
مغل پوځ ډېر ژر دغه دريږ واړه ونيول او د سرهند چکله دار ته ييږ حاضر کړل چيږ وزير خان نومېدو او د کنج پوری پښتون و. هغه په ماشومانو زور راوړ چيږ که مسلمانان شي، نو دوی به وژغورل شي او پاتيږ ژوند به په ارامه تېرکړي. دوی ته د انندپور ټول جاګير د ورکولو ژمنه وشوه او داچيږ دوی ته به لوي انعام او القاب ورکړل شي، خو هلکانو هېڅ وعديږ ته غاړه نه ايښوده.
په ديږ موقع نواب شېر محمد خان د ماشومانو د راخوشی کولو هلی ځلی پېل کړی، وزېر خان ورته وويل خو ورځيږ وړانديږ ستا دوه ميړني وروڼه د دوی د پلار لخوا ووژل شول او اوس ستا واردی چيږ خپل بدل واخليږ، خو نواب شېر محمد خان په ځواب کيږ وويل زما وروڼه د جنګ په تود ميدان کيږ شهيدان شول او زه به د خپلو وروڼو بدل يوازيږ د جنګ په ميدان کيږ اخلم خو په هېڅ حال د دوو بی ګناه ماشومانو وينی نشم تويولی، دا مېړانه نه ده چيږ خپل لاسونه دی د دوو ماشومانو په وينو سره کړم. د پلار د کړنو بدل د هغه له

ماشومانو نه اخيستل غلط کار دی، اصلي مېړانه د لاس تړلو بنديانو وژل نه، بلکه له دوی سره رحم کول دي. بيا يې وويل که د دوی پلار هم لاس تړلی د يو بندی په توګه د ده مخې ته را وستل شي نو دی به د هغه نه هم بدل نه اخلي.
نواب شېرمحمد خان په بېړه مغل واکمن اورنګزيب ته د احتجاج يو ليک ورواستاوه چې په کې د ماشومانو د ژوند د ژغورنې غوښتنه شوې وه.
د دې ليک يوه برخه داسې وه " سره له دې چې هېڅوک هم د واکمن له امر نه سرغړونه نه شي کولی چې د مرګ په شان به يې مني خو د عالي حضرت د سلطنت وفاداره نوکران دا مناسب ګڼي چې د عالي جاه پام ورته واړوي.
داسې به وويل شي چې د ځېنو مهمو سياسي فيصلو تر مخې او په تېره کې د سيکانو د نا مناسبه فعاليتونو په رڼا کې دې، دې قام ته هره سزا که ورکول کېږي هغه به سم کار وي. خو د عالي جناب يوورړوکی او وفاداره ملازم داسې فکر کوي چې دا به په هيڅ ډول د سلطنت او د ستر قدرت د اصولو سره سمه خبره نه وي چې د ټول ملت غچ دې د دوو معصومو او بې ګناه ماشومانو نه واخيستل شي، چې د خپل کم عمرله کبله د باقدرته منصبدار په وړاندې هيڅ نه شي کولی. داسې قسمه عمل په ښکاره د اسلام او د اسلام د پيغمبر د اصولو خلاف دی. د عالي حضرت دا غلام وېره لري چې داسې يوه ناوړه عمل به د پاچا په انصاف او عدل يو تور داغ وي"
نواب شېرمحمد خان په خپل ليک کې له اورنګزيب دا غوښتنه هم وکړه چې دا دواړه ماشومان دې په ډېلي کې خپل دربار ته را وبلي چې ښه تربيه واخلي او د سلطنت او د پاچا وفاداره شي. که داسې نه کېږي نو دواړه ورونه دی هغه ته وسپارل شي چې په حرکاتويې نظر وساتي او بيا د حکومت خلاف پاڅون ونه شي کړی. په اخره کې يې دا هم وليکل چې که پاچا د ده وړانديز نه مني نو بيا هم دې(نواب شېر محمد خان) دا خپل فرض ګڼي چې رښتيا ووايي او له

رښتیا ویلو نه دی ډډه ونه کړي. سیکان د شېر محمد دا کار" ها ده ناره" (یعني د احتجاج غږ) په نوم یادوئ.
کله چې دواړه ماشومان د وزیر خان له لوري ووژل شول (د سیکانو تاریخ وائ چې ژوندی یئ په دیوال کی خښ کړل) نوګوروګوبند ترې خبر نه و او نه یې داسې اټکل کووچې له زامنو سره به یې داسې ظالمانه چلند وشي، نوموړی له مچهي واړې نه په پټه رای کوټ ته ولاړ اوهلته د ځامنو د قتل نه خبر شو. کوم کس چې ورته خبر راوړی و ، له هغه یې پوښتنه وکړه چې داسې کوم کس نه و چې د دا ډول ظالمانه عمل مخنیوی یې کړي وای، هغه ته د نواب شیر محمد خان د هڅواو اورنګ زېب ته د هغه د احتجاجی لیک په اړه وویل شول. ګورو ګوبند هم هغه وخت دواړه لاسونه پورته کړل او هغه ته یې دعا وکړه چې" د هغه نوغی دې تل شین وي" سره یې دا هم وویل " اوس به مغل سلطنت زوال وکړی" دی یو څه موده په مکهو وال کی پټ و او یوه ورځ یې موقع پیدا کړه چې د چمکورکلا ته ولاړ شی ده سره اوس پینځه ملګری پاته اوڅو میله تللی و چی دوه پښتانه، نامی خان او غنی خان ورباندی پېښ شول چی ګورو ګوبند یې وپېژندلو. دوئ د پېسو په بدل کی ګورو ګوبند او دده ملګری بهلول پورته ورسول چی پکی د ګورو یوایرانی معلم قاضی پیرمحمد وسېد اودوئ ته یې په خپل کورکی پناه ورکړه. د ګوروګوبند زوراوس مات شوی و او دی د څه مودې لپاره د پنجاب په غرنیو سېمو اوځنګلونو کې پټ وخو اورنګزیب اوس هم نا ارامه و او ټولو منصبدارانو ته یې امرکړی و چې د سیکانو په حرکاتو دې نظر وساتي.
د سیکانو له دې ماتې سره شېر محمد خان ته نورامتیازات ورکړل شول، د سرهند چکله دارد ګوروګوبند په لټه یو بل لښکر د حملې لپاره تیار کړاو نواب شېرمحمد خان ته یې هم بلنه ورکړه خوهغه اوس د سیکانو په وړاندې له کوم ګام پورته کولو ډډه وکړه. دی د ګوروګوبند د زامنو په وژنې له زړه نه خپه

شوی واو اوس له هغه سره جګړه ورته یوعبث کاربنکاریدو ، بله دا چې د هغه پوځ په ځنګلونو کې د چریکي حملو لپاره تیارنه واو دریمه دا چې د ګوروګوبند له لوري یې ځان ته دوعا یوه نېک نیتي وګڼله او نه یې غوښتل چې دا دوعا دې په ښیرا بدله شوې وای.
ګوروګوبند او د هغه ملګرو د بدل اخیستو قسم کړی واو په ۱۷۰۲ میلادي کال دوی د پنجاب د ټولو مسلمانانو په ضد د جنګ نغاره و ډنګوله. ډېر ژر د سیکانو دولس زره لښکر تیار شو. په دې موقع دوی مالېر کوټله او رای کوټ دواړه خوندي سیمې اعلان کړی. د دی دوه علتونه و ، یوه دا چې د نواب شېرمحمد خان چلند او د ګوروګوبند دوعا وه او بله دا چې د مالېر کوټله په ټولو کلیو او بانډو کې شل زره پوځ د جنګ لپاره تیار ولاړو او سیکانو د دوئ د جنګ زور نه لاره. هغه مهال د نورو سیمو مسلمانانو په مالېرکوټله کې پناه اخیستې وه. د سیمو کمزوري واکمنو د ځان ساتنې لپاره سیکانو ته پېسې ورکولې او یا به یې ځمکې او کلي دوی ته وسپارل.
د نواب شېرمحمد خان په اړه انګریز تاریخ لیکونکی سرلیپل ګریفن د چمکور د جنګ یوه پېښه بیانوي. په دې جنګ کې نواب یوه سیکه ښځه انوپ کور په زوره ونیوله ، هغه یې مسلمانه کړه او بیا یې ورسره واده وکړ. دې مېرمنې وروسته ځان ووژلواو په مالېر کوټله کی یې خاورو ته وسپارله. د سیکانو کوماندان بیدی صاحب سنګ څو کاله وروسته د دې مېرمنې د جسد د اخیستو لپاره د شېر محمد په کلا حمله وکړه، د دې مړی یې را وویست او د سوځونې لپاره یې یوړ.
د مالېر کوټله نواب افتخار خان د دې پېښې په اړه وایي چې د دوی د کورنۍ په تاریخ کې د دې مېرمنې هېڅ ذکر نه دی شوی او نه یې د چا له خولې اوریدلي دی نو کیدای شي چی سیکانو د حملي لپاره یوه پلمه غوښتله. خو د چمکور د جګړې په اړه د هند نامتو تاریخ لیکونکی ډاکټر ګنډا سنګ لیکي،

کله چې د گوروگوبند سنگ د نیولوهلې ځلی کېدی نو د ده یوه خدمتگاره بي
بي انوپ کور د شیرمحمد خان لاس ته ورغله او هغه دا له ځانه سره یوړله خو
دې میړنۍ سیک میرمنې خپل ژوند د خپل دین اوعزت لپاره قربان کړ.
شېرمحمد دا په خاموشۍ په قبر کې خښنه کړله، بېدي سینگ د جنگ لپاره
مالېر کوټله ته نه وورغلی او په ښار یې هېڅ غرض ونه کړ. د بي بي انوپ کور
مړی یې له قبرنه را وویست او د سیکانو له مراسمو سره سم وسوځول شو.
د اورنگزېب ځوئ بهادر شاه چی د پنجاب حاکم و د گورو گوبند سره روغه
وکړه. اورنگ زېب په دی وخت کې په دکن کې و او گوبند ته یې یو فرمان
ورواستو چی که دی ورته حاضر شو نو انصاف به ورسره ووشی. گورو گوبند
د فرمان په تر لاسه کولو په فارسی ژبه د څوارلسو سوو قطعو یو نظم
وولیکلو چی پکی د خپلو بد بختیېو او د حالاتو زکر کړې و. سیکان دی نظم
ته ظفر نامه وایې. دا شعر یې د خپل ورور دیا سنگه په لاس دکن کی پاچا ته
ور وولېږلو. پاچا د شعر په ویېلو نورهم متاثره شو او خپل استازې یې گورو
ته ددی ډاډ سره بیا ور واستوو چی که دی دربار ته حاضرشو نوښه چلند به
ورسره ووشی. په ۱۷۰۷ کی گورو گوبند د پنجاب نه روان شو خو دی په لاره
و چی د اورنگزېب د مړینې خبر یې واورېدو.
په دکن کی د اورنگزېب ځوئ بهادر شاه خپل ځان د هند واکمن اعلان کړی و.
گوبند چی هلته ورسېدونو بهادر شاه ورته تود هر کلی سره د اسونو، هاتېانو
او قیمتی سوغاتونو سره د پینځو زرو عسکرو د ساتلو منصب ورکړو. په
دکن کی یو پښتون جمشېد خان ورسره ملگری شو. ده یو ځل د گورو په
فرمائش ورله اسونه واخیستل خو گوبند د پېسو په ورکولو ځنډ وکړواود
دواړو ترمېنځ خبری ورانی شوی اوتوری راویستل شوی، گورو پخپلی توری
دجمشېد خان سرپرېکړو. د سیکانو ځینی سر چینی وائ چی جمشېد خان د
گورو د وژلو لپاره د وزیر خان نه پېسی اخیستی وی او د هغه له خوا

وراستول شوی و. گوروگوبند په دی وژنه پښېمانه شوا و دجمشېد کورنۍ ته يې پېسی ورکړی خو د هغه ځامن د پلاربدل اخيستو ته د موقع په لټه و. يوه ورځ دوئ د هغه خوب کوټی ته ورننوتل او د گوروگوبند په خېټه کی يې چړی وووهلی. دده په چيغونور سيکان راټول شول، دوا ړه هلکان يې ونيول، د گورو خېټه يې وگنډله، ملهم پټۍ وشوه او دی له خطره ووتلو. گوبند د دواړو ورونړود پرېښودو امر وکړو، په دی چی هغوئ د خپل پلار بدل اخيستی و. دی د خپلو ټپونو د لاځه ځوورځی وروسته په ۱۷۰۸ کی مړ شوا و بنده بهادر يې خپل ځای ناستې ووټاکلو.

بنده بهادر په اصل کی يو هندو بېراگی و چی په دکن کی د گورو گوبند په لاس بېۍ سيک مذهب خپل کړی و. گورو گوبند د مرگ نه وړاندی ده ته سپارختنه کړی وه چی د وزير خان نه به دده د ځامنو بدل اخلی. بنده بهادر کله چی پنجاب ته ورسېدونو په زرگونو سيکان دده بېرغ لاندی راټول شول. او د شاو خوا د مسلمانانو په سيمو کی يې چور چپاول او وژنی پېل کړی. په پنجاب کې دا کلونه د وړومسلمانوریاستونو لپاره ډېر سخت و. سېکانو د سامانه او د سيهورا له لوټلو او ويجاړولو وروسته لويديځ او ختيځ هرې خوا ته تلل او څه چې به يې مخې ته راتلل يا به يې ورانول او يا به يې له ځانه سره وړل. بهادر شاه ځو وارې خپل پوځ پنجاب ته واستوو چې د سيکانو زورمات کړي او دوی کاميابه هم شول خو شېرمحمد په دغو جنگونو کې عملآ برخه وانه خيسته. کله چی سيکانو په سرهند د يولوئ حملې اعلان وکړونو وزيرخان هم مسلمانانو ته د جهاد غږ وکړو او په ډېلی کی بهادرشاه نه يې د مرستی غوښتنه وکړه. خو پاچا د سيکانو له خوا اوس د خطر احساس نه کوو. او ښايي دی ډاډمن وچې د دوئ زور اوس اوبه شوی و. خو په سر هند چپاو اوس د سيکانو لپاره يومذهبي فرض او د غچ اخيستو ناره گرځېدلې وه. د پاچا اندازه غلطه وه او سيکانو د سرهند په قلا يو ناڅاپی يرغل وکړو، وزير

خان يې ژوندی ونيولواو د ده انجام ډېر دردونکی و. دی يې د يو غوايي له پښو سره وتړلواوغوايي يې د سرهند په لارو کوڅو کې وزغلولو، وروسته دی يې مړژواندی په اورکې وسوځاوه. د مسلمانانو مړي يې له قبرونو راويستل ددوئ کورونه يې چورکړل ان تردی چی د ټول سرهند ښاريې له مينځه وړل غوښته خوبنده بهادرورته وويېل چی پخپله ښارڅه گناه نه وه کړی نودی ته تاوان مه رسوئ. که د چا زړه بدل اخېستل غواړی نوکله چی له دی ښاره تېرېږی نودوه خښتی دی اخلی او د ستلج په سيند کی دی اچوئ. د سرهند نه سيکانو ته په لوئ شمېر وسله او بارود په لاس ورغلل او ددی د تباهۍ نه وروسته د سيکانو قدرت نورهم زيات شو. مغلوتازه ځواک پنجاب ته ورواستواو دوئ يو وارې بيا سرهند ونيولو. نواب شېرمحمد خان يې د دې صوبه داروټاکه. په ۱۷۱۰ د مې په مياشت کی د چهپر چهيری نومی ځائ کی د حکومتی پوځ او د سيکانو تر مينځ سخت جنگ وونښتواو نواب شېرمحمد خان په دی جنگ کی خپل ژوند د لاسه ورکړو. له ده اته زامن پاتې شول چې مشر يې غلام حسېن ، نور يې جمال خان، مېرزاخان، عظيم خان، فتح خان، اکبرخان، غلام رسول او غلام علي خان و.

غلام حسېن د خپل پلار ځای ونيولوخوده د شيرمحمد په شان پوځي استعداد نه لاره او نه يې په دې بدو حالاتو کې څه سياسي اغېز لرلې شو. ده مالير کوټله په وړوبرخووويشله اويوه يوه خپل هرورور ته يې وسپارله چې له سيکانو سره مقابله وکړي. دی په خپله يو سوله خوښونکی کس و او د صدرالدين د کورنۍ کومو خانانو چې سرهند ته ماليه نه ورکوله د هغوی سره به يې د سولې او روغی جوړې له لارې ستونزې هوارولې. د مالير کوټله په سوېل کې د ګڼوځنګلونو سيمه د غلام حسين د ورور جمال خان په لاس کې وه او له دغه ځايه به يې د سيکانو د بريدونو په وړاندې دفاع کوله چې اوس يې زورترلاهوره رسيدلی و. د مغلو لپاره لاهوريومهم انتظامي مرکزو. بهادرشاه

له یو لوی لښکرسره د لاهور په لوری وخوځېد او د سیکانو سره د دوو مهمو جنګونونه وروسته یې هغوي غرونو او ځنګلونو ته وشړل. د تېښتی پر وخت د سیکانو جنګي ډلې د مالیرکوټله شاوخوا هم راماتی شوی. همدغه خطرو چې د مخ نیوی لپاره یې غلام حسېن په هر کلي کې د دفاعي کلاګانو د جوړولو امروکړخو سیکانو هغه وخت مالیر کوټله ته زیات تاوان ونه رساوه. د نواب ورونه د هغه له کمزورې پالیسۍ خوشحاله نه و، په تیره بیا جمال خان، چې د دښمن سره یې کلک جنګ غوښتو. ده یو ځلې د خپل مشرورورغلام حسېن سره ناندرۍ ووهلې، له هغه مرور شو، د خپل لښکر سره له مالیر کوټله نه ووتو او شېر پور ته یې مخه کړه. دی تر شپږو میاشتو له وروره مرور په کلي کې پروت و. میرزا خان اوعظیم خان هم د غلام حسین نه په خپګان خپلو خپلو کلیو ته ولاړل، خو نواب د دوی د پخلاینې لپاره هېڅ و نه کړل.
په مالېر کوټله کې اوس د دفاع لپاره قوی پوځ نه و، ښځې، زاړه او بي تجربي ځوانان د خدای په اسره پاتې شول. په دې وخت کې مالیر کوټله د یو بل ګوانډ سره مخ شوه. د اورنګزیب پروخت د بدایون د بغاوت مشر روهیله سردارعلي محمد خان د نواب شېر محمد خان نه ماتې خوړلې او بندي شوی و، د ده زوی عثمان یارخان د پلاربدل اخیستو لپاره د دولسو زرو پوځیانو سره په ۱۷ اکتوبر ۱۷۱۳ کې په مالېرکوټله د حملی لپاره روان شو.
نواب غلام حسېن د دې جنګ زور نه لاره، دی یو سوله خوښوونکی کس ونود عثمان یار سره یې د سولې په تړون خپله لور بلاقن بېګم عثمان ته په نکاح کړه او جنګ ونه شوخو د روهیلو په تاریخ کې لیکلي چې عثمان یار په مالیر کوټله حمله وکړه ، جمال خان د ده مقابلې ته را ووتو اوعثمان یار یې سولې ته مجبورکړو. دا خبره یقیني ده چې د مالیر کوټله د نواب لور روهیله سردار ته ورکړل شوې وه او په دې خبره د غلام حسین ورونه او په تېره بیا جمال خان ډېرپه قهرو.

اخواد ډېلي پر تخت کله د مغلو يوه شهزاده او کله بل کښېناستو. د شاهي ماڼۍ د سازشونو او د وژنو سلسله پراخه شوه او اخرفرخ سيئر پاچا شو.
د سيکانو د زورد ماتولو لپاره ده امر وکړ چې که هر چا يو سيک ژوندی ونيولو او د ډېلي دربارته يې راوړو نو هغه ته به انعام ورکول کېږي. د سرهند والي د ماليرکوټله د نواب غلام حسېن نه هم دا غوښتنه وکړه خو هغه دا کار غلط وګڼلو او په دې مخالفت د سرهند نه مغل لښکر په مالېرکوټله د حملی لپاره روان شو. جمال خان په دې وخت سخت جنګ ته تيار وخود غلام حسېن د روغې جوړې په پاليسئ دا جنګ و نه شو. دی ټولو حالاتو د غلام حسېن زړه د نوابۍ نه تور کړی و. يوه ورځ خپل ورونه يې را وبلل ، د ټولو په وړاندې يې د نواب پټکې د خپل وروړجمال خان په سر کېښود او په خپله يې ځان د نړۍ له کارونو ګوښه اعلان کړ. د هغه نورو ورونو هم په دې فېصله خپله خوښي څرګنده کړه. په دې فېصله د نوابۍ حق د غلام حسېن د زامنو نه جمال خان ته انتقال شو. د غلام حسېن نيمګړتيا دا وه چې اداره يې نشوه چلولې او ښه والی يې دا و چې د جنګ پر ځای د صلح لاره يې غوره ګڼله خو د هغه وخت د پنجاب په حالاتو کی د ځان ساتنی لپاره دواړه د پياوړی پوځ او سياسی بصيرت پکار و. دی يو صوفي و او د جنګ پر ځای يې د سولې، امن او روغې پلوي کوله. دده لوي په دی کی وه چی کله يې ځان د نوابۍ وړونه ليدونوژريې فېصله وکړه اونه يوائی واک يې خپل ورور ته وسپارلوبلکه خپلې شخصي ځمکې چې هغه وخت يې د کال نوې زره روپۍ حاصل ورکاوه ورونو ته پرېښودی او ځان سره يې يوازې پنځه کلي ووساتل چې خپل خرڅ لپاره يې کافي ګڼلې.

د ژوندو لاره

د ۱۷۱۷ میلادی کال هوا سړه شوې ده، د شېر محمد خان دوېم ځوئ جمال خان د نواب په گدۍ ناست او د کلا په دې لویه کوټه کې د صدرالدین د ټبر مشران را ټول دي. مالېر کوټله ته د جمال خان راتگ په عامو خلکو کې د خوشحالۍ سوب شوی دی، ټولو د ده تود هرکلی وکړ،او په یوه پرانیستې دربار کې یې د عامو خلکو په شوراو زورېد نواب وظیفه ترلاسه کړه.

جمال خان په یوه احساساتي وینا کې په ځوانانو غږ کوي چې د سیکانو په مقابل کې د ډېلي له حکومت نه دې هیڅ تمه ونه لري.

هلته مغل په بېلابېلو ډلوویشل شوی ، د تخت په سریو بل ته سازشونه کوئ او دامونه غوړوئ. د افغانانو مشران بیا هم په جمال خان ټینگارکوي چې د سیکانو په مقابله کې د مسلمانانو د ژغورنې لپاره دی له پاچا یوغښتلی پوځ وغواړی. جمال خان دا خبره مني خو ټولوځمکه والو ته د اسونو د شمېرې د زیاتولواوځوانانو ته د جنگي تربیې، تورې، غشې او نېزې د ا یشتلو د ازدکړی امرکوي. غلام حسېن له دنیا سترگې پټې کړي او د ډېلي پرتخت مغل واکمن محمد شاه ناست وچی د د عېش او عشرت ژوند خوښوو اوعامو خلکو ورته د "رنگیلا" لقب ورکړی و. ده د حکومت ټول کارونه یې خپل مشر وزیر قمرالدین ته پریښي و.

سیکان اوس د پهول سنگ لمسي الا سنگ د بېرغ لاندې د دل خالصه په نوم را ټولیدل. ده د پنجاب د مالوې نومي کلي کې یوخپلواکه حکومت هم اعلان کړی واو له شاوخوا کلیو نه د مسلمانانو له شړلووروسته اوس مالېرکوټلې ته

سترگی خړی کړی وی. جمال خان د یو باتدبیره او مسلکي پوځي په څېر ټول حالات څارل، د خپل انتظام لاندې په ټولو کلیو کې دفاعي مورچې او کلاګانې او د هر کلي خلکو ته یې د منظم پوځ لپاره دندې وروبښلې وې. د کلي مشر د خطر پرمهال په یوه ټاکلي شمېر کې پوځیان را ویستل او هغو کلیو ته به یې استول چې سیکانو پرې بریدونه کول. دغو پوځیانو ته به د خپلې وردۍ (رسمي جامې) او اس ساتنې لپاره د میاشتې دوه روپۍ ورکول کېدې. د کلي مشر د پوځیانود کورنۍ د خرڅ لپاره په وار د خلکو نه غنم او نور شیان اخېستل. د دې پوځي تاکتیک او جنګ ته اماده ډلو له امله شاوخوا سیکانو په مالېرکوټلې له برید او حملې ډډه کوله او دیارلس کاله د دې سیمې مسلمانان په امن کې و. د بنده بهادرد وژنې نه وروسته سیکان په یولسو برخو ووېشل شول او د هری ډلی مشری د جنګیالو قومانداانانو په غاړه شوه. په سر کی دا ډلی د جنتهه په نوم یادېدی. ددی جنګیالو به په جنګونو کی لوټ شوی د غنیمت مال به مشر ته ورسپارلو. د هری ډلی مال به په دوسیه کی لیکل کېده او په دی به یې نوره وسله او د جنګ لګښت پورا کوو. دی دوسیې ته به یې مسل ویېل . او اخر دا نوم د ډلو لپاره به یې کاروو. د سیکانو د یولسو مسلونو نومونه داسی و. بهنګي، نشان والیه، شهید، رام ګړهیه، نکئ، اهلووالیه، کنهیا، کروړ سنګهیه، فېضل پوریه، دلوالیه، سوکهر چاریه، په دوئ کی تر ټولو قوی د جسه سنګه اهلوالیه مسل و چی د لوئ ځواک سره به یې په مسلمانانو حملی کولی. د هغه ملګری الا سنګه نومېدو.

په ۱۷۳۷ کې الا سنګ د افغانانو سیمې په رای کوټ د لوی شمېر سیکانو سره حمله وکړه. له ده سره زرګونه جټان مله و، دې جټانو به په چېغو او نارو د هرې خوانه په یو کلي چپاووکړو، په خلکو به یې وېره او ترهه ګډه کړه، چور تالان به یې پېل کړ او ورپسې سیکانو ډلو به پوځي حمله وکړه. د رای کوټ

په دفاع کې د جمال خان دوه ورونه غلام رسول او غلام علي ووژل شول، رای کوټ هم ډېر شمېرځوانان له لاسه ورکړل. د جالندهر پوځدار اسدعلي خان له دې پېښې وروسته د مغلو دمنظم پوځ سره دالا سنګ پر ضد د جنګ اعلان وکړاو په برناله کې دواړه ځواکونه یو بل سره ونښتل. سیکانو په پوره مذهبي جوش توري برېښولې او اخر بریالي شول. اسد علي په دغه جنګ کې ووژل شو او مغل واکمنو یو ځلی بیا په هند کې د مرهټو نه پرته د سیک ځواک نه د خطر احساس وکړ.

مغلو لا د سیکانو د مقابلې لپاره په خپلو کې سره صلاح مشورې کولې چې بل کال ته یعنې په ۱۷۳۸ کې د ایران نادر شاه افشارد یو لوي ځواک سره چې په کې د کندهار او شاوخوا سیمو افغانان شامل و، پنجاب کې لښکرې داخلې کړې. هلته د دوی د مقابلې لپاره د مغلو پوځ ډېر کمزوری واو په یو لنډ جنګ کی د مغلو دبرش زره پوځیان ووژل شول. نادر شاه ته د ډېلي دروازې پرانستل شوی. څو ورځې وروسته د اختر په ورځ د نادر افشاریوڅو پوځیان په یوه مېله کې د عامو خلکو له لوري سپک شول نو بلوا جوړه شوه. نادر شاه د دې د بد ل اخیستو لپاره د ډېلي د عامو خلکو د وژلو امروکړ چې په ترخ کې یې د یو نیمو لکو نه زیات بې ګناه خلک ووژل شول. نادر شاه د جنګ د تاوان نه علاوه د روغې جوړې او سولې په پلمه د مغلو د خزانې نه په منونو سره زر، قیمتي ډبرې، ګاڼې او وربښمین ټوکر په اوښانو بار له ځانه سره یوړل. په دې خزانو کې تخت طاوس چې شاهجهان لپاره جوړ شوی واو کوه نور الماس هم شامل و.

مغل حکومت دسیکانود یو بل پاڅون د مخنیوي لپاره په ۱۷۴۲ کې روهیله نواب علي محمد خان د سر هند والي وټاکلو، ده د مالیې په را ټولولو کې سختي کوله او په دې پالیسۍ ځینې ځایي سرداران ترې ناراضه شول، د رای کوټ مشرهم د مالیې له ورکړې ډډه وکړه. د دې علت دا وچې د خطر

پرمهال مرکزي حکومت د دوی دفاع نه کوله. علي محمد جمال خان ته امر وکړ چې رای کوټ ته د سزا ورکولو لپاره د ده د لښکرو سره ملا وتړي، د جمال خان لپاره دا یوه ګرانه فېصله وه. رای کوټ کې د ده خپل تربوران اوسېدل او ورته یې مشوره ورکړه چې دا وخت له مغلو سره جګړه عبث کار دی خو د رائ کوټ مشر دا خبره ونه منله، د مغل پوځ سره یې په جنګ کی د ماتې خوړلو وروسته د دیپال پورلوري ته وتښتېد او ورور یې قلا او ښار علی محمد ته تسلیم کړل. اخر د جمال خان او ځینو نورو راجاګانو په سفارش او د یو لک او دېرشو زرو روپو د نذرانې په ورکولوعلی محمد دی بېرته د رای کوټ د مشر په توګه وټاکلو.

اخوا په ایران کې د نادر شاه له وژنې وروسته احمد شاه ابدالی په ۱۷۴۷م کی د یو خپلواکه مشر په توګه د افغانستان یو مستقل مملکت اعلان کړی و. د لاهورمغل حاکم شاهنواز خان و چی په ډېلي کی د کمزوری حکومت نه ناهیلی افغانانو ته یې سترګی نیولی وی، احمد شاه ابدالی ته لیکونه وراستول چی که پنجاب ته راغی نو هر کلی به یې وکړی. احمد شاه په ۱۷۴۷ م د ډسمبر په میاشت کې له اتلسو زرو پوځیانو سره چې دریمه برخه یې سدوزي و د پیښور نه روان شو او په جهېلم کی د شېر شاه سوری جوړشوی د روهتاس په قلا کی ایسار شو. دلته خبرشو چی شاه نواز د خپلې خبری نه اوختی دی اواوس له ده سره جنګ کول غواړی. احمد شاه د حالاتو معلومولو لپاره خپل پیر صابر شاه لاهورته ورولېږلو چی هلته د شاه نوازله خوا ووژل شو. بل کال د جنوری په لسمه افغان ځواکونو په لاهورحمله وکړه او د دود ورځو په جنګ کی یې دا ښارونیولو.

د ډېلي حکومت په دې خوځښت د سرهند صوبه دارعلي محمد خان خپل ټاټوبي انوله ته ولاړ. نواب افتخار پخپل تاریخ کی لیکی چی د ډېلي مغل حکومت دی له خپلې دندې ګوښه کړځکه ددی خبری وېره وه چې نوموړی به د

پښتونولۍ د احساس له امله د احمد شاه له پوځ سره یوځای نه شي . خو ګنډا سنګه وائ چی علي محمد خان ډېر هوښیار و. هغه پوه و چی افغانان دده مرستې ته اړتیا نه لري او احمد شاه ابدالی په هند کی د ایساربدو پلان هم نه لرلو. نورو سردارانو احمد شاه ته په سر ټیټولو د مغلو سره ورانوله خو علی محمد مغلو ته دا ښودل چی دی د افغانانو سره ملتیا نه کوئ. ولی په اصل کی په دی کار یې سر هند بی ځواکه پرېښودو. مغل پاچا په پنجاب کی خپلو ټولو حاکمانو ته امرو کړ چې په سرهند کې دې را ټول او د افغان لښکرمخه دې ونېسي. د محمد شاه وزیر قمرالدین او مغل شهزاده احمد شاه د افغانانو سره د جنګ لپاره پنجاب ته لښکرې یوړې خو د مالېرکوټله جمال خان په دې وخت کې احمد شاه ابدالي سره اړیکې ټینګی کړی. افغان پوځ د لودیانی له لارې یې په یوه حمله د سرهند کلا ونیوله چې په کې د مغلو ډېرې وسلې او پوځي توکي ایښي و. د مارچ په ۱۱ نیټه د ۱۷۴۸ م انبالې ته نژدې د مانوپور(مان پور) نومي ځای کې د مغل او افغان پوځ ترمنځ سخت جنګ وشو او په دی کی وزیر اعظم قمرالدین د توپ په یوې ګولۍ ووژل شو. د هغه زوی معین الملک (دمېرمنو په نوم شهرت لري) د پنجاب ټول مشران د احمد شاه د پوځ پر ضد جګړې ته را وبلل او یوه متحده ټلواله(جبهه) یې جوړه کړه خود مالېر کوټله جمال خان له پېل نه افغان ځواک سره مل و.
احمد شاه د سرهند له نیولووروسته په کندهارکې د خپل وراره اوځای ناستی لقمان له بغاوت نه خبرشونو دا سیمه یې خپل زوی تیمور شاه ته وسپارله، جمال خان یې د هغه نایب وټاکه او پخپله بېرته کندهار ته ولاړو. د لاهور واک یې معین الملک ته پرښودو چی افغانانو ته د باج په بدل کی د مغلو له خوا یې لوېدیځ پنجاب اداره کو. په ډېلي کې د مغل پاچا محمد شاه له مړینې وروسته د ده زوی احمد شاه په تخت کېناستو. د کابل پخوانې مغل والي ناصرخان چی د ابدالی نه تښتېدلی و د هغو ځمکو د بیا نېولو ژمنه وکړه چې

دده له واکه وتلی وی. بل لوري ته هغه سیکانو چې د نادرشاهي حملو پرمهال یې زورکم شوی و او د افغانانو د حملې پر وخت غرونو ته تښتیدلي و اوس بیا ځانونه یوځای کول. همداسوب و چې احمد شاه یو واري بیا د لښکرسره د پنجاب پر لوروخوځېد خو د لاهور سره نژدې د چناب سیند په غاړه د ډېلي د پاچا له لخوا ورته د سولې وړاندیز وشو اود کال څوارلسو لکو روپو د باج په بدل کې روغه وشوه. افغان لښکر د ملتان، ډېره اسماعیل خان او ژوب له لارې بېرته کندهار ته ستون شو. د باج په ورکولو کی معین الملک(میرمنو) سستی کوله او د کندهار نه به د احمد شاه استاځی لاهور ته ورتلل او لږې ډېری پېسی به یې را بوت کړی.

په ۱۷۵۱ م کې احمد شاه له کابل نه پېښور ته ورسېد ، معین الملک ته یې د باج ادا کولو لپاره لېک ورولېږه او د تېرو کلونو د پاته ځلیریشتو لکو روپیوغوښتنه ترې وکړه. په دی کال سیکانو د لاهور ښارونیولونو احمد شاه د لاهورپرلوري وروخوځېد اودوئ یې له ښاره وویستل . معین الملک بېرته لاهور ته د حاکم په حېث ولاړ نوافغان پاچا د هغه نه د باج غوښتنه وکړه، دده په انکار په ۱۷۵۲ م د مارچ په میاشت کې افغانانو د لاهورکلا محاصره کړه نو معین الملک خبرو ته راضي شواوپه پایله کې یې یوتړون ورسره وکړ. خو په راتلونکي کال معین الملک مړشو اود ده کونډې مغلاني بیګم په پنجاب کې د خپل ماشوم زوی د سرپرستې په توګه د مغلواوافغانانو ترمنځ د استازې رول ولوبوو. په ډېلي کې اوس د مغلودوېم عالمګیرپه تخت ناست و. په پنجاب کې د سیکانو پاڅون اوخوځښت بیا په زیاتېدواومرهټود ډېلي د نیولو لپاره زورلګولی و.

مغل حکومت جمال خان ته د سیکانود ماتولوامر وکړوخو له دومره لږپوځ سره هغه ایله خپله سیمه ژغورلی شوه. په دې وخت کې مغلاني بیګم (چی څوئ یې هم مړ شوی و) او روهېله پښتنوسردارنجیب الدوله احمد شاه ته بلنه

ورکړه چې له دوی سره مرسته وکړي. په سرهند کې افغان استازی او والي عبدالصمد خان مرهټو نیولی واو د پنجاب حالات د تېمور شاه له واکه په وتلو شول. مغل واکمنو خپلی ژمنې پورا نکړی نو تېمور په سرهند کې نجیب الدوله خپل مختیارمقررکړاو په خپله کندهار ته ولاړ. د هند مسلمانان اوس له یوی خوا مرهټو او بلی خوا د سیکانو په منګولو کی واو د ډېلي کمزوری مغل واکمن د دوئ چاره نه لرله. په دی وخت کی د مسلمانانو یو مذهبی مشر شاه ولي الله افغانستان ته د مرستی غږ وکړو.

د ۱۷۵۲ م د جنوری په میاشت کې احمد شاه ابدالي د هند د مسلمانانو په مرسته چی پکی روهیله پښتانه په سر کی و، یو لوی ځواک سره د پاني پت په مېدان کې مرهټو ته ماتې ورکړه او په شمالي هند کې د دی ځواک ته د تل لپاره د پای ټکی کېښودل شو.

احمد شاه د دویم ځل لپاره مغل پاچاعالمګیر ثاني د ډېلي په تخت کښېناوه، د هغه لور زهرا بېګم یې خپل زوی شهزاده تېمور ته واده کړه او سرهند یې ورته په پسول (جهېز) کې ورکړو. دلته زېن خان د هغه لخوا والي و ټاکل شواو احمد شاه په خپله د پېښورپه لوري وخوځېد، خو لا اټک ته نه و رسېدلی چې سیکان له غرونواو ځنګلونو را ښکته شول او په جالندهراو لاهورکی یې جنګ پیل کړ. دوی سرهند محاصره کړو خو نواب جمال خان د ځاي کوماندانانو په مرسته دغه ځای وژغوره. اوس زېن خان او جمال خان دواړواحمد شاه ته لیکونه ورواستول چی د سیکانو چاره دی وکړی. په دې وخت کې د ابدالي له لوري په لاهور کې ټاکل شوی والي عبدالمجید سیکانو وواژه نو هغوی ته د سزا ورکولو لپاره احمد شاه له پېښوره را وګرځید.

سیکانو د خپلو ټولو ډلو ځواکونه یو کړل او د احمد شاه سره یې د مقابلې لپاره په جنډیاله کې مورچی ونیولی.

نواب جمال خان د احمد شاه لخوا پیغام اخېستی و چې د یو لوی جنګ لپاره دې پوځ تیاروساتي. د جمال خان مشر زوی بهیکن خان د دولسو زرو جنګیالیو سره چې په کې راجپوت هم شامل و ، د جنګ د نغارې د اوریدو په انتظار شول. نورولویواو وړو راجاګانوهم له یوې او بلې ډلې سره په ملاتړ خپل پوځیان را ووېستل . د دغې پریکندې جګړې لپاره دا مهال د پنجاب په میدانونو کې اتیا زره جنګیالي را ټول و. افغانانو په سیکانو یو ناڅاپه برید وکړاو دوی یې د ګاډیو له هغه کاروان نه بیل کړل چې وسلې او نور پوځې توکي په کې بار و. سیکان په شا شول او دهغه کلي چاپېره یې دفاعي جنګ پیل کړچې په کې د دوی ښځې او ماشومان راټول و.

کله چې سیکانو ولېدل چې نوردوی خپله دفاع نه شي کولی نو په خپل لاس یې خپل په سلګونو ښځې او ماشومان ووژل. د دوی غېرت دوی ته اجازه نه ورکوله چې ښځې او ماشومان یې مسلمانانوته پرېښې وای. دوئ په خپل پورا مذهبي جوش جنګ کاوواو د اندازې ترمخه شل زره سیکان په دې جنګ کې ووژل شول. د" شمشېرخالصه " کتاب لیکوال وایي په دغه جګړه کې د دېرشو زرو کسانو نه یوازې دوه سوه تنه ژوندي پاتې شول اود سیکانو سپیڅلي کتاب د "ادی ګرنت" تاریخي نسخه هم وسوځېده. په سیک تاریخ کې دا جنګ د "وډه غلوغره" (لوېه فاجعه) په نوم یادېږي

له دې جګړې وروسته احمد شاه ابدالي برنالې ته ولاړ اود سیکانوجنګیالو مشرالا سنګ یې ژوندی ونېو ، هغه احمد شاه ابدالي ته پنځه لکه روپۍ د نذرانې او یو لک او پنځه ویشت زره نورې روپۍ د خپلې رېرې او سر د ویښتو د ساتلو لپاره ورکړې،(په سیک مذهب کې د وجود ویښتو خرییل ګناه ګڼل کېږي) الا سنګ د خطاب سره په رسمي توګه د افغان مشر له خوا د پټیالې راجا اعلان شو. وروسته احمد شاه ابدالي سرهند ته ولاړاو په جنګ کې د مېړانې لپاره یې جمال خان او د ده زوی بهیکن خان ته سازاسونه،

قیمتي جواهرات او نور امتیازات ورکړل. په دې موقع هغه جمال خان ته د هند د رستم خطاب او د خپلې سیکې د جوړولو اجازه هم ورکړه چې د مالېر کوټله په تاریخ کی یو مهم پړاو و. په امرتسر کی افغان پوځ د سیکانو (طلایي) معبد ویجاړکړاو د دې په تالاب کې یې کاڼې او ګټې لوټې واچولې چې دا ډک کړي.

نواب جمال خان ته اوس یو بل خطرادینه بېګ وچی مغل حکومت نه باغی او د سیکانو سره یې لاس یوکړی و. ده په روپړ کلی کې ځان تیاروو چی ددی شاوخوا ځمکه د جمال خان سره وه. د ادینه بیګ په راپورته کېدو د ډېلي واکمن جمال خان ته ددوئ سره د مقابلی امر وکړو. جمال خان خپل پوځ روپړته یوړخو دوی ځان پیاوړی کړی او دا جنګ د جمال خان لپاره په ماته تمام شو. دی بېرته په زخمی حالت کی مالېر کوټلې ته ووړل کېدو چې د نامعلوم کس له لوري پرې ډزوشو اوګولۍ یې په سر ولګېده، د ده نژدې ملګرو د ده مړی مالېرکوټلې ته راوړ. دی د قوي ارادی خاوند و او دده په نوم یو وړوکی ښاریه د جمال پوری په نوم اوس هم شته.

د جمال خان دوه مېرمنې عنایت بیګم او سلطان بیګم او پنځه زامن و، بهیکن خان، بهادر خان، عبدالله خان، عمر خان،او عطاءالله خان. د جمال خان جاګیر په برابرډول د ده په زامنو ووېشل شو، خو د نوابۍ لپاره بهیکن خان په ګدۍ کیناستو. ده هم د خپل پلار په شان د ډېلي له واکمنو څه تمه او توقع نه لرله او احمد شاه ابدالي ته پتمن پاتې شو، هغه به یې د پنجاب له حالاتو وخت په وخت خبراوه. په دې ورځو کې د سرهند والي زېن خان انبالې ته پرلارد سیکانو له لورې ووژل شواو الا سنګ ځان د سرهند واکمن کړ. بهیکن خان په دې هیله چې احمد شاه ابدالی به ورسره مرسته وکړی په ۱۷۶۳ کې د الا سنګ مقابلی ته لښکر روان کړو. د ده جنګیالي د کالاجهرنومي کلي نه تېرېدل چې وربانديې حمله وشوه، بهیکن خان په ګولۍ ولګېد او د پلار په

شان د ده مړی هم مالېرکوټلې ته یوړل شو ، دا مهال د ده دوه زامن وزیرعلي خان او فتح علي خان ماشومان و.
مالېرکوټله په دې اړه ګړۍ کې یوقوي مشرته اړتیا لرله. خو د بهیکن خان کونډې نادره بېګم غوښتل چې ددی ماشوم ځوئ دی نواب او دا دی د هغه سرپرسته شی. نژدې وه چې په مالېرکوټله کې کورنۍ جنګ پیل شوی وای چې د بهیکن وروربهادرخان د نواب په ګدۍ کیناستو ، خپل وراره وزیرعلي خان یې غیږې کې واخېست او په یوه پرانستې جرګه کې یې لوړه وکړه چې کله وزیرعلي ځوان شو نو نوابي به ورته پرېږدي.
خو د بهادرخان نورو وروڼو چې پخپله د ګدئ دعوی داران و خپلی ورینداری نارده بیګم ته لمسون کاوه چې د اولادونو حق یې خوړل کېږي، آن تر دې چې یوه ورځ هغې خپل زامن له ځانه سره کړل، مالېر کوټله یې پرېښوده او د جمال پوری کلا ته ولاړه. هغې له ځانه سره قیمتي ګاڼې او پېسې هم یوړې او د تلو نه وړاندې یې د ریاست هغه ملازمان له کاره وشړل چې نوابی کورنئ ته وفاداره و. دا خلک د روزګار په لټه نژدې واکدارانو ته ورغلل او نه یوازې د نوابې کورنۍ داخلې کمزورۍ یې خلکو ته افشا کړې بلکه دا چې پخوانیو نوابانو څه کول او په دې ریاست کې څوک څه لري.
له دې پېښې وروسته هغو سیکانو چې لوټ تالان یې کارو په رڼا ورځ د مالېر کوټلې په کلیواوبانډویرغلونه پیل کړل. د دې حملو د مخنیوي لپاره نواب بهادرخان احمد شاه ابدالي ته لیکونه وراستول. نواب په خپله د دې خبری پلوي کوله چې افغانان دې په هندوستان بله حمله وکړي. په ۱۷۶۵ کې احمد شاه ابدالي یو وارې بیا پنجاب ته مخه کړه خو دا وارې یې د سولې او روغې جوړې لاره غوره کړه. د پټیالې د سردارالا سنګ سره یې دځلورولکوروپواود سرهند په بدل کی روغه وکړه او دا ژمنه یې تری واخیسته چې دی به هرکال

افغان واکدار ته درې لکه روپۍ باج ورکوي. ده ته یې د راجه لقب او د سیکې د جوړولو اختیار هم ورکړ.

په دې توګه احمد شاه د خلکو د وژلو نه ډډه وکړه. خو په دې کار د مالېر کوټلې وړه غونډې سیمه چې د هرې خوانه په دښمنانو کې را ګېره وه هیڅ ضمانت ور نه کړ، سره له دی چې الا سنګ، د رای کوټ مشراو نواب بهادر خان ترلاهوره د احمد شاه سره بدرګه ولاړل، داسې ښکاري چې د بهادرخان شخصیت داسې نه و چې د خپل نیکه جمال خان په شان افغانانو ته یې ځان نږدې کړی وای. دده ستونزه دا وه چې ډېرژر به قهریدو، احساساتی اومغروره هم و. په سیاست نه پوهېدو او د مشر تابه خوئ بوئ یې نه و ازده. د خپلو ورونونه به خپه او په سمه توګه به یې له هغوئ سره خبرې نه کولې، که چا به ورته په حکومتی کاریا سیاست کی مشوره هم ورکړه نو ده به دغه کار یوه مداخله ګڼله او په پایله کې به خلکو تری ډډه کوله. خو د احمد شاه ابدالي له خوا د مالېر کوټله نواب ته پام نه کول یو بل سبب لاره.

کله چې احمد شاه ابدالي د سرهند پرګنه الا سنګ ته وسپارله نوبهادر خان مغل پاچا ته د احمد شاه ابدالي پر ضد لمسون وکړ. هغه د الا سنګ په اړه هم ډېلي ته منفی خبری رسولی، دا چې الا سنګ افغان پاچا ته لویه نذرانه ورکړې وه. دې د وخت په سیاست نه پوهېدو او په کور کې د ننه هم ورسره مخالفتونه په زیاتېدو شول. د شېخ صدرالدین د کورنئ هر یو خان د نواب بهادرخان نه په یوه یا بله خبره خپه کېدو ځکه چې ده به ورته سپکاوی وکړ، یا سترې مشي به یې ورسره په ښه ډول ونه کړ. د الا سنګ له مړینې وروسته د ده زوی امرسنګ د پټیالی راجا شواو ډېر خانان د بهادر خان پر ضدد هغه سره مله شول. د شېر پوراجاره دارچی خلیل چېله نومېدو، د نواب بهادر خان مقدم وو. راجا امرسنګ دی ځان ته را ولمسوو، خلیل راجا ته نذرورکړاو راجا د شېر پور کلا د نیولو لپاره خپل پولیس ورواستو. د نابېه، جند، او د

مالوې سردارانو ، د پېسوپه بدل کی پښتنو ځمکه والودځان ته د را اړولو هڅې وکړی. په دی کاردمالېرکوټله دریمه برخه ځمکې او کلاګانې د راجا امر سنګ لاس ته کېوتې اوسیکانو بې له جنګ د دی لویه خاوره ځان ته کړه.
سیکان په دې باورو چې د مالېرکوټله نواب د دوی دښمن واوددوئ سردارانو په یو ځای پرېکړه وکړه چې مالېرکوټله دې د سیک هېواد یوه برخه شي دوئ په دی وبرېدل چې که افغانانوبیا په پنجاب حمله وکړه نومالېرکوټله به ورته سازش کوي.
نواب د دې خبرونو په را رسېدو سخت نا ارامه شواوخپلوورونو ته یې خواست وکړ چې د سیکانوپر ضد ده سره متحد شي. د ښار او د کلا دیوالونه جوړاوورباندی توپونه ودرول شول ، د جنګ نغاره و غږیده او ټولو خلکو خپل ځوانان د سیکانود حملی لپاره چمتو کړل. یوازې د پښتنو د کورنیو پنځه سوه ځوانان را وړاندی شول او په لږه موده کې دوه زره پوځ برابر شو. دوی هوډ وکړ چې د مالېرکوټلی د ساتنی لپاره به سرونه ورکوئ او کله چی سیکانوحمله وکړه نو دوی تیار ناست و. د شاو خوا کلو نه هم ورسره نورمسلمانان مله شول او د حملی پروخت د مالېرکوټله دفاع لپاره شپږ زره جنګیالی ودرېدل. پښتنو پریکړه وکړه چې له دیوالونو د توپونو د ګوزار پرځای لاس په لاس جګړه وکړي، دوئ له کلا بهرووتل او تر مازدیګره جنګ روان و. هغه پښتانه چی د نواب نه خپه وترماځیګر ددوئ له خوا هم کومک را ورسېد او سیکانو ماتې وخوړه.
نواب بهادر خان د دغه جنګ حال احمد شاه ابدالي اود ډېلي مغل واکمن دواړو ته ورکړو. خو د سیکانو حملی روانی وی. د ۱۷۷۲ په سر کې نواب د سیکانو د سازشونو او د هغوی له حملو او تاړاکونو نه دومره بی زاره شو چې د یو سخت جنګ پرېکړه یې وکړه. د ټیبه په کلي کی یې د امرسنګ د ځواک سره مخامخ شوخو د ریاست پوځ هېڅ جنګ ونه کړاودرې نورې سیمې یې له

لاسه ووتلې. احمد شاه ابدالي په وروستی ځل په ۱۷۶۷ م کې په هند لښکر کشي وکړه. که څه هم نواب دهغه تګ لاری سره جوړ نه و خو بیا هم لاهورکې یې ورسره ولیدل خواحمد شاه ته یې د نذر لپاره هېڅ ورنه کړل. په هغه وخت د یو بر لاسی واکمن ته نذر نه ورکول د هغه سپکاوی ګڼل کېدو.
نواب افتخار پخپل تاریخ کی د بهادر خان لپاره د اوړو پوزه جوړوئ او لیکي چی هغه وخت د مالېر کوټله خزانه تشه وه. بیا لیکی چی په لودیانه کې کله چی احمد شاه ابدالي له راجا امرسنګ سره ولېدل نوهغه ورته څلورلکه روپۍ د نذرپه توګه ورکړې. افغان پاچل په دی موقع هغه ته د راجاګانوراجه بهادرخطاب ورکړ. د دې سره یې هغه ته قیمتي تحفې، یو بېرغ او ډول هم وسپارلو چې د خپلواکۍ نښې وې. احمد شاه دده نه دمالیرکوټله د نیول شووکلیو اوځمکوهیڅ حساب و نه غوښتو، نه یې د پښتنو ددی ریاست دخوندي توب ضمانت تری واخیستو. خو د هغه وخت هندوستان په یو داسی پېچلی سیاست کی راګېر و چی افغان پاچاد ټولو ستونزی نه شوی هوارولی.
نواب اوس په دې پوه شوی و چې په هېچا تکیه نه شي کولي. په ۱۷۶۹ کې دی دمنصورپور سره نژدې د راجاامرسنګ سره په یو جنګ کی د دېرشو کالو په عمرکی ووژل شواو مړی یې کور ته را وړل شو. ده درې کاله نوابي وکړه. د مالېر کوټلې ریاست د سرکاري اسنادو نه څرګند ېږي چې د نواب بهادرخان له مرګه وروسته اته اویا زره روپۍ او اویا کلي د هغه زامنو ته په میراث کی پاته شول.
اوس د ده ناسکه وروره‌عمرخان په ګدۍ کېناست اود بهیکن خان کونډی نادره بیګم ته یې ډاډ ورکړو چې کله یې وربرونه لوئ شول نونوابي به ورته پرېږدي. ټول خپلوان یې یو ځای کړل او د خپلو ځمکو او کلیو د بېرته نیولو لپاره یې نوې پالیسي جوړه کړه او هغه دا وه چې د لویوریاستونود پوځونو سره د جنګ پر ځای په هغوئ ګوریلائ حملې وکړي هم هاغسې لکه چې سیکانو

کولې. په دې طریقه هغه د خپلو دووورونو عطاالله او اسدالله په مرسته خپل شپاړلس کلي د سیکانو له منګولو بېرته راخلاص کړل.
د ده یوه تګ لاره دا وه چې که د جنګ په مېدان کې دښمن درته زورور ښکاریدو نوخبروته یې اړکړه. خوکومې ځمکې چې د پټیاله راجا له دوی نیولې وې په هېڅ صورت یې پرېښودو ته چمتو نه و. ددی ځمکی په سربیا جنګ ونښتو. نواب عمرخان په ۱۷۲۹ م کې خپل شپږ زره جنګیالي د مالېرکوټلې نه را وویستل او شپږ مېله لېرې د بودان نومې ځای کې یې ټولو ته اعلان وکړچې دوی به د پټیالې له ځواک سره جنګېږي او ټیبه کلي به اخلي او که څوک د ځان ژغورولوخیال لري نوله دې ځایه دې بېرته ولاړ شي خو د تل لپاره به بیا ورته فراري ویل کېږي. په بله ورځ سخته جګړه ونښته، یوه ګولۍ د عطاالله په پښه ولګېده او پریوت. یو چا دده وروراسدالله ته خبرورکړخو هغه هرڅه خدای ته سپارلی او جنګ یې روان وساته. عطاالله بیا په اس سپورشواوترهغې د ده جنګیالی د کلي د کلا تردروازې رسېدلي و.
عطا الله د خپلې نېزې سره د کلا د دروازې کونډه ماته کړه او له ځواکونو سره یوځای په کلي ور ننوتل، نژدې وه چې پوځیانو لوټ مار شروع کړی وای چې د ښځو او ماشومانو په شوراو زوږ دوی تم شواو کلی تسلیم شو.
راجا امرسنګ خپل تازه کمک وراستولی و خو اوس عطاالله خپلې پښې ټینګې کړې وې. راجا کلي محاصره کړو، د رای کوټ نواب او نورو راجاګانوپه امرسنګ زورراوړ چې د روغې جوړې او خبرو اتروله لارې دغه ستونزه هواره کړي. سیکانو هم لېدل چې د مالېرکوټلې په کورنۍ کې یو واري بیا اتحاد پېدا شوی دی او د جنګ لپاره پوره چمتوالي لري. نو روغی ته یې غاړه کېښوده
د ټیبه کلي د اویاوو نوروکلیو په بدل کې بېرته سیکانو ته ورکړل شو او د سولې تړون وشو. د دغه تړون له مخی هغه ټول کلي چې بهلول لودي

صدرالدین ته ورکړي و ببرته د مالېرکوټلې سره پاتې شول او دواړه ریاستونه دی ته هم راضي شول چي که هر چا دوئ ته خطر جوړو او یا یې وربانډی حمله وکړه نو بل به ورسره مرستې ته حاضربږی. نواب عمر خان د بری نه وروسته خپلو خپلوانو ته ځمکې او جاګېرونه ورکړل خو په دی کې د نواب بهادرخان د زامنو برخه ځکه نه وه چي د تېرو دریوکلونو د جنګونواوځمکو له لاسه ورکولو پړه پرنواب بهادرخان اچول کېده. په دی فېصله د بهادرخان اته زامن له ترونو سره ناندریو ته ودرېدل. د دوی نومونه سربلند خان،قادر بخش خان،مهدي خان(محي الدین)،سکندر خان،فتح علي خان،سعادت خان،طالع مند خان اوخان بهادر دي. د مهدي خان او فتح علي خان د لمسو اولادونه اوس ځېني په مالېر کوټله او ځېنې نور یې بیا په لاهور کې ژوند کوي.

نوی ملګری نوی دښمن

په پټیاله کې دالا سنګ سپین سرې موررانې فتو په لوی تالار کې په تخت ناسته وه، مخامخ ورته دواړه لمسي ولاړ و یو همت سنګ او بل امر سنګ نومېږی. د هغې نږور رانې حکمان هم هلته ناسته ده. دا لومړی ځل نه دی چې دواړه وروڼه د نیان په وړاندې لکه دمجرمانو ولاړ و، څو کاله وړاندې هم د دوی د پلار الا سنګ د مړینی د وروستیو مراسمو په ورځ شخړه پیدا شوې وه.

همت سنګ د پلار مشر زوی دی خو رانې فتو په دې کې شک لري، د هغه مور د الا سنګ د ورور کونډه وه او له واده وروسته رانې فتو په دې نه پوهېده چې همت د الا سنګ زوی و او که وراره. امر سنګ کشر دی او دا خبره یقیني ده چې دی د الا سنګ زوی و، همدا سوب و چې امرسنګ د راجه په توګه ونومول شو، همت سنګ په دې خبره خپه شو او د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره یې جنګ ته لاس واچوو.

امر سنګ د شاوخوا نژدې ټولو راجاګانو ته لیکونه واستول چې د همت سنګ په ضد د ده ملاتړ وکړي، نواب عمر خان ته یې هم لیک ور واستو چې دوروستي تړون له مخې دی ورسره مرستې وکړي. عمر خان درې زره عسکر د خپل وراره وزیرخان(د بهیکن خان ځوئ) په مشرۍ پټیالی ته ور واستول او دنده یې دا وه چې د مجهیل سیکانو مخه ونیسي چې په پټیاله ریاست کې داخل نه شي. دوئ دهمت سنګ په ملاتړ هلته ورغلي و.
وزیر خان سره شاوخوادوه زره نور سیک پوځیان مله شول، ده په ډېرې کامیابۍ د مجهېل سیکانود دغې ډلې نه د خپلو جنګیالو کړۍ تاوې کړې اوپیغام یې ورواستووچې که هرلور ته یې د خوځېدو جرات وکړ نوختم به شي. مجهیل سیکانود پیسو په ورکولو ځان خلاص کړوخوهمت سنګ بهواني ګړه او د مالېرکوټله د افغانانو ځینی کلي ونیول. اوراني فتو دواړه ورونه د روغې جوړې لپاره ځان ته راوبلل. دی خپل لمسي همت سنګ ته د نورومزکوپه ورکولوهغه نه د جنګ د نه کولو ژمنه واخیسته او په اخر کې دی بې له جنګه له بهواني ګړه نه ووتلو. پټیاله د ېو لوئ کورنئ جنګ نه په امن شو.
د دې مرستې په بدل کې امرسنګ د رای کوټ نواب او وزیرخان ته د مننې په توګه دوه دوه خلعتونه او پنځه پنځه زره روپۍ انعام ورکړې، هغو عسکرو ته یې هم انعامونه ورکړل چې په دغه جګړه کې یې ګډون کړی و. له دې پېښې وروسته په سیمه کې د مالېر کوټله ملګرتیا زیاته شوه. په ۱۷۷۸ م کې امرسنګ د خپلی یوې بلې شخړې لپاره په عمر خان غږ وکړ او مالیرکوټله ورسره مرسته وکړه. په دې ډول مالېر کوټله په سیکانو کی خپل ملګري پیدا کړل چې د خطر پرمهال به ورسره مرستې ته ودرېدل.
عمرخان څوارلس کاله یې په ډېرې کامیابۍ د مشرې کولو وروسته په ۱۷۸۰ م کې مړ شو او ، ده د خپلوخپلوانواومالېرکوټله د عاموخلکودا احترام ترلاسه

کولو سره سره د سیکانود حملوپه وړاندې د یوښه سیاست پرمټ خپل خلک وژغورل. د ده یو زوی حسن خان او یوه لور جهنډو وه، دوه نور زامن توره بازخان او سلطان خان د ده په ژوند کې مړه شوي و.
د عمر خان نه وروسته د ده یو بل ورور اود جمال خان زوی اسدالله خان په ۱۷۸۰ م کې نواب شو، که څه هم د بهیکن زوی وزیر خان اوس ځوان و او د بهادر خان زوی هم د دې جوګه وچې د پلار ځای ناستی شوی وای خو د مشری لپاره د سپین ږیرو حق تر دی وخته ساتل کېدو. اسدالله هم لکه د عمر خان په سیاست او روغې جوړې د مالېر کوټله ګاونډیانو سره معاملې هوارولې.
په پټیاله کې امرسنګ راجا د ۳۵ کلونو په عمر کې مړ شو او راني حکمان(د الا سنګ ښځه) د هغه شپږ کلن زوی صاحب سنګ د راجا په ګدۍ کښېنولو. شاوخوا راجاګانو دې ریاست ته نیت بد کړی و. همدا وه چې راني حکمان نواب اسدالله خان نه د مرستې غوښتنه وکړه، نودی په خپله د دې خطر د مخنیوي لپاره یولوی پوځ پټیالی ته ورواستو. څلورکاله د نوابۍ نه وروسته اسدالله خان مړ شواو له ده څخه دوه کونډې نوران بیګم او سلطان بي بي پاتې شوی. د ده یو زوی محمد علي نومېده چې د پلار نه څه موده وروسته په یوې ناروغۍ مړ شو.
دبهیکن خان د زوی وزیرخان یو واري بیا هیله پیدا شوه، چې هغسې چې دده ترونو دده له مور نادره بېګم سره لوز کړی و، ده ته به اوس د مالېر کوټله نوابي په لاس ورشي خو داسی وونشوه. د مشری لپاره نوردعوېداران را پورته شول او نژدې وه چې په مالیر کوټله کی کورنۍ جنګ انښتی وائ، د رای کوټ مشر د دوی ترمنځ روغه وکړه، او وزیرخان خپل بل تره عطاالله خان ته د نواب ګدۍ په دې شرط پرېښوده چې د ده له مړینې وروسته به دده (وزیر خان) دوه زامن نوابان کېږي.

د مالېرکوټله په یو کلي کې ځوانان ارهټ ته را ټول دي. د کوهي نه د اوبو د راویستلو لپاره غوايې د کوهي نه تاوېږي. یو غښتلي ځوان وړاندې شو او هغه پړی یې را ونیوه چې غويې پرې تړلي دي. ده پړی په خپلو لاسونو کې ټینګ نیولی دی او غويې نه پرېږدي چې وړاندې لاړ شي. د را ټولو خلکو ناری او شورځوږ شونو ځوان پړی پرېږدي. دا ځوان عطاالله خان دی.

څو ورځې وړاندې ده د خپلې مورد صندوق نه د سپینو سیکه په خپلو ګوتو کې مروړلې او د هغې د پاسه یې جوړ نقشونه سولولي و. ده د سرو زرو ځینې غټې سیکې تاوې کړې وې. مور ترېنه په قهر پوښتنه وکړه نوده ژرټولې سیکې بیا تاوې کړې او خپل اصل حالت ته یې را واړولې خو سولېدلي نقشونه یې بیا نه شول جوړولی. یوه ورځ یې د جاموخرڅونکي بزاز نه د اوسپنې ګز واخیست، خپلی لیندۍ (کمان) کې یې د غشي په توګه و ټومبلو او په یو پوخ دیوال کې وویشت چې په کې خښ شو. یو ځل یې له یو سیک سره مقابله وه چې په خپل یوغشي د اووه وزود سورۍ کولو دعوا یې کوله. عطاالله دا سیک له ښار نه بهریوړ. د بوې زړې ونې تنه چې چاود ېدلې وه په لاسونوونیوله، د سیک لینده یې په کې کېښوده او ورته یې وویل اوس دا راوباسه. دعطاالله خان په اړه دا کیسی اوس هم د مالېرکوټله ځوانان په خوند یو بل ته کوئ.

عطاالله هم د نواب کېدو وروسته دخپلووروڼوپه شان د پټیالې اود سیمې له راجاګانو سره ښې اړیکي وساتلې او د خطر پرمهال به یې له یوبل سره مرسته کوله. د یوڅه وخت لپاره دغلته ارامي راغله خوپه ۱۷۸۲ م کې د پنجاب ځینی سیمی وچکالئ وزپلی. د سیکانو یوی ډلې د چوارړ سنګ په مشرۍ ډاکې او چور چپاوو پیل کړل. اوتر ټولو لوی خطریې د پټیالې ریاست ته جوړ کړو، چې دلته یو ماشوم راجا د واک په ګدۍ ناست و. چوارړسنګ د دې د برناله سیمه محاصره کړې وه.

د پټیالې دیوان نانومل یو هوښیار سړی و، چواړ سنګ ته یې پیغام ورواستووچې ولی له کوم دلیل پرته د جنګ نارې وهي. چواړ سنګ ورته وویل موږ یوازې په دالو، جواروااوربشوګوزاره نه شو کولی، زموږ غنم او وریجې په کار دي. د سیمی راجاګانود خبرواترونه وروسته پریکړه وکړه چې که چواړسنګ ته یوڅوکلي ورکړل شي نودی به خپل غنم او وریجې ولري. په دې وخت کې نواب عطاالله خان دده ضمانت وکړاو د برناله کلابندي پای ته ورسېده. چواړ سنګ ته د کلیو د ورکولو کاروځنډېد نوهغه په نواب عطاالله زور راوړ چې خپله ژمنه دې پوره کړي.

نواب د پټیالې راجا ته د یادونې لیک ور واستوخو هېڅ ځواب یې ترلاسه نه کړ. چواړسنګ داسې فکر کاووه چې نواب د ده خبره نوروته نه وه رسولې او په دغې بدګمانۍ یې د مالېر کوټله په کنګن وال نومي کلي لښکر ورمات او د ده په ځمکو ولاړښنه فصلونه یې لاس لاندې کړل. پخوا تر دې چې سیکانو په سیمه کې چورتالان ګډ کړي وائ عطاالله سم د لاسه د چواړسنګ سره د لیدو فېصله وکړه. ده نورو راجه ګانواوپه تېره د پټیالی راجا ته یو لیک ور واستو چې خپله پریکړه دې ژرترژره عملي کړي. اوکه داسی ونشول نودی مجبوره دی چې چواړسنګ سره لاس یو کړي.

نانومل د پټیالې نه مالېرکوټله ته ورغی او د کلیود ورکولوکارد قوالو په ورکولوترسره شو. نواب هغه ټول عسکرچې د چواړسنګ د حملې د مخ نیوی لپاره مالیر کوټلی ته ورغلي و خپلوخپلو ریاستونو ته بېرته رخصت کړل. د پټیالې راجا صاحب سنګ د تړون په نه عملی کولونانومل ته په قهرو. دهغه ټول جایدادیې ضبط کړو،او د نانومل خپل خپلوان چې په پټیاله کې یې لوړې عهدې لرلی، له کارونووشړل.

نانومل د مالېرکوټله نواب سره پناه واخیسته او داسې اوازه یې ګډه کړه چې د پټیالې خزانه تشه ده او داچې ولس له راجا نه بی زاره دی. ده نواب ته پخپلې

Download From: AghaLibrary.com

کورنۍ شوی د ظلم کیسی دومره وپړسولی چې نواب عطاالله سملاسي پټیالی ته لښکر ورواستو. په دی کارهغه مالېرکوټله بیا دجنگ کندی ته ورټېله کړو. د پټیالي په دفاع اود ترون ترمخی گاونډېوخپل پوځونه ورواستول اود مالېر پوځ په جنگ کی ماتې وخوړه. نانومل محض د خپل غچ اخیستولپاره نواب وغولوه. د جنگ نه وروسته پټیالی مالېر کوټله ته پېغام ورواستو چی نانو مل دی ورته وسپاری خو نواب انکار وکړ. دی پوهېدوچې هلته به ووژل شي نو ځکه یې تر پایه له ځانه سره وساتلو. نانو مل په ۱۷۹۲ م کې مړ شو اوپه مالېر کوټله کې د هندو مذهب د دود سره سم وسوځول شو. نواب عطاالله له پټیالې سره بیا روغه وکړه خو په ۱۷۹۲ م کې یو بل خطر را ولاړ شو. سیک مشربېدي صاحب سنگ چې یو مذهبي توندلاری وامرتسر ته ورسېد او ټولو سیکانوته یې د کوټلې دافغانانو پرضد د پاسون غږ وکړوځکه چې هلته اوسېدونکو مسلمانانود غواغوښه خوړله. که څه هم سیکانود غوا په معامله د هندوانو په شان مذهبی احساسات نه لرل خو د مسلمانانود مشرانوپه ضد یې د پخوانۍ تربگنۍ احساس لا پاتې و. ده د پنځلسو سوو جنگیالود لښکر سره مالېر کوټله محاصره کړه.
نواب عطاالله د دې حملې لپاره تیارنه و. ځینی سیکان ښار ته ور ننوتل اوچورتالان یې ورگډ کړو. خانان د کوټلې په کلا کې بند پاته شول او پوځي افسرانو چی د قلا نه بهرود یو تکړه قوماندان په غېر موجودگئ هېڅ جنگ ونه کړ. دوه ورځې وروسته د نورریاستونو کومک را ورسېد خودا څرگنده وه چې سیک پوځیانو به د خپل یو مذهبي مشرپه وړاندې چرې هم جنگ نه وای کړی. دوئ دجنگ پرځاې بېدي صاحب سنگ ته دبېرته ورتگ وویل چی په لومړیو دووورځو په اخوډب کې په یوه گولۍ ټپي شوی و. د هغه ملگری بگهیل سنگ دلوټ شوي مال د ترلاسه کولوپه هیله وخواوس یې داهیله د نورریاستونو د پوځ په راتلوختمه شوې وه. نواب عطاالله ورسره لوزکړې

Download From: AghaLibrary.com

وچې که بېدي صاحب ببرته وروګرځوئ نو دوه زره روپۍ به ورله ورکړي.
بګهیل سنګ د خپل لښکرسره یوځای له هغه نه بېل اودمالېرکوټله نواب ته
ورواوړېدوخود نورو پوځونو په راتګ نواب عطاالله دا روپۍ پنځه سوه پنځه
ویشتو ته را ټیټې کړې. تاراسنګ، کرم سنګ او ګورودت سنګ چی د بېدي
صاحب سره مله وهغوئ ته یې هم پېسی ورکړی. مالېر کوټله ددی شخړی د
ختمولولپاره سیکانو ته ټولټال یودیرش زره روپۍ نذرورکړې.
د نواب عطاالله د مرستې لپاره ورغلي د پټیالې پوځي مشربخشي سیدا ته د
پوځ لګښت او یوخلعت ورکولو وروسته د خدای په امانۍ مراسم تر سره شول
خود دوئ راجا وروسته هم پاتې و. د هغه مشاورینو ورته ویلي وچې له نواب
نه دې یو څه نورهم ترلاسه کړي اوکه اړتیا ولېدل شوه نود زورنه دې
کارواخلي. دوی خبروچې د مالیر کوټله خزانه تشه وه اودبېدی صاحب سنګ
جنګیالو ورته ډېرتاوان رسولی و، خوغوښتل یې چې یو څو کلي تري واخلي.
د کوټلی په بوی زړی ودانئ کې دخواجه خضرخان(چې د یو جنګ شهیدو)
قبرجوړو، د پټیالی سیکانود شپې دا قبر وکینده او مړی یې ترې را وویست
چې له دې سره د مالیرافغانان سخت را وپاریدل. نواب غوښتل چې د سولې
له لارې دا لانجه هواره کړي خووزیر خان او توره بازخان په ډېرقهراوغصې
راجا ته ورغلل او هغه ته یې یادونه وکړه چې د پټیالې په دفاع کی د نورو
سیکانو سره جنګ لپاره راجا دوی ته پېسې اوتاوان نه و ورکړی. وزیرخان
وویل چې دوی به سرونه ورکړي خو د خپل یو شهید د مړي سپکاوی ونه
زغمی. په دې وخت کې د راجا مور چې هلته موجوده وه دا خبرې واورېدې او
د وزیر خان غصه یې سړه کړه. هغې سیک پوځ ملامته کړاو ژمنه یې وکړه چې
مجرمانو ته به سزاورکوئ، خو نواب ټولو ته معافی اعلان کړه او د موهرانه
کلې یې بخشي سېدا ته وروبښلو.

Download From: AghaLibrary.com

د بېدي صاحب په يرغل ماليرکوټله او سپدونکود وېرې احساس وکړو. بې شمېروله دې ځايه کډه وکړه او د پنجاب په هغو سيمو کې يې ژوند پيل کړچې ورته خوندي ښکارېدل. په ۱۷۹۷ م کې بېدي صاحب سنګ له اتو زروجنګياليو سره راې کوټ ته مخه کړه، هغه وخت ددې مشرد پنځلسو کالوهلک و چې د خپل ديوان روشن خان ترڅارنې لاندې يې رائ کوټ اداره کاوه. دې په جنګ کې ووژل شو. وزيرخان د پنځوسووجنګياليوسره ددوى مرستې ته ورسېدو، دپخوا په څېرله بېدي صاحب سنګ سره مله سردارانوته يې پيسى ورکړې او دوى له مېدانه ووتل. په ۱۷۹۸ م کې بېدي صاحب په امرتسر کې يوواري بيا دمالېرکوټله اوراى کوټ په ضد د مذهبي جنګ ناره وکړه، راى کوټ يې ونيواوکوم ځايونه چې پخوا مالېرکوټله ترې اخيستي وبېرته يې ترى ونيول. دغه رازله مغلو نه يې لوديانه ونيوله.

په دې وخت کې دهندوستان حالت لکه يومړژواندى مارغه وچې له هرې خوانه ورباندې ټپوس، کارغه اونوروحشي ځناوراختته واود دې غوښې يې خوړلې. انګريزانوددى د سوېل په سمندرى پلو خپلې مستعمرې او پوځې چاونۍ جوړې کړې وې بل لوري ته يې د ډېلي په دربار کې خپله اغېزه زياته کړى وه. د مرهټوپاتې شونود يواروپايي جنرال پېرون په مشرۍ منظم پوځ په جوړولولاس پورى کړى وچې عسکروېې ښې نوې وسلې چلولې شواى. يوانګريزجارج تهامس له خپل پوځ نه بيل شوى، ځان ته يې لښکر جوړ کړى او هانسي کې يې سنګر نيولى و. ده شاوخوا راجاګانو ته به يې پيغامونه وراستول چې که خپله دفاع غواړي نو دى ورسره مرسته کولى شي. نوموړي دامرتسرسره نژدې د جند کلا نيولې وه او سيکانو دده سره د دغرى زور نه لاره. نواب عطاالله اود راى کوټ مشر، تهامس ته پيغام واستوو چې د بېدي صاحب سره د جنګ لپاره به ورله يولک روپۍ ورکړي. د بېدي صاحب

Download From: AghaLibrary.com

جاسوسانو هغه ته دا خبرراوړنوده له وېرې رای کوټ نه خپل جنګیالي وویستل.
دافغانستان شاه زمان لښکرهم دا مهال د پنجاب په خاوره کې و. او سیکانو بیلابیلو ډلواوس دده د مقابلی لپاره یو نوي مشرته سترګې نیولې وې چې هم یې پوځي واک لاره اوهم په سیاست پوهېدو. دامشررنجیت سنګ نومېدو.
رنجیت سنګ په ۱۷۸۰ میلادی کال کې د پاکستان دګوجرانواله په یوې جټې کورنۍ کې زېږېدلی و دده پلار مهان سنګ د سیکانو د یوې پوځي ډلې مشراود ګوجرانواله شاوخوا ځمکې یې کنټرولولې. دی دولس کلن و چې پلار یې مړشواو په همدې عمر کې د خپل پلارځای ناستی شو. د ماشومتوب نه یې داس ځغلونې اوجنګي روزنه اخیستې وه. ده د مشر کېدو سره سم په ځوکالوکی یې د سیکانو یوعصري پوځ جوړکړوچې په اروپایي ډوله بارکونو کې اوسېدواو سیک خالصه نومېدو. خو رنجیت سنګ پخپله مذهبي نه واو د سیمې د مسلمانانو ترمنځ یې ښه نوم لاره.
په۱۷۹۴او۱۷۹۵ میلادی کلونو کی د احمد شاه ابدالی لمسي شاه زمان د حسن ابدال او د جهېلم د سیند سره نږدی په څو وړوجنګونو کی سیکانو نه د پنجاب د نیولو هڅه وکړه خو دغه وخت د انګرېزانو په لمسون د ایران له خواورته په افغانستان د حملی ګوابښ وشو او دی بېرته کابل ته ولاړو. د روهتاس قلاهم د افغانانو د لاسه ووتله او رنجیت سنګ ونیوله. شاه زمان په ۱۷۹۲ کی د بو لوئ حملی لپاره د اباسین نه پوری وتلو. ده سره دری زره افغان جنګیالی واو هیله یې دا وه چې د پخوا په څېر د هندوستان مسلمانان به ورسره مله شي. رنجیت سینګ او نور سیک مشران په امرتسر کی راټول شول اونږدی وه چې د کشمیرغرونو ته یې تېښته کړی وائ چې د سیکانو د یوی جنګی ډلی مشری مېرمن سدا کورپه ټولوغږ وکړوچی دافغانانومقابلی ته دی ودرېږی. سیکانو اتحاد وکړواو د رنجیت سینګ په مشرئ په لاهور

گوریلائ حملی پیل کړی چی هغه وخت د افغانانو په لاس کی و. خو په ۱۷۹۷ کی د زمان وررور شاه محمود بغاوت وکړواوشاه زمان مجبوره شو چی کابل ته ولاړ شی. هم هلته په داخلی بغاوتونو کی ونیول شو، سترگی یې ورته ړندی کړی او دی د خپلی کورنئ سره بېرته پنجاب ته ولاړو. د ژوند تر پائ دی په لودیانی کی د انگرېزانو په زیره وسېدو. رنجیت سینگ وروورود ستلج سیمې پخپل کنټرول کی وا خیستې او لاهور یې دراجواړي مرکزشو.

په ۱۸۰۱م کې ده ته د مها راجه لقب ورکړی شواود لوېديځ پنجاب د مسلمانانو هغو سیمو کی یې ارامی راوسته چې له تېرودوولسېزوراهیسې په کې د خلکو ژوند تریخ و. د ستلج سیند د ده د حکومت وروستی حد و. د سیند نه پوری په ختیځ پنجاب کې جارج تهامس د برتانیا لپاره ځمکه هواروله. خود مرهټوجنرال پیرون هم د ختیځ پنجاب د واکمنو مرستې ته تیارو. ده ټولو ته پیغام ورکړچې که د خپلوځمکوځلورمه برخه حاصل ورته ورکړي نوله جارج تهامس نه به یې وژغوري. ددې نه علاوه ده د نذرانې د پېسوغوښتنه هم وکړه. خپله لوظنامه یې په لیکلې بڼه ټولو ته واستوله چی د هغی ترمخه که یوریاست ده ته په ټاکلی وخت پېسې ورنه کړې نو هغه سیمه به دده وي.

مالېرکوټله د خپل دفاع لپاره لس زره روپۍ ورته ومنلې. پټیاله لوی ریاست ونود یونیمولکوروپود ورکولوژمنه یې وکړه. ددې تړون یو شرط داوچې ټولې پیسې به په قسطونو ورکول کېدې او د لوظنامې موده به له هغه وخته پیل کېده چې مرهټه پوځ د پنجاب په لورې خوځیدو. خود جنرال پیرون دا ټول پلانونه له خاورې سره خاورې شول، د ۱۸۰۳ کال د دسمبر په میاشت کې د برتانیا د لارډ لیک په مشرۍ یومنظم پوځ مرهټو ته د ماتې ورکولو وروسته ددوئ د مشرجسونت رائ هولکر سره روغه وکړه اود ډېلي شاوخوا سیمې یې ترخپلې ولکې لاندې راوستې.

د جمنا او د ستلج ترمېنځ په پراخه خاوره دوه نورهندي افغان مشران چې يو اميرخان او بل نجابت خان نومېدل د انګريزانو ملګري شول. امير خان د ټونک او نجابت خان د کنج پورې نوابان و. رنجيت سنګ چې د انګريزانو د پرمختګ نه خبرشو نو خپل لښکريې د ستلج نه پورې ورواستوو، ځينې رياستونه يې د ګوابښ او ځينې نوريې بيا د روغې جوړې له لارې پخپل کنترول کې واخيستل. په ۱۸۰۸ م کې مهاراجا رنجيت سنګ مالېرکوټله ته را ورسېد او د نواب عطاالله خان نه يې د دې ډاډ په ورکولو چې دغه سيمه به خوندي او خلک به يې په امان وي، د پنځولکوروپو د نذرانې غوښتنه وکړه. انګريزان له يوې خوا د رنجيت سنګ د موجوديت نه په ويره وخو له بلې خوا نه يې غوښتل چې ورسره جنګ وکړي. د دوی استازي چارلس مېټکاف د رنجيت سنګ سره خبرو اترو لپاره ورغلی وا و د مالېر کوټلې سره نږدې ايسارو.

نواب عطاالله خان سمدستي مېټکاف ته پيغام ورواستووچې پکی وېلی و. ښايي انګريزان او سيکان دواړه اوس د مالير کوټله لپاره ګډه پاليسي لري او له ده به پېسې وغواړي. چارلس مېټکاف په دې خبرې ټکان وخوړځکه دا د هغه يوه سفارتي تېروتنه وه. ده احساس وکړ چې که نورریاستونه هم له رنجيت سنګ سره د ده ملاقات دا ډول تعبيروي چې ګوندې انګريزان ورسره يوځای شوي دي نو دهندوستان سياسي نقشه به بدله شي. دې سملاسې د رنجيت سنګ له کيمپ نه ووتو او د خپل سفارتي ډلی سره د فتح ګړ په کلا کې يې واړول.

له دې پېښې شپږ ورځې وروسته د ماليرکوټله د خانانو يوې ډلې د نواب په مشرۍ د رنجيت سنګ سره د روغې جوړې خبرې پيل کړي. د دوی دليل دا و چې د تېروڅو کلونو دجنګ جګړو له کبله يې خزانه تشه وه او دومره زر ورته دا پېسې نه شي ورکولې، په خپلو مېنځو کې دوی په خپلی خپلی برخی جوړ

وچې څوک به څومره ونډه د رنجیت سنګ نذرانی ته برابروې. د منځګړتوب لپاره د جند او د بابها مشران هم په خبرو کې سره کښېناستل.
رنجیت سنګ ډېرې ښځې درلودلې اوموران نومې مېرمنه یې مالیرکوټله ته ځان سره بېولی وه. هلته د بهیکن خان کونډه نادره بیګم تراوسه ژوندۍ وه او له سیاسي حالاتو نه یې ځان خبراوه. داسې ښکاري چې هغې او د نوابې کورنۍ نوروښځو موران ته میلمستیا وکړه او خپلې ستونزې یې ورته وویلې.
موران پررنجیت سنګ فشارراوړاوهغه د نذرانې پنځه لکه روپۍ یو نېمولکو ته را ټیټې کړې چې څلوېښت زره یې هماغه وخت غوښتلې اود نورولپاره یې د ځینوکلواجاره ومنله. خوددې نه علاوه رنجیت سنګ، وزیر خان او د مالېرکوټله یو منشي دیوان سنګ د یرغمل په توګه له ځانه سره یوړوچې د پېسو په پوره کولو به خوشی کېدو.
رنجیت سنګ اوس زور لګولی و چې د پنجاب ټوله خاوره د ده په قلمروکې شامله شي او د دې لپاره هغه د مالیرکوټلی نه انبالې ته ولاړو. دهغه ځای د راجه دکونډې نه یې ټول قیمتي کالي پټري په زوره واخیستل اوریاست یې ځان ته کړو. بیا یې د شاه اباد خاوره ونیوله او نورو راجاګانوته د نذرانې د ورکولو او د ده د حاکمیت د منلو پیغامونه واستول. انګریزان د ده په نیت پوه واوسم د لاسه یې اعلان وکړ چې د ختیځ پنجاب ټول ریاستونه به د دوی تر ژغورنې لاندې وي.
دا د رنجیت سینګ لپاره یو سیاسي ګوزار واو ده غوښتل چې له دغه اعلان نه سرغړونه وکړی خو پوهېدوچې انګریزان به دومره په اسانه دا سیمې هغه ته پرې نهږدي. بلې خوا ته هغه د لاهور نه وراخوا پېښوراوکشمیرته هم پلانونه لرل نو دجنګ نه یې ډډه وکړه او په ۱۸۰۹ م کې دانګریزانوسره یې یوتړون وکړو. د تړون له مخې د ستلج نه پورې لویدیځه سېمه د رنجیت سنګ وه چې انګریز به پرې غرض نه لارو.

دترړون نه وروسته د پنجاب دغه سيمی ارامه شوی. د مالېرکوټله هغه پينځه کلي چې رنجيت سنګ ته په اجاره ورکړی شوی وی، انګريزانو پرې خېټه اچولې وه. په دې کليو پخواراهيسی وزيرخان او د ده تربور رحمت علي چې د نواب عطاالله خان زوی ودعوې کولې. په ۱۸۱۰ کې نواب عطاالله مړ شو اود دواړوتربورانوترمنځ دميراث زړه شخړه بيا راپورته شوه. دنواب عطاالله د واک ځينې پرېکړې مالېر کوټله لپاره بدی وی اوپه هغه يوه نيوکه دا وه چی د فېصلې قوت يې نه لاره. يوې خواته به يې د جنګ لپاره چمتوالی نيوه او بلې خواته به يې د روغی لپاره سيکانو ته پېسې ورکولې. او تل د خپلوخپلوانونه به يې پيسې غوښتې. دی خوشبخته و چې د وزيرخان غوندې کوماندان ورسره وچی په پوځې تاکتيکونو ښه پوهېدواودخپل تره سره به د خطر پرمهال درېدو. وزيرخان ډېر په صبرد نوابي ګدئ خپلو ترونو ته پريښې وه او ټولواوس هغه د مالېر کوټله د نواب په توګه ليدل غوښته. خو د عطاالله خان ځوئ رحمت علی خپل ځان د پلارځای ناستی ګڼلو. تر دی دمه د مالېرکوټله نوابی به ترټولو سپين ږيری ته ورکول کېده اودا د زياتو پښتنو لپاره د منلووړو.

رحمت علي د نوابۍ لپاره انګريزانو ته خپله دعوه يوړه خوهغوی د رنجيت سنګ سره خبرو اترو پروخت د وزيرخان استعداد ليدلی و.

انګريزانود هندوستان لپاره هغه مهال د وراثت قانون جوړکړو چې له مخې يې د يورئيس، نواب اوراجه له مړينې وروسته به د هغه مشرزوئ د هغه ځای نيوه. که يوراجا يا نواب بي اولاده مړ شو نو د هغه سيمه به د انګريزترقبضې لاندې راغلله. جينکو ته د پلار په ګدۍ د کښېناستوحق نه و. رحمت علی د دغه قانون نه خبر و او همدا وه چې هغه ځان د پلار قانوني او جائزوارث ګاڼه. هغه دا دليل هم وړاندې کړوچې د مالېرکوټله سيمه د رنجيت سنګ له منګولو نه د ده پلار ژغورلې وه.

د وزيرخان دليل دا و چې دده ترونو(دريو نوابانو) د ده له مور نادره بيگم سره لوظ کړی وچې همدی به نواب کېږي. هغې هم د خپل ځوئ د نوابئ لپاره ډېر انتظار کړی و. وزيرخان انگريزانو ته ليک ورواستووادډی په ځواب کی درې مياشتی وروسته د انگريزانو له خوا يو ليک، يو خلعت، گاڼې او سازکړي اس دوزيرخان د نوابۍ داعلان سره ماليرکوټه ته را ورسېدل.

نولسمه پيړۍ

د مالېرکوټله په کلا کې د ځوانانو يوې ډلې د لومړي ځل لپاره يو ډول يونيفارم اغوستی اود دوی په لاسونو کې دغشواو ليندیو په ځای هغه ټوپکې وې چې دوی ورسره نا اشنا و خو د دوی چلول ورته خوند ورکو. نواب وزيرخان دا وخت پنځه سوه سپاره او دولس سوه پلي عسکرد انگريزانو ترڅار لاندې روزلي وخو په سېمه کې اوس امن و. د ده تربور رحمت علي د خپلو ورونو امام علي او فاضل علي سره يوځای کله د انگرېز استاځی سره خبری کولې او کله يې ورته ليکونه استول. نوموړی د گاونډيوراجاگانو سره هم ليده کاته وکړل خوهيچا د ده مرسته نه شوی کولی.

په ۱۸۲۱ م کې وزيرخان پخپل مرگ مړشونو رحمت علی خپل زوی دلاورخان لوديانې اوامبالې ته ورواستوو چی انگريز استازي ته خپله د نوابئ دعوه وړاندې کړی. ده د خپلو ځمکو ټوله شتمني په رشوت او په نذرانو يو ځای بل ځای ورکوله. ډېرو خلکو ورته نصيحت وکړ چې دې خپل وخت ضايع کوئ خو دی د خپلی دعوی نه په شا نه شو. دوه نيمې مياشتې وروسته د انگريزاستازی مالېرکوټله ته ولاړ چې د هغه د ځوئ اميرعلي د نواب کېدومراسم له نږدې وڅاري. اوس ډېرکارونه د انگرېزانو په دود کېدل او يودربار را بلل شوی و. رحمت علي هم په کې گډون وکړاوپه ظاهر يې د خپل تربورځوئ ته سر ټيټ کړوخو په دې وخت کې خپل زوی دلاورخان يې کلکتې

ته واستوو چې دده د نوابئ د حق په اړه هلته له انګریزوالی سره خبرې اترې وکړي.
امیر علي واک ته له رسېدو سره سم یو مهم کار دا وکړ چې د مالیر کوټله په عامو خلکو لګېدلي مالیې یې لرې کړې. د سیمې خانانو د ټیټې طبقې خلکو نه بېګار اخیستو. په دوئ کې نای(ډم)، کلال، ترکاڼ(نجار)،زرګر او جولا شامل و، دوئ به د خپل عاید یوه برخه نواب ته د مالیې په توګه ورکوله. انګریزانو امیرخان ته د نواب بهادر خطاب ورکړی و. د حیات افغاني لیکوال وایي په دې وخت کې " د مالیر کوټله عایدات د کال دوه نیم لکه روپۍ دي چې یو لک یې په خپله د نواب صاحب لپاره او پاتې یې په ټولو ورونړاو حقدارانو ویشل کېږي".
په ۱۸۳۹ م کې مها راجه رنجیت سنګ په لاهور کې مړ شونو د ده ځای ناستی او مشر زوی کهړک سنګ د دې جوګه نه و چې د خپل پلار په شان یې پنجاب اداره کړي وای او د هغه په کورنۍ کی د سازشونو او وژنو لړۍ پیل شوه.
 په افغانستان کې هم واک له سدوزیو نه غلزیو ته ورغلی و. د شاه زمان وروړشهزاده شجاع د انګریزانو سره په لودیانه کې و او په همدې کال دوی د یو امیر په توګه افغانستان ته د هغه د وراستولو تابیا وکړه. ده ته یو اوږد سفر په مخ و او په لاره کې د سیکانوله سیمو تېرېدل و. نواب امیرعلي ته خواست وشو چې د شهزاده شجاع د بدرګې لپاره وسایل برابر کړي. هغه خپل با اعتباره کسان د مال او اسباب وړلو لپاره لودیانې ته ور واستول.
د نواب کورنۍ ځینې مشران د شهزاده شجاع سره د لودیانې نه پېښور پورې بدرګه ولاړل. په ۱۸۳۹ د اګست په میاشت کې شهزاده شجاع د افغانستان د امیر په توګه کابل ته ورسېدواو د هغه د سیال دوست محمد د پلویانو قهریې را وپاراوه. د انګریزانو نه د غچ اخیستو لپاره د امیر دوست محمد خان

زوی اکبرخان لښکر تيار کړ اودوی ته يې ماتې ورکړه. په دی پېښه په پنجاب کې انګرېزانو خپلو ټولو واکمنو پلويانو ته امر وکړ چې په سرهند کې دې خپلې پوځې ډلې راټولې کړي چی د مالیرکوټله يوه پوځې ډله هم پکی شامله وه. انګرېزانو دا ټولې ډلې معاينه کړې او له دوی نه يې غښتلي او تکړه ځوانان په افغانستان کې د جنګ لپاره غوره کړل.

په ۱۸۴۵ م کې د رنجيت سنګ له زامنود هغه کشر زوی دليپ سنګ پاتې واو سيکانو په شاوخوا سيمو کې حملې بيا پيل کړې وې. هغه مرکزيت چې د رنجيت سنګ پر مهال واوس نه و. همدا وه چی انګريزان د يو سخت جنګ له لارې د ستلج نه پورې د رنجيت سنګ په سيمه کې وردننه شول اوهغه پاليسي چې په تاريخ کې "فارورډ پاليسي" نومېږي په عملي کولويې پيل وکړ، د پرمختګ په نوم د دغې پاليسۍ هدف د هغو سيمو کنټرول و چې په کې جنګ جګړې او شخړې وې. ددی پاليسئ په عملی کولو کې د مالېرکوټله لخواانګريزانو سره مرسته وشوه اواوس د پېښور، ملتان، کشمير او دافغانستان د نيولو لپاره په لوديانه، پټياله اوسرهند کې پوځي اډې جوړې شوی. نواب اميرعلي خان په دې وخت کې سخت ناروغه شواو د مالېر کوټله چارې د ده زوی محبوب علي خان چې په خلکو کې يې د صوبې خان په نوم شهرت موندلی و، په غاړه اخيستې وې.

په۱۸۴۶ م د اپريل په مياشت کی اميرعلي د پينځيوشتو کلونو له نوابۍ وروسته وفات شو. د رحمت علي خان هيله بيا راتازه شوه چې کېدی شي د نوابۍ لپاره اوس د ده دعوه ومنل شي. خو د امير علي خان د مړينې په دريمه ورځ دده ځوئ محبوب علي خان ته د مشرۍ پټکی په سروتړل شو. سيکانوپه ضد جګړې کې د مرستې په منني انګريزانو محبوب علي خان ته د هزرايل هاي نېس خطاب ورکړ. په دې وخت کې يو سيک پوج مهتاب ريکهه د محبوب علي او د رحمت علي د کورنيو ترمنځ د روغې جوړې هڅې پيل کړې.

نواب د خپلې مور او مېرمنې سره د سپين ږيرى رحمت علي کور ته د ننواتې لپاره ورغلو. په هم هغه ماښام رحمت على د خپل زوى دلاورخان سره د نواب خدمت ته حاضر شو او دوى يو بل ته دتحفو په ورکولو روغه وکړه.
د نواب په غوښتنه هغه ټول جاګيراوکلي چې پخوا ورباندى دعوې کېدى، د هغه زوى دلاور علي خان ته وسپارل شول. د ماليرکوټله دنوابانودخدمتونواو د پخلاينى لپاره انګريزانو رحمت على ته درې نور کلي د جاګير په توګه ورکړل. دا وخت په مالېر کوټله کې شامل ۴۳ کلي په داسې ځايونو کې وچې له نورورياستونوسره يې پولې شريکى وى اوتل به پرې شخړې کېدې. په ۱۸۴۷م کې انګريزانوددې سېمى ټولې ځمکې سروې کړې. د رياستونوټول استازي يې را وبلل او هر چاته يې خپل حدود وټاکل.
په ۱۸۴۸ کال کې د نواب محبوب علي خان د يوې راجپوتې کورنۍ جينئ خوښه شوه او دده د دويم واده لپاره د جشن او موسيقۍ محفلونه جوړ شول. دده ځوئ سکندر علي خان په دې خبره سخت په قهر وخومحبوب علي خان په يوه ليکلي سند کې ورته ډاډ ورکړو چې د ده له مړينې وروسته به د نوابۍ حق هم د ده وي. رحمت علي که څه هم د محبوب علي خان سره روغه کړى وه، د نوابئ د حق نه په شا شوى نه و. په ۱۸۵۲ م کى دى پخپله کلکتى ته ولاړواو خپله دعوا يې مخامخ انګرېز ګورنر جنرال ته وړاندى کړه چې هم هلته رد شوه. په هغه شپه زړه ماتى رحمت علي خان ناروغه شو او څو ورځى وروسته د نوابئ په ارمان له نړئ رخصت شو. دده مړى په پورا سرکاري درنوئ مالېر کوټله ته يوړل شو او په ۱۹ فرورى په شاهي هديره کى خاورو ته وسپارل شو.
په ۱۸۴۹ کال کې دانګريزانو اوسيکانو ترمنځ په دويمه جګړه کې سيکانو بيا ماتې وخوړه او ټول پنجاب د انګريزانو لاس ته کيوت. په ملتان کې د سيکانو لخوا يو وارې بيا د بغاوت لمبې پورته شوى او د خپلى ساتنى لپاره دوئ وروستئ جنګ وبايللو. د رنجيت سنګ له اولادونو نه يې ځينې له

انګریزانو سره یو ځای شوي واو کله چې په ۱۸۵۷ کې د هند مسلمان
اوهندوپوځیانو په میرټ او بریلی کی د انګریزانوپه ضد د ازادۍ جنګ پیل
کړ نودوی یې دمقابلې لپاره ور واستول. نواب محبوب علی خان ته هم امر
وشو چې خپل پوځ لودیانې ته یوسي.

نوموړی په نیمائ لاره کی د خبټې د غوټې له لاسه ناروغه شواو بېرته
مالېرکوټلې ته ورستون شو، په خپل ځای یې خپل زوی سکندر علي خان
ورواستو. هماغه وخت دجالندهرپوځیانوهم په خپل بارک کې د بغاوت بېرغ
پورته کړاو انګریزانو سره دااندېښنه پیدا شوه چې دوی به د مالېر کوټله په
لورې وخوځېږي ځکه د ډېلي مغل پاچا مسلمان و اود دې سیمې ډېرو
خلکواوس هم د انګریزانو په مقابله کې د مسلمانانوسره زړه سوی لرله. د
ډېلي ښارکلابند شوی واو په سره قلا کې وروستئ مغل پاچا بهادر شاه
ظفرلکه د یویرغمل پاتې و.

د نواب محبوب علي خان ناروغي انګریزانوته یوه بهانه ښکاره شوه او داسې
یې ګڼل لکه چې هغه د دوی د مرستې نه پښې ویستلې وې، که څه هم د هغه
ځوئ سکندر علي ورسره و.

د مالیرکوټله په جمال پورې کې یوسادهو(فقیر) عیدوشاه یو لیک ولیکلواو
په لودیانې کې یووکیل رستم علي خان ته یې ورواستو.

په دې کې لیکلي و چې د انګریز حکومت به ډېر ژر پای ته ورسېږي. له بده
مرغه دا لیک په لاره د انګریزانولاس ته ورغی. دوی سملاسي عیدو شاه او
دهغه ملګری موهن لال ونیول اوپه دوی د غدارۍ مقدمه پیل شوه. د جون په
پنځه ویشتمه ۱۸۵۷ د لودیانې په بندي خانه کې دوی دواړه غرغره شول.

نواب محبوب علي خان همدې کال د نومبرپه میاشت کې وفات شو. هغه مهال
سکندرعلي په لودیانه کې وخو انګریزانو ورله اجازه ورنکړه چې د پلار
جنازې ته ورشي. دوی د دې خبری سپیناوی کاوه چې د ډیلي پاچا بهادر شاه

ظفر ته يې د مرستې کوم پيغام خو نه و ورلېږلی. کله چې د دې خبرې پخلی وشو نو بيا يې پرېښود چې د خپل پلار د فاتحې مراسم پر ځای کړي. سکندر علي خان د پلار قانوني وارث و خو هغوی نه غوښتل چې د يو باغي پلار زوی دی نواب شي.

محبوب علي خان ډېر مذهبي کس و. ده به ساده لباس اغوستو او کله چې به سحر د اس سپرلۍ ته تلو نو په لاره کې به يې خيرات ورکاوه. نوموړی به کله کله ځمکو ته تلو او د کروند ګروسره به يې ليدل. ده به د برهمن او مسلمان ملايانو ډېر احترام کاوه او په هره مهمه موقع کې به يې له نجوميانو مشوره اخيسته. ده به د تله دان رسم هم کوو او صدقه او نذر به يې هم منل.

نواب سکندرعلي خان د پلار ځای ناستی و خو اوس د رحمت علی زوی دلاورعلي په ګدۍ دعوه وکړه. دده دليل داوچې سکندرعلي خان ناځوانه و او دا چې د حکومت جوګه نه و. خود دې ثبوت ورسره نه و. د لوديانې کمشنراو دهغه مرستيال سکندرعلي خان شخصي پېژندګلوي لرله او دومره ژريې د هغه په اړه قضاوت نه شوای کولی. کمشنر يو ډاکټر د لوديانې نه مالېرکوټله ته ور واستوو چې د سکندرعلي خان فزيکي معاينه وکړي. ډاکټر په خپل رپورټ کې وليکل چې دی روغ و اود نامردئ خبره دروغ وه. د پټيالې راجا نريندرسنګ د سکندرعلي خان ملګری و ده هم انګريزانو ته ډاډ ورکړ. په اخره کی د دلاورعلي دعوه رد شوه او سکندر علي خان په رسمي توګه د مالېر کوټله نواب وټاکل شو.

نواب سکندر علي خان د خپل پلار په شان ساده طبيعت سړی واوله رسمي موقعو نه پرته به په ساده لباس کې ګرځېدو. د ده لومړی کار دا و چې د هر لګښت لپاره يې بوديجه و ټاکله اود پېسوحساب کتاب يې غښتلی کړ. په خپلو ځمکو يې په خپل نوم د سکندر پوره نومی کلی اباد کړ، د غوث ګنج په نوم يو نوی مارکيټ يې جوړ کړوچې کليوال خلک د ښارد کاروباری سيسټم

سره اشنا کړي. د رياست د ښه انتظام لپاره هغه د منصورپور يواوسېدونکی کامدار خان راوستواود مشروزيرپه توګه يې وګمارواو د هغه په مشورې نواب د دوو کسانو نه علاوه د رياست ټول پخواني ملازمان له کاره ګوښه کړل.

کامدار خان يوسخت طبيعته افسرواو غوښتل يې چی په سرکاری معاملوکی ګډوډۍ لرې کړي او اداری بدلون راولي خوپه دی به يې له خانانو سره ناندرۍ وهلې او خلک به يې بنديان کړل. خانان د احتجاج په توګه انګريزانو ته ورغلل. کامدار خان له دندې ګوښه کړی شواو يو ځلې بيا پخواني کارکوونکي راغلل.

په ۱۸۶۰ م کې د رياستي پوځ لپاره د پلو، سپارو او توپچيانوګومارول پيل شو. نوی کسان د يوعصري پوځ په توګه تربيه شول او مياشتينۍ تنخواه هم ورته وټاکل شوه. د پوځ لپاره به اسونه او توپونه بيل اخيستل کيده او ښېنډ غږول او د پرېډ (رسم ګزشت) دود پيل شو. په مهمو ځايونو لکه خزانه، جېل، او د ښار په مهمو دروازوبه پوليس ولاړ و. هرساعت به نغاره غږېده سره له دې چې هغه وخت ډېرو خلکو ساعتونه لرل.

د نواب سکندر علی خان لومړۍ واده په ۱۸۳۸ کې د عطاالله خان له لمسۍ کرامت النسا بيګم سره شوی و، په ۱۸۴۹ کې د هغې زوی غوث محمد وزېږېدو. نوموړی په ۱۸۶۰ م کې د چيچک د ناروغۍ له امله مړ شوخو دلاور خان د غوث علي خان په اړه وويل چې هغه د نواب زوی نه و. په ۱۸۶۱ کال کې يې يو بل زوی روشن علي و زېږېدو. نواب دويم واده د خپلې يوې بلې ترلې بوعلي جوېريه بيګم سره وکړخو د هغې اولاد و نه شو.

کله چې د نواب لومړی زوی مړ شو نو د دلاورعلي خان کونډې د خپلو دووماشوم زامنو ابراهيم علي خان او عنايت علي د حق لپاره دعوه وکړه. هغې د نواب د يوازيني زوی روشن علي خان قانونيت وننګوه ځکه د انګرېزد

قانون تر مخی مشر ځوئ به د پلار ځائ ناستې و. د دې لپاره هغې په بيلا بيلو سرکاري دفترونو کې افسرانو ته پيسې ورکړې. خو انګرېزکمشنر د هغی دعوا ونه منله. دوی د رياست حاکمانو ته ليکلی سند ورکړي و چې دوی خپل ځای ناستی په خپله ټاکلی شي. روشن علی هم په ماشومتوب کی مړ شو.
د دلاور خان کونډی د خپلو ځامنو د حق لپاره بخشي الله خان ته چی ددی د ځامنو سرکاري سرپرست و ، دری زره د سرو زرو سيکی ورکړی وی چی د کمشنر په دفتر کې يوبل تن رام پرشاد ته يې د انګرېز کمشنر ته د سفارش لپاره ورکولی. رام پرشاد د بخشي الله خان نه پېسې اخيستې وې

او بنائ انګرېز کمشنر هم ځينی کارونه د رشوت په بدل کی کړی وی. خو د هغه بدبختي دا شوه چې انګريز کمشنر بارنيز مړ شو او د هغه پر ځای نوی کس هربرټ ايډورډ مقرر شو.
ده په انتظامي چارو کې سختي وکړه او د بډورشوتونو پلټنې يې پيل کړې. د دلاور خان کونډه هم د قانون نه خبره شوه چی هغه د ځامنو لپاره په دی ډول خپل حق نشی اخيستی نود بخشی نه يې هغه پيسې بيرته وغوښتې. رام پرشاد د سرو زرو د دريو زرو مهرونو(سيکو) په اخيستو تورن شو او دغه تورونه پرې ثابت هم شول. رام پرشاد د نواب سکندر علی هم نه خوښېدواو ايډورډزهربرټ ته مشوره ورکړه چې دی له کاره وباسي. ايډورډ هغه په شپږو کلونو بند محکوم کړواو بخشي الله خان دوه زره روپۍ جرمانه او د حکومت دعهدې نه لرې کړی شو. د دلاور خان ځامنو ابراهيم علی او عنايت علی ته د انګريزانو له لورې دنارنال کنهيالال اګروال سرپرست مقرر شو. نواب په دې خوشحاله نه و او نه يې دا غوښتل چې نورڅوک يې سرپرست وې. ده په خپله د خپل تربور د زامنو تربيه غوښته.

هند اوس پورا د انګریزانو په لاس کې واو په ۱۸۲۹ کې لارډمايوپه امبالې کی د افغانستان امیر شېرعلي خان په درناوي يو دربار را وباله چې د پنجاب ټولو مشرانو په کې ګډون وکړو. په دې دربار کې نواب سکندر علي خان ته يې د نهوتوپو د سلامۍ اعزاز ورکړ. له دې دربار نه په واپسۍ نواب سکندر علي خان ناروغه شو، او داسې ښکارېده چې د سيل (ټی. بی) په مرض اخته شوی و. ده له څو کالو راهيسې هڅه کوله چې نوابي او جاګير سره يوځای کړي چې د خانانوزور کم کړی.

د زوی په نه لرلو ده د ابراهيم خان د فرزندۍ اراده هم کړې وه او د دلاورخان کونډې ته يې ويلي و چې دخپل زوی د فرزندۍ خواست دې انګريز ته وړاندې کړي. هغې خواست وليکلواو نواب په خپله انګريز کمشنر ته يوړ. په دې درخواست کې د نورو خبرو سر بېره دا هم ليکلي و چې دواړه ورونه دې د زده کړې لپاره انګلستان ته واستول شي.

انګريزانو دغه درخواست رد کړوځکه د هغوئ دليل دا و چې په اسلامي قوانينو کې دغسی فرزندي نه منل کېږي اوکه دا ومنل شي نود جمال خان د کورنۍ نورغړي به هم دعوه کوي. بله انګلستان ته د ماشومانو استول هم د اندېښنې وړ و، ځکه د نوابې کورنۍ دشمنی ډېره وه اوکه پرماشومانو څه شوې وای نوحکومت به پړ و. انګرېز نواب سکندر خان ته مشوره ورکړه چې که دی غواړي ابراهيم دې نواب شي نو پخپله دی له نوابۍ ګوښه شي خو نواب په دې خبره ډېر خپه شو. دغه قضيه څلور کاله روانه وه. نوموړي د اولاد لپاره په ۱۸۲۵ کال کې دريم ځل د الف خان نصرت خاني له لور سره واده وکړاوکال وروسته د هغې لور وزېږيدله چې يوازې لس ورځې ژوندۍ وه. د ۱۸۷۰ کلونو په لومړيو کې د نواب د کمزورۍ ځېنې ښې نښانې په ډاګه شوې، په دی کال ډيوک اف ايډنبرا (د برطانيې شهزاده) هند ته ولاړ او د ده په اعزازي ميلمستيا کې نواب هم ګډون وکړ. خو ډيوک د نواب سکندر علی

خان د میلمستیا بلنه ونه منله اونواب په دې خپه او صحت یې نور هم خراب شو. انگریزانو ورته خپل ډاکټران ور واستول خو دی روغ نه شو
په ۱۸۷۰ کی یې د بریطانیې د شهزاده مالیر کوټله ته سفر وکړو. ددی لیدنی لپاره د انگرېزانو له خوا مالېر کوټله ته د پروگرام تفصیل ور واستول شو. چی د هغه وخت دنوابانو په حېثیت رڼا اچوئ.
" د رېاست(مالېر کوټله) سرکاری افسران به د ښار نه څلور میله بهر د لېفټېننټ گورنر (مېلمه) هر کلی ته ورځی. نواب به د ښار نه دری میله لری د مېلمه هر کلی کوئ او هغه ته به بوه لینده ورکوئ.. نواب به په پیل ہا په اس گاډی کی د محترم مېلمه کینې خوا ته کښېنی محترم مېلمه کله چی ښار او ېبا مېلمستون ته و رسېدونو هغه ته به د نولسو توپو په ډزو سلامی ورکړی شی (یعنی دوه ځلی به ورته د توپو سلامی ورکړی کېږی) کله چی دی د گاډی نه راښکته شی نو دده د ساتندویانو مشر به ورله خپله وسله وړاندی کوئ
نواب به د محترم مېلمه سره د هغه کېږدئ ته ورځی او بیا به تری رخصت اخلی
د یوی لنډی وقفی نه وروسته دمالیر کوټله دوه سرکاری افسران به د مېلمه د روغتیا پوښتنی لپاره ورځی او د هغه د مېلمستیا(ډوډئ) لپاره به ورته دوه سوه روپئ ورکوئ. (انگرېزانو به خپله ډوډئ پخپل اشپز پخوله)
د نواب سره لیدنه
د نواب سره به د کمشنر مرستیال او یا معین مرستیال بدرگه ځی دمېلمه د منشی او د پولیټیکل اېجنټ (سیاسی استاځې) له خوا به ددوئ هر کلې کېږی، چی د (مېلمستون) قالینی په وروستئ څنډه به ورته ولاړ وی، مېلمه به دوه دری گامه وړاندی راځی چی د نواب سره روغبړ ووکړی بیا به دی خپلې کینی خوا ته په چوکئ کښېنوئ. ، سیاسی استاځې به د نواب ښې لاس ته او د نواب خپلوان او نور افسران به د اېجنټ کینی او د حکومت سکتر(چارواکی) او د مېلمه نوره عمله به د مېلمه کینی خوا په چوکیو کښېنی. نواب به بوه

لینده او دده خپلوان به د سرو زرو مهرونه (سیکی) مېلمه ته ورانّدی کوئ .
د لنډو خبرو نه وروسته به خلعتونه راوړل کېږی. دروند مېلمه به راپاسی او د نواب لپاره راوړل شوی خلعت ته به لاس وروووړی، سکتر به خلعت را اخلی او نواب به د سکتر د لاس نه دا خلعت اخلی. ابراهیم علی ، عنایت علی او غلام علی خان به پخپل وار د مېلمه د شخصی منشی د لاس نه او د نواب افسران به د میر منشی د لاس نه خپل خلعتونه اخلی. مېلمه به پخپل لاس نواب ته عطر او پان ورانّدی کوئ او د هغه خپلوانو او افسرانو ته دپان او د عطر ورکولو کار به د شخصی سکتر او میر منشی له خواتر سره شی. د نواب د بېرته تگ مراسم به هم هاغسی وی لکه چی د راتلو پر وخت یې ووېعنی نولسو توپو د سلامئ او د ساتندویانو له خوا د وسلو ورانّدی کول.

د لېفتېيننټ گورنر بېرته تگ

ابراهیم علی، عنایت علی، غلام محمد او سپرنټنډنټ کنهیا لال به د مېلمه د بدرگی لپاره کېمپ ته ورځی او پخپله نواب به د لاری په دربمه برخه کی د هغه هرکلی کوئ.نواب به په پیل یا اس گاډی کی د مېلمه کینی خوا ته کښېنی. په دربار کی به مېلمه د نواب ښی لاس ته، سیاسي استاځی به یې کیڼ ، د نواب خپلوان به د استاځی کینی او سکتر او د مېلمه افسران به د مېلمه ښی لاس ته کښېنی. خانان او نور افسران به دتحفی او د نذر پېسی، او نواب به د سروارنی (د مېلمه دسر صدقی) څلور سوه روپئ ورانّدی کوئ .
د لنډو خبرو نه وروسته د مېلمه پېشکش (تحفه) راوړل کېږی. نواب به د مروارېدو امېل مېلمه ته په غاړه کوئ. پداسی حال کی چی مېلمه به په خپل ځای ناست وی. نواب به مېلمه ته عطر او پان ورانّدی کوئ او په دی کار به دا مراسم پائ ته وورسېږی. د محترم مېلمه د بېرته ورتگ مراسم به هم د هر کلی د مراسمو په شان په اړولی ترتیب وی".

Download From: AghaLibrary.com

د سکندر علی خان د مړینی نه ځو ورځی وړاندی د ۱۸۷۱ کال د جون د میاشتې په ۲۹ نیټه خپل وصیت ولیکه. ددی وصیت له مخې ابراهیم علي خان د هغه وارث شو او دی د همدې کال د جولای په شپږمه نیټه مړ شو. د نواب په جنازه کی داسې خبرخپورشو چې ګوندی د ده د مړ وجود نه چاروا کو قیمتي ګاڼی لري کړي او د ده د کورځینې پټکي انګریزانو ته ورکړل شوی و. د ده په فرزندۍ اخیستل شوی زوی ابراهیم خان هغه وخت د څوارلسو کالو و. نواب سکندرعلی خان د خپلی نوابۍ په سر کې ډېره کمزورې پالیسي خپله کړې وه او انګریزان د ده له انتظام خوشاله نه و خو وروسته ده ډېر کارونه وکړل. په ټول ریاست کې یې د ځلوېښتو نه زیات ښوونځي جوړکړل چې په کې عربي، فارسي او انګلیسي ژبې زده کېدی. د مالېرې دروازې نه بهر یوه لویه ویاله بهیدله چې په باران کې به په کې اوبه را وختلې او خلکو به پرې تګ راتګ نه شو کولی، دلته یې یو پل، د مالېرکوټله اولودهیانې ترمنځ یې دیارلس میله پوخ سړک اوپه خپلې ماڼۍ سکندر منزل کې د دربار لپاره یوه ښکلې دیوان خانه دده د دوری مهم جوړښتونه و. د انصاف لپاره یې عامو خلکو ته محکمې اوعدالتونه او د برتانیانې ښاري انتظام یې پېل کړو.
که څه هم دا څرګنده وه چې څوارلس کلن ابراهیم علی خان به د مالېر کوټله نواب وي خو د هغه یو تربور غلام محمد په ګدۍ دعوه وکړه. ده دلیل راوړ چې د ده د پلار نیکه بهادر خان او بهیکن خان سکه ورونړه و اوبله دا چې فرزندي په اسلام کې نه منل کېږي. که څه هم انګریزانو د ده له دعوې سره خوا خوږې څرګنده کړه خو اصل خبره دا و چې دغلام محمد خرڅ ډېروا وخلکو ته به یې د خیرات پیسې هم ډېری ورکولې. په ده دوه نیم لکه روپۍ پور وې او د ده د مزکو په دعوو او محکموهم پیسې لګیدلې.
انګریزانو د معلوماتولپاره د کمشنر نه رپورټ وغوښت هغه ولیکل "غلام محمد ته په دې وخت کې د نوابۍ ورکول داسې دي لکه څوک چې دلیوني

پيل (هاتي) په خوله لرگى ومنډي" يعنى دى د نوابى ورڼه و. انګريزحکومت چى د ابراهيم علي خان د نوابى د تصويب ليک ورواستوونومالېر کوټله عملآ په دوو برخو ووېشل شوه. يوخوا ځمکه وال او بله خوا د نوابې کورنى خلک و چې يوازې د مالېرکوټله ښاراو کلا يې په لاس کى وه. ماشوم نواب ابراهيم خان د انګريزانو تر څارنې لاندې په امباله کې د انګريزي او فارسي ژبو زده کړه کوله. د ده په سرپرستانو کې قاضي احمد شاه، انګريز ويک فيلډ، اغاصاحب او د لوهارو نواب شامل و. د هندوستان د نورو سوونو رياستونو په شان د مالxر کوټله نوابى هم اوس تر رسمياتو پاته وه. عام خلک د انګرېز رعييت واو تر ډېره حده يې په امن کى ژوند کوو.
خو په مالxرکوټله کى د نولسمى پېړۍ په وروستېو کى د سيکانو نورى وينى توېدل لا پاته و. د سيک مذهب يو ترکاڼ چې بهايي رام سنګ نومېدو ، دهري سنګ په نامه يې ځان ته يوه مذهبي ډله جوړه کړه، چې مرکز يې د لوديانې د بهينz په ولسوالى کې و. دى ډلى د سيکانو لس واړه ګوروان منل خو په مذهبي تبليغ کې يې بدلونونه راوستي و. دوى د اکالي دل (د سيکانو يوه بله ډله) نه زيات سخت اود ګوروګوبند سنګ ريښتوني منونکي و. دوئ به وړين کالي اغوستل او تل يې د وړى څادر له ځان نه تاو کړي و. د ګورګوبند منونکي خپل پټکي له سر ونو نه ليرې کول اود سرغړونى لپاره يې بايد جرمانه ورکړي واې. خود بهايي رام سنګ منونکودومره سختي نه کوله. کله چې دوى خپلې مذهبي سندرې ويېلى نو په حال به راغلل، پګړى به يې له سرونو ليرې شوى اواوږدوويښتوبه په ورته په اوږوټالۍ وهلى. دوى چې کله هم سندرې ويلې نود حلق نه به يې غړونه را ويستل چې خلکو به ورته کوکې ويلې. ډېر زر دا ډله د کوکا په نامه ياده شوه او بهايي رام سنګ دا نوم بد و نه ګڼلو. ده د خپلې ډلې د غړو لپاره يو مخفي ټکى(کوډ) جوړ کړى و چې بهرني خلک پرې خبرنه و. دا کوډ دوى خپل کوروالو ته هم نه ښودلوترڅوچې په کې

شامل نه و. یوځلي بهایي رام سنګ د پټیالې په سفرتللی و. د هغه مننونکي په کوڅوکې تېرېدل او خپلې مذهبي سندرې یې ویلي. دوئ ډول هم وهلو اود ډېرې جذبی نه ګډېدل. خلک به د دوی له دغه مذهبي جوش نه ډېر متاثره شول. د پټیالې مها راجا غوښتل چې د دوی مخفي ټکي پیدا کړي نوخپل دري کسان(جاسوسان) یې وروا ستول چې د بهایي رام سنګ په ډله کې شامل شي. دغه کسان چې بیرته راغلل نو مهاراجا ته یې د مخفي کوډ د څرګندولونه ډډه وکړه. اود کوکا ډلی په اړه تلوسه زیاته شوه.

د کوکا ډلی پېروپانو بهایي رام سنګ د یولسم مشر او دهغه وروربوده سنګ د خپل دولسم مشر په توګه منل خو د ګورګوبند پېرویان دوی نه مني. د دوی شمېرپه زیاتېدو شوه او د بهایي رام سنګ په ژوند کې یولکو ته ورسېدله. ده په هرو پنځلسو زرو منونکویو صوبه دارمقررکړو. په ۱۸۷۲کی دده یو صوبه دارد بهایي رام سنګ نه بغاوت وکړ،او خپلومنونکو ته یې په مسلمانو ریاستونود حملې غږ وکړو. بهایي رام سنګ د جنګ جګړی مخالف ونوسمدستي یې په دې اړه انګریز ډپټي کمشنر ته اطلاع ورکړه. هغوی ټولو ریاستونوته د ممکنه جنګ لپاره د تیار اوسېدو غږ وکړو. د صوبه دارزرواو پنځلسوسوو شاو خوا پیرویان بی له دی چې دخپل مشرنه یې اجازه اخیستی وای، د مالېرکوټله په لورې روان شول. دوی په سر کې د رام پور په کلي یرغل وکړاوکلیوالود کوتکونو په زورتېښتې ته اړ کړل. په هغه شپه د مالېر کوټله شاوخوا ورسېدل چې د کلا یوځای پکی مات شوی و. سهار وختي دوه سوه پنځوس تنه چی پلي او سپاره وپه دی مات دېوال د ښار له کوڅو او بازارونونه په تېرېدو سرکاري خزانې ته ورسیدل او اصطبل ته یې ځان وررورساوه اودا روغه یې ووژلو.

اصطبل ته د دې لپاره ورتلل چې اسونه اووسلې تر لاسه کړی. په دې وخت سپېده چاودیده او د زنانه مانۍ څوکیداره چی د محل چت ته ختلی وه ویې

ليدل چې دوی سايیس او کوچوان په وهلو بوخت و. څوکيداری چيغی ناری ووهلی نود قلا او د ښار خلک را پاڅېدل.
دوی په کاڼواو خښتود يرغلگرو په وهلو لاس پوری کړو. هټيوالو هم پرې دتيږوگوزارونه وکړل. يو يې د کلا په منځ او پنځه نور يې په بازار کې ووژل شول. کوکا ډله اوس سخت وارخطا او په تيښته وه. هغه وخت د دوی مخې ته کوټوال راغی چی دوئ وواژه. د سپاره پوځ يوتن محمد خان ورپسې په ځغاسته يو څو تنه ووژل خوخپله هم ووژل شو. کله چې حمله کوونکي له ښاره ووتل نو هله د مالېر کوټله دفاعي ځواک عمل وکړ او توپونه يې په کلا ودرول او پوځ مارچ پيل کړ. د مالېرکوټله خلکو ته جوته شوه چی ددوئ د رياست تربيه شوی پوځ د دفاع توان نه لرلواوپه تېروڅو کلونوکی خپل جنگی صلاحيت د لاسه ورکړی و.
د ښار چار چاپيره د گاونډيوررياستونوپوځ په پهره ودرول شواو د باغيانو لټه پيل شوه. باغيان د شېرپور ولسوالۍ ته چې اوس د پټيالې يوه برخه وه ولاړل. هلته د سامانه نيازعلي چې د پوليسو تهانه داروړ دوی هرکلی وکړ، د شپې تېرولو لپاره يې ورله يوه کوټه ورکړه د دوی وسلې په نژدې کوټې کې کېښودل شوې اوټول په دغه کوټه کې ويده شول. دوی گمان نه کاوه چې دومره ميلمه پال افسر به ورسره دوکه کوي.
دوی چی کله له خوبه پاڅيدل نو وسله وال پوځ يې په سر ولاړ و. دوی يې په پړو وتړل او په يوه گاډي کې يې مالېرکوټله ته ولېږدول. په لاره يې دوی څارل چې څوک سيند يا څاه ته ټوپ و نه وهي او ځان مړ نه کړي. په مالېر کوټله کی د غلام محمد خان يو لوی کور دی بنديانو لپاره يې لنډ محالی جيل کړواو په دوی پهره ولگيده. بنديانوڅه حرکت نه کاوه او په ارام د خپل راتلونکی په انتظارشول.

د لودیانې ډپټي کمشنرقانون پخپل لاس کی واخیستو، امر یې وکړ چې ټول بندیان دې په توپونو والوزول شي. دی بندیانو په اړه نه کومه پلټنه وشوه او نه له دوئ بیان واخیستل شو. درې لوئ توپونه د مالېر کوټله د کلا جمال پوردروازې مخې ته راوړل شول.

د ۱۸۷۲ م د جون د میاشتې اتلسمه نیټه او د مازدیګر درې بجې وې چې له کوکا بندیانو نه یې دوه دوه د توپوخلوکې وتړل شول، یوې خوا ته پوځیان کتار ولاړواو بلې خواته عامو خلکو تماشا کوله. دا یو عجیبه ننداره وه د مرګ خولې ته دومره نژدې دوی د ست سرې اکال ناره وهله. په دوی کې یوکس هم په ویره نه و. په خپله به راغلل او د توپ خولې ته به ودریدل. لومړي څلور کسان په پړي تړل شوي و خو وروستیو کسانو په خپله د توپ خولې ته ځانونه برابرول. یوکوکه باغي هغه وخت ډپټي کمشنر ته ښکنځلې وکړې او غوښتل یې د هغه ږیرې ته لاس واچوي خود هغه ساتندوئ له خوا لاس یې په توره پرې شواو سملاسي ووژل شو. په لومړي ورځ شپږدیرش بندیان په توپونو والوزل شول او پاتې نور یې په بل سحر. ټولټال اویا کوکه باغیان تربلې ورځې ووژل شول او د دوی مړي یې یوې لویې کندې ته وغورځول. له دې پېښې وروسته انګریزانوخپل کمشنراوډپټي کمشنرد خپلو عهدو(وظیفو) نه لرې کړل. ځکه د حکومت په نظر دا یو غېر قانونی عمل و. بهایي رام سنګ د ټول عمر لپاره رنګون ته ولېږدول شو. د شېرپور تهانه دار سیدنیازعلي ته لس زره روپۍ او د مجسټریټ عهده هم په انعام کې ورکړل شول. نوي کمشنر مالېرکوټله ته یو پلاوی واستوو چې د دغه ځای د چاروڅارنه دې وکړي.

ابراهیم علی خان په ۱۸۷۷ کې د ډېلي په دربار کې ګډون وکړ. او بل کال ته یې د سرحد صوبې اوافغانستان د بېلا بېلو جنګونولپاره د خپلو پوځیانو یوه ډله انګریزانو ته ورکړه. د پوځې مهماتو لپاره له مالیر کوټلې نه اسونه،

قچرې اوخرې هم ورلیږل کېدې. ده د لوهارود پښتنون نواب له لور سره واده کړی واو دری زامن یې لرل چې اسحق علي خان (په انگرېزی ژبه کی دده د نوم په املا ځینو لیکوالانو دی عشق او ځینو عاشق علی بللی دی) احمدعلي خان او جعفرعلي خان نومېدل. په ۱۸۸۰ م کې د ده زوي اسحق علي خان او مېرمنه یې په یوه ناڅاپي پېښه کې مړه شول او دې پېښې د ابراهیم په ماغزو دومره اغیز وکړ چې آن لیونی شو.

د ابراهیم علی خان د څارنې لپاره یوسرپرسته ډله وټاکل شوه چې د ده زوی احمدعلي خان هم په کې شامل و. ماشوم احمد علي د خپل پلار په ژوند کې د مالیرکوټله ځینی رسمی کارونه په غاړه اخیستې و. ده د لاهورپه ایچې سن کالج کې سبق ویلو او درام پورد پښتانه نوابې کورنۍ کې یې واده کړی و.

په مالیرکوټله کې د تربورانو په دعوااود هغوی د اولادونو ترمنځ د ځمکې په سرپه جگړولوی کلي اوس په وړو وړو برخوویشل شوي و. په ۱۹۰۳ م کې احمد علي خان په رسمي توگه د ریاست د نوابۍ ځینی کارونه په غاړه واخیستل او په ۱۹۰۵ کال یې د لاهور په دربار کې گډون وکړ. په ډېلي کې د انگلستان د پنځم جارج او د ده د ملکې مېرې د راتلو په ویاړیودربار جوړ شوی واو په دې کې د مالېرکوټله سپین ږیرو له خپل نواب سره یوځای گډون وکړ. اوس په لومړي ځل د دې نواب او پوځ دځېنوډلوعسکونه خپاره شول،او د شلمې پېړۍ له پیل سره د مالیر کوټله پخوانی دور هم پای ته ورسید.

نواب او انگرېز

د شپې دولس بجې په دې لوی تالارکې انگریزانو په شوراو زوږ د نوي کال هرکلی وکړو. جامونه پورته شول او نولسمه پېړۍ رخصت شوه. د مالیر کوټله

محمد احمد علی خان هم د انگریز استازې سره ولاړ دی او د دې محفل نه وروسته خپلې مانۍ ته راستون شو.
په تېرو څو کلونو کې ده له انگریزانو نه ډېرڅه زده کړي و، د اوسنۍ زمانې په تعلیم سمبال دی په انگریزۍ ژبه خبرې کولی شي. د ده جامې او د استعمال ډېرشیان د اروپا نه راتلل او دی په دې ډېرخوشحاله و چې د پرمختګ په کارونوکې اوس له ده سلا مشوره اخیستل کېده. د پټیالې نه مالېر کوټله ته د پوخ سړک د جوړېدو وروسته اوس د اورګاډي په پاټلۍ کار روان و. ددی لپاره د مرکزی حکومت د خزانې نه اته لکه روپۍ ورکړل شوي وې. د ده هیله دا وه چې که دا په نوي کال کې ترسره شي نو له خپلو سیالانو سره به سیال شي. څو میاشتې وروسته د ده ارمان پوره شو او د مالېرکوټلې خلکو د لومړي ځل لپاره اورګاډی ولید.
محمد احمد علي خان له خپلې ترلې(عنایت خان لور) سره واده کړی و،خو ده د رام پور له پښتنو سره هم نژدې اړېکې لرلې او دویمه ښځه یې له همدغې کورنۍ نه کړې وه چې له هغې یې یو زوی افتخارعلي خان زیږیدلی و. محمد احمد علي خان د خپل ناروغه پلار له لېدو وروسته سکندرمنزل نه خپلې مانۍ مبارک منزل ته راستون شو. نواب ابراهیم په لیونې نواب مشهورو.. د مالېر کوټله سرکاری کارونه احمد علي خان سرته رسوي او په ډېلي کې سږ کال د دربار بلنه ده ته راغلې ده. نوموړی له خپلو ملګرو سره کښېني او د دې دربار لپاره د مالیرکوټله لخوا د پېشکش یا نذرانې پلان جوړوي. ستونزه دا ده چې هغه وخت په ۱۹۰۳ کال کې په دی وړوکي ریاست کې نه پوځ دومره پیاړی نه و چې پریډ(رسم گذشت) یې کړی وائ او نه هم د نواب سره خپلو تربورانو ملاتړ کوو. له دې کورنۍ سره یو څو پخواني سپین ږیري پوځیان و چې د انگریزانو له راتګ سره به یې خپل دودیز لباس او پګړۍ په سرکړی او

دوی به ورته حېرانه و. د شپې تر ناوخته سپین رېږو پوځیانو یو پلان جوړ کړ چې دوئ به په دربار کی څه کوئ.
په راتلونکو څو ورځو کې دربار ته د تللو تابیا وشوه. د نواب سامانونه لا پخوا لودیانې ته او له هغه ځایه په پوځي ټرکونو ډېلي ته رسول شوي و.
انګریزان اوس له بنګاله تر پېښوره خاوره په لاس کې لرله او د هند هغه شتمني چې پرنګیانو یې افسانې اوریدلې وې اوس د دوی په لاس کې وې.
د کوه نور الماس چې نادر شاه افشار د مغل خزانې نه لوټ کړی، د احمد شاه د لمسي شاه شجاع نه د سیکانو مها راجا رنجیت سنګ کورنۍ ته رسېدلې وه ، اوس انګریزانود هغه ماشوم زوی شهزاده دلیپ سنګ سره یوځای انګلستان ته وړی او هلته یې ملکی وکټوریی ته ډالۍ کړی و.
نواب چې په خپله ډېلي دربارته ور ورسېد نو په یو لوی میدان کې یې خپله کېږدۍ وموندله. دلته د هرې سیمې راجا او نواب لپاره بېل بېل ځایونه ټاکل شوي واو څو ورځې په میلمستیاو، مېلو او تماشو تېرېدی. له نوابانو سره ورغلیو نوکرانو د هغوی اسونو او پیلانو ته بیل ځایونه جوړ شوي و.
په ټاکلې ورځ به دوی ټول د خپلې خپلې سیمې د شان او شوکت د ورښودلو لپاره د انګریزانو په وړاندې به حاضرېدل.
د مالېر کوټله واررا ورسېد نودوه کېږدۍ په مېدان کې ودرول شوی او زړو پوځیانو خپل پریډ پیل کړ. دوی د خپلې سېمې افغاني لباس اغوستی او توري یې ترملا تړلې وې. دوی له یوې کېږدۍ به وار په وار را ووتل او په بلې به ور ننوتل. حاضرینو ته ښکارېده چې په سلګونو پوځیان له خېمې نه راوځې او په بل ور د ننه کېږي. تر ډېره وخته دغه پریډ روان و او هلته ناست مشران حیرانه و چې دغه وړوکي غوندې ریاست څومره ډېرپوځ لري آن تر دې چې هلته ناست د انګریزانو استازی هم حیرانه پاتې و. د پریډ په ختمېدو ټولو لاسونه وپړکول او وروسته د انګریزانو ګورنرجنرال له محمد احمد علي نه

پوښتنه وکړه چې هغوی څومره پوځیان لري او څومره یې له ځانه سره راوستی و. محمد علي ورته وویل چې دا خو دولس کسان وچې خپل کمال یې درته وښوده. خو مالېر کوټله یو څو سوه پوځیان لري چې تېر کال له چین نه ستاسو له خدمت وروسته راستانه شوي دي.
شل کاله پخوا په دې ریاست کې نواب سره دوه سوه پلي پوځیان، وو شپېته سپاره، شپاړلس توپچې اواته مېداني توپونه و ځکه چې دوی یوازې دا نه چې په صوبه سرحد کې انګریزان بدرګه کول بلکه د هند نورو برخو ته یې هم استول. نواب ته اوس د یولسو توپود سلامۍ حق هم ورکړل شوی واواوس د مالېرکوټله په ریاست کې دوه سوه دیارلس کلي شامل و. دلته د اوسېدونکو خلکو شمېره هم په زیاتېدو وه. د سلو زرونه ډېرو خلکو اوس دغلته ژوند کاوه چې اویا فیصده یې مسلمانان و.
په ۱۹۰۵ کال کې دلته هغه مشهور بازارچې هټۍ یې په پخو خښتو او دوه پوړیزه دي جوړ شود دې په لرګینو دروازو ښکلې نقاشي وشوه او لګښت یې ښاروالۍ ورکړی و. دا موتی (ملغلرو) بازار ونومول شو او هرچا چې دلته هټۍ اخیسته نو له ښاروالۍ سره به یې تړون لاسلیک کاوه چې تر سلو کلونو به نه د دوکان مخه بدلوي او نه به یې په جوړښت کې څه بدلون راولي. د بازار شاته پاخه کورونه او کوڅې جوړې شوی،له دې سره په مالېر کوټله کې د بریښنا مزي هم وغزیدل او خلکو د تېلو ډیوې وغورځولی.
په ۱۹۱۱ م کې نواب ابراهیم علي خان له دنیا سترګې پټې کړې او محمد احمدعلي خان په رسمي توګه نواب اعلان شو. په سکندر منزل کې ده خپل ټول خپلوان را بللي و او له دوی یې د وفادارۍ ژمنه اخیستې وه. د ده تره غلام محمد د نوابۍ په دعوه ورسره تر اوسه کینه ساتله اومحمد احمد علی هر وختې چې موقع پیدا کړله هغوی به یې سپک کړل. د ده یوه نیمګړتیا دا وه چې د خپلې کورنۍ له غړو سره یې نژدې اړېکې و نه ساتلې. هغوی ټولو ته

يې د رعايا په سترګه کتل، په تېره بيا د غلام محمد له کورنۍ سره خو يې سمه دمه دښمني پاله.

د ده پرمهال مالېرکوټله ته د انګرېزانو تګ راتګ لا زيات شو. په ژمي او پسرلي کې به د ده انګرېزملګري اود هغوئ کورنۍ يې د ښکارا ومېلولپاره د مالېرکوټله شاوخوا ځنګلونو کې په اسونو ګرځېدل. په ۱۹۱۴ کال د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال مالېرکوټله خپل ټول وسايل او لږ شمېرپوځيان انګريزانو ته وسپارل اوغوښتل يې چې انګريزان له ده نه راضي اوسي.
په ۱۹۱۲ م کې ټولو خانانو په ګډه د نواب د پخلاينې لپاره ده ته نذرانه راوړه. د سکندر منزل په لوی تالار کې دوی د هغه په انتظار ناست و، ځينې په کې ډېر سپين ږيري و.
د نواب عادت و چې هرمحفل ته به ناوخته ورتلو او دا د دې لپاره چې ټول خلک ورته درناوي لپاره ودرېږي خو په دې موقع سپين ږيرو پښتنو دا فکر وکړچې احمد علي تر دوئ کشردی نوورته و نه درېدل، او يا دا کېدی شي چې دوی له وړاندې دا فيصله کړې وه چې نه به ودرېږي.
په دې کاراحمد علی سخت په قهر شو او په پايله کې د انګريزانو له خوا يې په دوی د ماليو سره سره سخته جرمانه هم ولګوله. د ماليو په زياتېدو د صدرالدين د کورنۍ په ځينو پښتنوکې نا ارامي او خپګان پيدا شو. دوی له سيکانو سره لاره جوړه کړه او غوښتل يې چي د پخوا په شان يو پوځي بغاوت وکړي خو اوس د دې وخت تېر شوی و. انګرېزانو د خپلو غښتلو چارواکو پرمټ دا سيمه په ډېرهنراداره کوله اوهيڅا دومره توان نه لرلو چې د دوئ له قانونه يې سرغړولی وائ. خلک په لومړي ځل پوه شول چې اوس به د حکومت لپاره يوازې زورنه بلکه سياست هم په کاروي

په ۱۹۱۸ م کې د لومړي جنګ په پای کې د مالېر کوټله اوسېدونکو د انګریزانو نه زیاته ارامه ساه واخیسته ځکه د دوی ځوانان د عسکرۍ لپاره وړل کېده. خو بل کال یعنې په ۱۹۱۹ م کې دافغانستان سره په دریم جنګ کې انګریزانو ته نور وسایل په کارشول. د شلمې پېړۍ په دریمې لسیزې کې دلته د هلکانو یو ښوونځی او یو کالج پرانیستل شوی و ،او دغه راز یوه ستره محکمه جوړه شوه چې په لومړي ځل خلکو په کې خپلې دعوې وړاندې کړې. خو نواب احمدعلي خان د وخت په تېرېدو ځان په شرابو کې غرقول پیل کړل. د خپل پلارابراهیم علی په شان په ده کې هم د اعصابي نارغۍ نښې نښانې پیدا شوې. د ده د کمترۍ د احساس ځینې پېښې وې چې خلک یې شکمن کړل. په سختې ګرمۍ کې به دی د چت د پکي لاندې نه ویده کېده چې پکی به را پریوزي. که په مانۍ کې به څوک زکام شونو دا کس به یې خپلې کوټې ته نه پرېښوده چې دی هم زکام نه شي. کله چې به یې په خپلې مانۍ کی شراب څښل نو یو تن ته به یې د بوتل د سرد خلاصولو وویل، هغه کس به د بوتل نه جام ډک کړاو د نواب په وړاندې به یې وڅښل. احمد علي به کله یوه ساعت یا دوه ساعته انتظارویست چې دشرابو اثر وګوري. کله چې به یې تسلي وشوه چې په شرابو کی چا زهر نه دی ګډ کړی نو بیا به یې هغه شراب وڅښل. په ډوډۍ کې به یې هم دغه احتیاط کاوه، دی به هروختې له خپلو معلوموا و نامعلومو دښمنانو په ویره و.

یو ځلې په یو دربار کې د ګډون لپاره هغه خاص اورګاډي کې د پټیالې له لارې ډېلي ته تلو. کله چې اورګاډې د پټیالې تم ځای ته ورسېد نوده ته خبر راوړوچې هلته به یو څه انتظارکوي ځکه د پټیالې د مها راجه اورګاډی هم تللو ته تیارو ، چی ورپسی به د مالېر کوټله ګاډې تلو. نواب احمد علي سخت په قهر شو. ځان ورته ټیټ اوبې حېثیته ښکاره شو ، خپل منشي ته یې وویل چې هر څنګه کېږي، اول به د ده ګاډی د پټیالې نه وځي، منشي لاړ اود

اورګاډي د سټېشن ماسټرسره يې خبرې وکړې، هغه ته يې ډېرې روپۍ رشوت ورکړې او شېبه وروسته د پټيالې راجه ته وويل شول چې د هغه په اورګاډي کې يوځه تخنيکي ستونزه پيدا شوې ده، ګاډې به لږ ځنډ ېږي. په دې وخت کې د مالېرکوټله اورګاډې د سټېشن نه ډېلي په لورې روان شو. کله چې نواب احمد علي ډېلي ته ورسېد نو خبرشو چې د خرڅ ټولې پېسې په پټياله کې په رشوت لګېدلې و. بيا په ډېلي کې د ده منشي له بل چا نه پوروا خيست او د نواب د پاتې سفر خرڅ يې پورا کړو.

احمد علي به د خپل عايد نه ډېرزيات مصرف کاوه او تل به پوروړی و. په مالېرکوټله کې يوصراف مونالال نه به يې پېسې پور کړې. يوځلې نواب په ډېرې تادۍ کې د مونا لال نه پيسې واخيستې او رسېد يې ورله ورنه کړ، تجار نا کراره و او د نواب منشي ته يې وويل خېردی که سرکاري رسيد نه وي، ماته په يوه ساده کاغذ کې وليکه چې دا پېسې نواب صاحب اخيستې دي، هسې نه ترېنه هېرې شي.

وروسته نواب احمدعلي چې خبرشونوصراف يې را وغوښت، له ځانه سره يې کښېناوه اوورته يې وويل"کله هم داسې شوي چې موږ له تا پېسې اخيستې وې او بېرته مو نه وي درکړې؟" صراف ترېنه وويريده او بخښنه يې وغوښته خونواب احمدعلي ورته بيا بيا همدا ويل چې ماته رایاد کړه چې کله موږ ستا پيسې نه وې درکړې. د نواب احمد علي خان د خودخواهۍ يو بل مثال دا وه چې کله به يو محفل ته تله نو له خپل تګ نه وړاندې به يې خپل جاسوسان هلته واستول، هغوی به ورته خبرونه راوړل چې څوک څوک را رسېدلي دي. د راجاګانو او نوابانو د محفل يو ادب دا و چې هريوميلمه چې به را ورسيد نو دا نورحاضرميلمانه به ورته د سترې مشي لپاره ودرېدل. نواب احمدعلي نه غوښتل چې نورو ته د درناوي لپاره پاڅي او يا دا چې نورخلک دې ټول ده ته ونه درېږي. کله چې به خپلو جاسوسانو ورته خبرورکړ چې ټول ميلمانه را

رسیدلي نو دی به هغه محفل ته ولاړ. یو ځلې همداسې په یو محفل کې کله چې دی را ورسید نو ټول نوابان او راجاګان ورته د سترې مشي لپاره ودرېدل. نواب احمد علي خان په دې دومره خوشحاله شو چې په ډېرجوش کې خپل د غاړې د ملغلروامیل ونیولو او په بې خبرۍ کې یې دا دومره په ګوتو کې ومروړه چې امېل وشلید او ټولې ملغلرې دانه وانه په ځمکه پریوتې. د دې میلمستیا کیسې تر ډېره د خلکو په خوله وې.
انګریزانو په مالېرکوټله کې د اوسپنې د ځادرونو د جوړولو دوه کارخانې جوړې کړې، چې زیاتره به د دوی د بارکونو او پوځي ګودامونو لپاره کارېدل، وروسته د بایسیکل د جوړولو اود کتان د تاراوبدلو کارخانې په کې جوړې شوې او ډېر ژر دغه وړوکی ریاست په یو صنعتي سیمې بدل شو.
په ۱۹۴۷ م کې د هند له وېش سره پنجاب هم ووېشل شو، مالېر کوټله د هند د یوې برخې په توګه پاتې شوه. احمد علی خان اوس زوړ شوی و اود هغه وخت د خلکو مهاجرت یې ولیدو چې په میلیونونه انسانان بی کوره او نور ووژل شول. د سیکانوزړه تربګني یو وارې بیا ژوندۍ شوه، دوی به په بی وسلو مهاجرو ډلو حملې کولې، سرې به یې ووژل ماشومان به یې له میندو جلا کړل او ښځې به یې وتښتولې، خو هغوی چې په مالېر کوټله کې پناه اخیستې وه په امن کې و. سیکانو اوس هم د خپل مذهبي مشرګوروګوبند د هغې دوعا درناوی کاوه چې نواب شېرمحمد خان ته یې کړې وه. یوه نېکي او د حق کلیمه څومره اغیز شیندلی شي د دې مثال په خپله دغه ریاست و چی هغه وخت پکی سلو زرو مسلمانانو پناه اخیستې وه
محمد احمد علي د ۱۹۴۷ م د اکتوبر په اتلسمه نیټه له دنیا سترګې پټې کړې او د ده زوی افتخارعلي خان نواب شو. خو اوس دا معلومه نه وه چې د هند دغه ریاستونه به په کوم حال پاتې شي. د شلمې پېړۍ دویمی نیمایي په هند کې د راجواړو او د نوابیو د خاتمې اعلان هم کاوه. ا فتخار علي خان له

۱۹۲۴ نه د مالېر کوټله د مشر وزیر په توګه ټاکل شو. د ده ژوند هم په اروپايي طرز تېر شو، کومو خانانو چې په خپلو ځمکوژوند کاوه په دوی کې زیاتره د ویش پر وخت لاهور ته ولاړل. ځینو نورو چې لوی کورونه اونوکران یې لرل او خپل ځان یې په دې اړه ګړۍ کې ساتلی شوهم هلته پاتې شول.

افتخارعلي خان د خپلې نوابۍ د اعلان پروخت په دربارکې یوتقریروکړ، چې وروسته د ده په لیکلي تاریخ کې هم شامل شو.

په هغه وخت کې د ده تقریرنه یوازې د سیاست هغه نوې تګلاره ښايي بلکه دا هم په ګوته کوئ چې ده څومره هڅه کړې ده چې ځان د هند حکومت وفاداره او له پاکستان نه بیل څرګند کړي. د دې نه علاوه په دې تقریر کې یوڅوحقایق ناسم وچې یو څو بیلګې یې په دې ډول دي:

" شیخ صدرالدین د کردستان اوسېدونکی و، د پارس د کسپیېن بحیرې له بندر نه یې هجرت کړی و، هلته یې د شیروان ښار جوړکړ او بیا د غزني له لارې ملتان ته ولاړاو د بهاوالدین سهروردي چېله شو".

د ایران د دربند هغه سېمه چې دی یې یادوي یو تفریحی ځای دی او د کردانو د سیمې نه ډېره لرې ده. بیا وایي" مالېر کوټله په ۱۴۴۲ کې د پنجاب خپلواکه نوابي وه" په اصل کې دا نېټه ۱۴۵۴ میلادي کال دی.

داسې ښايي چې نواب افتخارعلي خان نه غوښتل چې د پاکستان له پښتنو سره خپلې اړیکي وښايي او یا کېدی شي دا تقریر بل چا ورته لیکلی وچې هغه په خپله هم له ډېرو حقایقوخبر نه و.

نواب افتخار علي خان یوازې یو کال د مالېر کوټله د نواب په توګه پاتې شو.. ده په خپله په پنجاب کې د ټولو ریاستونو یوه اتحادیه جوړه کړه او له هند حکومت سره یې د یوځای کیدو اعلان وکړ. په نوی هند کی د نوابانو او د راجګانوځای نه و پاتی افتخارعلي خان د انګریزي تعلیم ترځنګ اروپايي طرز ژوند هم کړی و، او ډېرو نورو ملکونو ته یې سفرونه هم کړي وخو د

نوابی ځېنې دود او دستور اوس هم پرځای و. نواب د خپلو خپلوانو د لېدو لپاره کله چې د دوی کور ته ورتلو نوهماغه شان دبدبه به یې ساتله چې یووخت د ده د پلاراونیکه په وخت کې ساتل کېدله.
د نواب د راتلواعلان به له وړاندې کېدواو دهرچاکره چې به دی ورتلو هغوی به تیاري کړې وه. نواب به له خپلې ګاډۍ ښکته شو، پلی به کوڅه کې د خپلوخپلوانو په بدرګه روان واوکوربه به هم ورسره و. په کورکې به یې څپلۍ او بوټان د ناستې کوټې نه بهروویستل، په کوټه کې به په یومسند کښېناستواونورخلک به ورته چارچاپېره په خپلو ځایونوناست و. بیا به د کور مشرله یوې تورې سره د نواب په لورې ولاړ، مخامخ به ورته په ګونډو کښېناستو او خپله توره به یې ورته وړاندی کړه چی د کوربه د وفادارۍ څرګندول و. نواب به په تورې لاس کېښود، دده د یو خدمتګارسره به مخملي کڅوړه وه، د کورنوروغړواوخپلوخپلوانو به په لاسونو کې د سرو یا د سپینوزرو سیکه نیولې وه او کله چې به دا خدمتګارورته وړاندې شو نو دوی به دغه سیکه د هغه په کڅوړه کې واچوله، نواب به دا هرڅه څارل چې څوک څومره سیکې په کڅوړه کې اچوي. دا سیکې به د نواب د سر صدقه ګڼل کېدې اوکله چې به نواب د دغه کورنه ووت نود کڅوړې ټولې پیسې به په غریبانو وویشل شوې. که په یوه کورکی نواب ته توره نه وړاندې کېدله او یا به د کڅوړې پیسې کمې وې نو نواب په دې سخت خپه واو له هغې کورنۍ سره به یې سمه دمه دښمني شوه ځکه د هغې مانا دا وه چې هغه کورنۍ ده ته پتمنه نه وه اویا یې درناوی ورته نه لرلو.
نواب افتخارعلي خان درې پښتنې میرمنې را واده کړې، لومړۍ مېرمنه یې د رام پورد نوابې کورنۍ نه وه، دویمه یې د ټونک د نواب امیرخان لور او دریمه یې د مالېر کوټله د یوې پښتنې کورنۍ جینۍ وه خو له یوې نه یې هم اولاد و نه شو. د هند حکومت د زرعی اصلاحاتو په لړ کې له ځمکه والو نه

لويي ځمکې واخیستې او په عامو خلکو یې وویشلې ، د نوابي سیستم له ختمېدو سره ډېر خلک بې روزګاره شول .
هغه ځمکه وال چې په مالیر کوټله کې پاتې شول د هغوی شمېره ډېره کمه ده،پاتې نورو پښتنو به یا مزدوري کوله او یا یې اهنګرۍ ته لاس واچوه،دلته اوس د خلکو شمېره د سلو زرو نه ډېر ه ده چې په کې شل زره مسلمانان او ډېر یې پښتانه دي .

هغه تللی عظمت

د ۲۰۰۲ کال د دسمبر د میاشتې دېرشمه نېټه وه د مالېر کوټله اسمان خړ و ،د دې ځای د پخواني نواب کور سکندر منزل ته مې خبر ورکړی و چې زه د ساجده بیګم لیدل غواړم. سکندر منزل په اته جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی او هر نواب په خپل وخت او په خپله سلیقه دا ښکلی کړی او یا یې په کې ترمیم کړی دی .
د ماڼۍ ودانې د وړو لهوری خښتو جوړه ده ، د دې د پاسه سیمټې پلستر او وربانده ژېړ رنګ د شلمې پیړۍ دی. د دې د لوی دروازې نه د ننه پراخ انګړ د ځمکې نه لږ لوړ جوړ دی چې چت نه لري او ښایي په خاصو موقعو او یا په اوړي کې وربانده بې شمېره خلک کښېناستل او د حجرې کار یې ورکاوه. د دې انګړ بل سرکې یوه بله لرګینه دروازه د ننه وړوکي دالان کې خلاصېږي چې ښایي د بوټانو او یا د څپلیو د ویستلو ځای وو ،خو دومره لوی و چې یو مېز او یوه لویه هېنداره پکی په ځای شوې و.
د مېز د پاسه د هند د پخوانۍ لومړۍ وزیراعظمی اندراګاندهي عکس ایښی و ، په یو بل عکس کې د راجیوګاندهي سره یوه مېرمنه ښکاریده چې زما په

اندازه د نواب افتخار وروستئ مېرمنه ساجده بیگم وه. د دالان بل سرته د لرگي په دروازه شیشې لگیدلي وې ، یوې خدمتگارې دا دروازه راته پرانیستله او د ننه یې د راتلو اشاره راته وکړله، ما غوښتل چې بوټان وباسم خو د ننه مې چې په قالین دوړې او خاورې ولیدلی نو اراده مې بدله کړله.
دا لوی هال (تالار) چې یو وخت د مالیرکوټله نوابانوپکی د خپلو خپلوانو سره لیدل او مهمې جنگي فېصلې به یې په کې کولې دومره لوی نه و. زما په اندازه دېرش مېټره اوږد او لس مېټره پلن و ،د دې تالار ټول فرش په زړوقیمتي قالینو پټ و چې رنگونه یې خاوری شوی و . له دیوالونو ژېړ پلستر په رانړیدو و، د کړکیو ځینې شیشې ماتې او نور یې په ښیرو پټې وې. داسې ښکاریده لکه چې دلته چا په میاشتوهم صفایي نه کوله.
د دیوالونو سره په قطار د لرگیو ښکلي نقشونه لرونکی دکړو پېښو (پایو) انگریزي طرز قدیمي صوفې وې چې ورباندې مخملي گدۍ ایښې وې. په دیوالونو د پخوانیو نوابانو رنگین انځورونه ځوړند و چې د نواب احمد علی عکس په کې پاک او نوی برېښېدوخو د دیوال په بل سر کې تر ټولو لوی او رنگین انځور د نواب سکندر علي خان وچې لباس یې حیرانونکی و. ده د گیډې پرتوگ د پاسه چپنه اغوستې وه او داسې ښکاریده چې ډېر لوی اوغټ سړی وي خو د ده په اړه په کتابونو کې لیکل شوي و چې نوموړی به ډېر ساده لباس اغوستو او په پېښو به گرځېدو.
یو څو شېبې وروسته ساجده بیگم د تالار د بل سر د دروازې نه را دننه شوه، ښنه یې وغوښته چې د دې زکام و او طبیعت یې ښه نه و. ما سره یې په وریښ تندي روغبړ وکړ ، کښېناسته او ډېره په مینه یې راسره خبرې پیل کړې.
د دې په نیلا سترگو کې د زماني غمونه پټ و خو اوس هم ښه ښایسته وه، لوړه دنگه او د مخ په گلابي پوټکی یې ډېرې گونځې نه وې، اواز یې دروند

و. ما د غږ د ثبت لپاره مايکروفون او ټيپ را وويستل نو دی راته په خندا وويل ته څه پوښتني لري؟

ما ورته وويل، غواړم چې د نواب افتخار او وروستيو حالاتو په اړه درسره خبرې وکړم،خو هغې د پخوانيو حالاتو په اړه يا خو معلومات نه لرل او يا يې هم نه غوښتل چې په دې اړه څه ووايي د نواب افتخار په ذکر هم خاموشه شوه.

ما د دې نه د شخصي ژوند په اړه پوښتنې وکړې خو دې په ډېر احتياط خبرې کولې او معلومات يې نه راکول.

د نوابې کورنۍ د مېرمنو په اړه يې وويل چې هغه وخت ډېره سخته پرده کېدله،د هېچا جرات نه و چې له اجازې پرته د ښځو خونو ته ورشي، هغه خدمتگاراني چې د کور د ننه به يې کار کاوو دوی هم يوازې د لوی تالار د دروازو د شانه له سړيو سره خبرې کولی شوې.

ښځو ته د سرکاري سفرونو اجازه نه وه، او که مېرمنې کله په ځانگړې گاډي کې له کوره بهر وتلې نو ددی چارچاپېره به پردې لگيدلې وې.

کله چې به کومه ښځه ناروغه او مجبوره شوه چې حکيم ورته را وغواړي نو حکيم به د پردې د شانه نه يوازې د هغی د مرض د علايمو په اړه پوښتنې کولې. ډېرسخت مرض دتشخيص لپاره به يې کله کله د نبض کتلو اجازه اخيسته. په مالير کوټله کې پښتانه د يوبل سره د خپلوئ له کبله تگ راتگ کوي. دوی چې به کله د خپلو خپلوانو کره ورتلې. د نوابې کورنۍ مېرمنې به د چا کورکوڅې ته ورسېدې او گاډی به وړاندې نه شو تللې نو د کوڅې دواړو غاړو ته به يې څادرونه (پردې)ونيول، ښځې به د گاډی نه ښکته شوې نو دوی به د څادرونو په منځ کې د هغه کور دروازې ته ولاړې.

ساجده بيگم راته وويل ماچرې بورقه (بقره) نه ده په سرکړې ځکه چې ضرورت يې نه وپېښ شوی د خپل لباس په اړه يې راته وويل" موږ زياتره کميس پرتوگ اغوستل، ساړهي زموږ لپاره پردی لباس و ،کله کله به مو په خاصو موقعو

تنگه پاجامه (چوړي داريا چين دار) او اوږد پيشواز(کوچاني ډوله کميس) اغوستل. په پنجاب کې د سرو زرو د گاڼو ډېر رواج دی نو د هرې يوې مېرمنې به ښه درانه بنگړي، کړې او نور کالي و.

ساجده بيگم د نولس سوه اويايمی په لسېزه کې د کانگرس گوند لخوا په ټاکنو کې برخه اخيستې او د مالېر کوټله لپاره د پارليمان څوکۍ يې گټلی وه. هغې نه مې پوښتنه وکړه چې په ژوند کی يې تر ټولو گرانه فيصله څه وه نو مسکۍ شوه او وی ويل ،کله چې مې په سياسي ډگر کې قدم کېښود نوراته جوته شوه چې د پردې تر شاکارونه ناشونی دی، زما لپاره تر ټولو گران کار له پردې بهر را وتل و. زما دکورنۍ ځينې غړي په دې خوشحاله نه و خونواب افتخارعلي خان يو روڼ اندی وا و ما سره يې پوره مرسته وکړه.

ما ترې د نوابې کورنۍ د قيمتي او زاړه اثارو په اړه پوښتنه وکړه نو هغه يوڅه ناارامه شوه او وی ويل" هغه څه چې ما ته را رسېدلي اوس هم راسره دی،د هغې نه وړاندې د شيانو پوښتنه دې له هم هغو خلکو وشي.

ساجدې بيگم په کنايه کې راته وويل چې په کورنۍ کې يې د وراثت په اړه يو څه لانجه روانه ده او خبره تر محکمې رسېدلې ده گوره چې څه کېږي. ورته مې وويل چې ولې دا دومره ښايسته او ښکلې ماڼۍ حکومت ته نه ورکوي چې هغوی يې ميوزيم کړی اويا پکی تعليمی اداره جوړه شی. هغې راته وويل چې اوس يې په يوه برخه کی پخپله د جينکو يو ښوونځی پرانيستی (يعني د فيس په بدل تعليم) او دا چې د دې ماڼۍ نه د ميوزيم جوړولو په اړه به غور وکړي.

د هغې نه می اجازه واخيسته چې د دې ماڼۍ د هندارو خونه (شيش محل) وگورم. چی د تالار نه بهر ښې لاس ته په بره پوړ کی جوړ و. دلته د تالار چت هم لوړ خو ساده و او د دې د يوې لويې دروازې نه هغه کوټې ته لاره وه چې دوی ورته شيش محل وايي،دلته په چتونو او ديوالونو په زرگونو وړې او

لويي هېنداري لګېدلي وي، کوټه د يوې خېمې په شکل وه او د دې په نريو ستنو هم وړې رنګېنې شيشې وې. ما چې د هرې خوا نه هڅه وکړه ، د دې کوټې ښايست مې په کېمره کې خوندي نه کړی شو ، د هرې خوا نه د کېمرې د فلېش رڼا د بوې يا بلې هېنداري نه بهرته راتمبېده او تصوير يې خرابوو. هغه شيشې چې د دې د چت نه رالوېدلي وې د پښولاندې راتلې، په ځمکه يو څادر غوړېدلی و چې شيشی د چا پښی ژوبل نه کړي. په دې ټوله کوټه کې مېز څوکۍ نه و.

د هندارو کوټه قريبا دولس مېټره اوږده او قريبآ شپږ مېټره پلنه وه، او د دې په يو سرکې محراب جوړ و ، په دوو ديوالونويې په فريمونو کې زاړه او د انګريزانو د وخت عسکونه ځوړند و چې په کې د مالير کوټله بيلابيل مشران د خپلو بهرنيو ملګرو سره ناست ښکاريدل.. د لرګي په يوه فريم کې ليکلی فرمان هم ځوړند و خو دومره خاورې او دوړې پرې پرتې وې چې هېڅ نه لوستل کېده.

د دې کوټې د ستنو شا ته لوي کړکۍ يوې ګيلرۍ ته خلاصېدې چې د هغې يوې خوا نه د ماڼۍ انګړ ښکارېده. يو بل محراب نه ښکته د دربار هال ښکارېدو چې اوس تش پروت و ، نه يې په فرش قالينې وې او نه يې په کړکيو وربښمنې پردې.. د خښتو په ديوالونو د جولا ځالې ځړېدې. د شيش محل د کوټې په ورستي سر کې د شيشو او لرګيو يو شوکېس(د شيشی او لرګی وړوکی صندوق ډوله مېز) ايښی و ،هاغسې لکه چې په موزيمونو کې وي او زاړه توکي پکې ايښودل کېږي. زه نژدې ورغلمه چېووينم ګوندې په کې کوم تاريخي يا لرغوني اثار ايښی وي. ځکه دې شوکېس ته يو جرنده(قفل) هم ځوړندو، نو تلوسه مې زياته شوه خو هلته د شلمې پېړۍ د پروړو جوړ شوی د اروپايي ښځو د سر خولۍ(هېټ) ايښې وه. د چت نه يوه وړه شيشه زما مخی ته را پريوته نو پام مې شو چې دا خونه په رژېدو وه.

د سکندر منزل د دویم پوړ نه مې چارچاپېره ولیدل، د دې د لویې دروازې نه بهر د دوکانونو د جوړولو کار کېدو، هغه لارې چې یو وخت په کې د نوابانو ګاډئ او موټرې تلې راتلې اوس سیمټو، خښتو او اوسپنې بندې کړې وې. د ماڼئ بلې خوا ته د مېښو او د غواګانو غوجلې وې. د اتلسمې پېړۍ د دې ودانۍ د لویو دیوالونو په سوریو کې ابابیل او د مرغیو ځالې جوړې وې، په یوې برنډې کې د پیازو پوستکې هوا بادول، خدای خبر د کومې مېلمستیا نه پاتې و.

ښکته د ساجدې بیګم سره مې نورې خبرې وکړې. د شیش محل په اړه یې وویل زه خپل زیار باسم اوسو چ کووم چې د دې لپاره د لکهنو نه کارګران را وغواړم چې دا بېرته جوړ کړې. د دې کورنۍ د کتابونو او د پخوانیو اسنادو په اړه پوښتنه مې ترې وکړه نو هغې ډېر په خپګان وویل " څه موده وړاندې زمونږ د ماڼۍ د یوې کوټې چت په باران او سېلۍ کې راپریوت او زیاتره کتابونه اوبو ووهل، هغه څه چې ترې پاتې شول مونږ سره دې خو نور ضایع شول.. په ساجده بیګم کې مې د ژوند هېڅ هیله نه لیده ، داسې ښکاریدله لکه چې ژوند ورته یو پېټی شوی وي.

د نواب افتخار لومړئ میرمنه د ټونک د نواب خور چې زما د تګ پر وخت د اتیاوو کلونو وه، په یوې بلې ماڼۍ مبارک منزل کې اوسېده.

مبارک منزل ته تللې ښکلې لاره په شنو ونو او ځنګلونو پټه وه،د ژېړ رنګ دا ودانۍ د لویو لویو باغونو په منځ کې جوړه ده، ماڼۍ ویجاړه ، مارغانو په کې ځالې جوړې کړې او هیڅوک په کې نه ښکاربدل.

د لویې دروازې سره جوخت یو کټ پروت او یو زوړ سړی چې ځان یې په ګرانه خوځولی شو، یوازینی څوکیدار و. هغه راته وویل چې مشره نوابه څو کالو راهیسی ناروغه ده او په مالیر کوټله کې د جوړو شویو نویو بنګلو(ودانیو)

کی په یوه کې اوسېږي خو د نوی بنګلی یوی نرسې راته وویل چې نوابه ډېره کمزورې ده اود هیڅا سره لیدل نه غواړي .
درې کاله پخوا په فارسي لیکل شوی یو زوړ کتاب وموندل شو. زما نیکه د مالېر کوټله د وروستي نواب افتخار علی خان تروخته د ماڼۍ د کتابونو او لیکلو اسنادو د ساتونکي په توګه کار کاوه اود هغه له مړینې سره سم له ماڼۍ سره زموږ اړیکه پرې شوی وه. . اوس چې مې دا کتاب وموند نو یوه تلوسه مې پیدا شوه چې په دې کې به څه لیکلي وي. زما اردو ژبه زده ده او دومره مې ولوستلی شول چې دا کتاب دوه نیم سوه کاله پخوا په لاس لیکل شوی او د مالېرکوټله ځینې پېښې په کې ثبت دي. د کتاب په وروستیو پاڼو کې یې تاویزونه هم لیکلي واو د دې لپاره چې کتاب یو څوک ولولي او یایې وژباړي زه د مالېرکوټله د نواب شېر محمد خان د علمي څېړنو مرکز ته ولاړم. د دې اداري مشر زینت الله خان په فارسي ژبه پوهېږي خو ده راته وویل "زه وخت نه لرم" بیا مې د ښار مفتي فضل الرحمن عثماني ته دا کتاب ورکړو او ورته مې وویل چې زه به کله ناکله درځم چې په دې کتاب ځان پوه کړم او را ویې ژباړم. خو مفتي صاحب هم ډېر مصروفه سړی دی،شپږمیاشتې یې دا کتاب له ځانه سره ایښی و، بیا چې ورپسې ولاړم نو کتاب د ده په کتابتون کې بی درکه شوی و. ما دمفتي صاحب نه ګیله وکړه نو دی نا راضه شو او راته یې وویل "وګوره که په کتابتون کې یې لټولی شي ویې لټوه او واخله".
ما په خپله د هغه په کتابونو کې لټون پیل کړ او اخر مې کتاب پیدا او کور ته راوړ. یوه ورځ مې دا کیسه یوځای کې وکړه، هلته د کالې خان په نامه یو تن راته وویل چې نیکه مې په فارسي ژبه پوهېږي او غوښتنه یې وکړه چې کتاب ورکړم چې خپل نیکه ته یې یوسي، اوس کتاب له هغه سره دی ، یوکال کېږي چا راته وویل چې هغه داکتاب بل چاته ورکړی دی.

دا ټوله کیسه په مالېر کوټله کې راته غضنفر علی خان وکړه چې له نوابي کورنۍ سره خپلولي لري . د هغه د مېلمنو په کوټه کې په دیوال یو زوړ ډال ځوړند و ، ماترې پوښتنه وکړه چې دا د کوم وخت دی او توره به هم ورسره وي اوکه څنګه، هغه څه شوه؟ غضنفر علي خان راته وویل چې "د دې ډال په شان یو بل هم و او توره هم ورسره وه، زما خورځ چې په پاکستان کې اوسېږي یو ځل په چکر مالېر کوټله ته راغلی و د هغه دا توره او ډال ډېر خوښ شول ، راته یې وویل چې د خپلې کورنۍ یوه نښه له ځانه سره وړل غواړي . موږ هم ورته دا دواړه ډالۍ کړل او فکر مې وکړ چې له دې ځایه به هلته دا ډېر خوندي وي . د هند او پاکستان ترمنځ ناندریو او د جګړې له امله مسلمانانو دغلته په خپلو کورونوکې د دا ډول شیانو ایښودل بند کړي دي، په مونږ شک کېږی ، زموږ ډېرو خپلوانو پخوانۍ تورې را ټولې کړې او په یوه څاه کې وغورځولې چې ځان ترېنه خلاص کړي.. زموږ په کور کې دا توره او ډال ډېر قیمتي و او د نواب له خوا زموږ نیکه ته د هغه د خدمتونو په بدل کې ورکړل شوي و".
کله چې غضنفر علي خان په ۱۹۹۱ کال کې د خپلې خور د لیدو لپاره پاکستان ته ولاړ او د تورې پوښتنه یې وکړه نو خورځ ورته وویل "ماهغه توره په کراچي کې د فرانسې سفیر ته ډالۍ کړله او هغه دومره خوشحاله شوچې ماته یې یو سند راکړوچې په کې زما نوم لیکلی او دا چې زه د فرانسې ښه ملګری یم". غضنفر علي خان وویل زما خورځ د هغې موقع یو عکس را استولی چې د فرانسې سفیر ته توره ډالۍ کوي..
ما د غضنفرنه پوښتنه وکړه چې ایا دی هم دغه کار یو ویاړګڼې؟ نوپه دې خبره د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوی . ما تری د پخوانیو عکسونو پوښتنه وکړه چې څه یې کړل؟ هغه خپلې مېرمنې نصرت جهان ته وکتل او راته یې وویل" دوی هغه زاړه عکسونه کوم ګودام کې اچولي دي" بیا دی ولاړ او

ځينې تور او سپين عکسونه چې په فريمونو کې بند و راوړل او دوړې او خاورې يې ترې و څنډلې.
ما د ناستي د دې کوټې ديوال ته کتل چې پرې له يو سر نه واخلي تر بل پورې د هالېنډ د لاله ګلانو يو لوی پوسټر لګيدلی و، دا ډول پوسټرونه په بازار کې شاوخوا پنځوس روپۍ قيمت لري.. نصرت جهان ته مې وويل" فکر نه کوی چې دا عکسونه له هغه پوسټر نه زيات ارزښت لري؟" زما په خبرو هغی ته يو څه تاو ورغی او راته يې وويل نن سبا خلک رنګه تصويرونه خوښوي.". ما ورته وويل" په لندن کې دا سې عکسونه می په انټيک پلورونکو په نيلامۍ کې ليدلي چې قيمت يې د سلو ډالرو نه کم نه وی، دوی دواړو يوه شېبه دا سې راته کتل ته به وائ زه ورسره ټوکې کووم.
اخر مې ورته وويل "تاسو خو هسې هم دا عسکونه په ردي کې غورځولي دي ، که غواړئ زه به دا عکسونه درنه په بيه واخلم" ،نصرت جهان ژر پاڅيده او عکسونه يې ځای پر ځای کړل. غضنفر وويل" دا خو زموږ د خاندان يو ميراث دی" ما ورته وويل نو د پلار نيکونو ميراث کوم ځای ساتل پکار دی؟ زما هيڅ اراده نه وه چې دا عکسونه يا بل څه ورنه په بيه واخلم خوددی لپاره چې دوی د عکسونو په ارزښت لږ پوه شي نو دا خبره مې وکړه.
غضنفر راته وويل "زما د نيکه ټول کتابونه او کاغذونه موږ په ګودام کې اچولي دي،اوس چې تا راته وويل نو زه به يې په يوې سمې کوټې کې خوندي کړم او هغه زوړ تاريخ خو هرومرو پيدا کووم".هغه به د وروستي نواب افتخار علی خان سره ډېر ليدل او راته يې وويل کله چې هغه د مالېر کوټله تاريخ ليکلو نو يوه ورځ يې زه را وبللم او د کاغذونو يوه ګېډۍ يې راته راکړه، په دې کې د مغل پاچاهانو او نورو واکدارانو له لوري په فارسي ژبه ليکل شوي فرمانونه او نور بی شمېره ليکونه و،ښايې د افغان واکمنو ليکونه هم پکی و،

په خپله د مالېر کوټله دنوابانو د لاس لیکلي شیان هم و ، ما د ځېنو لیکونو نېټې ورته ولوستلې، وروسته معلومه نه شوه چې دا کاغذونه څه شول.
څو کاله کېږي چې د ماڼۍ د کوټې یو چت را پریوتی او ځېنې قیمتی کتابونه په کې ضایع شول، ورسته ساجده بیگم ډېرکتابونه او کاغذونه په کباړي کې خرڅ کړل، زه چې خبرېدم هر څه د زوړ کاغذ په بیه خرڅ شوي و او یوازې هماغه قلمي زړه نسخه چې په فارسي لیکل شوې ده په مشکله مې له چانه واخیسته او اوس رانه بیا ورکه ده"
د مالېر کوټله محمد اقبال خان د خپل نوم سره شېرواني لقب کاروي او وایي چې د ده نیکه په پښتو پوهېدو ځکه دی به سرحد صوبې ته تلوراتلو او د بوډاگانو په هغه ډله کې شامل و چې په ۱۹۰۳ کې یې په ډېلي دربار کې گډون کړی و. دی د نواب یو صاحب منصب و او کار یې د نواب د ورځېنو چارو سمبالول و د ده عهده سردار ډیوړهي(د میلمه پالو سردار) وه او ریاست ته د راتلونکو مېلمنو د هرکلي نه را واخله تر نواب د سرکاري سفرونو او د پروټوکول کارونه به یې سرته رسول.
د اقبال خان په کورکی د ناستې په کوټه کې په دیوال دده د نیکه د عسکونو سره یو ډال هم ځوړند و چې د گېنډې(خړتمي ځناور) د څرمنې نه جوړ و ، خو د نیکه د تورې درک یې نه لگېده. اقبال خان د اسونو کاروبار کوي او په مالیر کوټله کې یې خلک د لمبردار په نوم پېژني. دی د پنجاب د بیلابیلو برخو نه اسونه راوړي ، د دو ی خسمانه کو ي او بیا یې په لوړه بیعه خرڅوي.. د ده کورنۍ به اسونه ساتل او ریاست ته به یې د جنگ او سفر لپاره ورکول خو داسې چې اوس یې په بازار کې خرڅوئ، دا کار هیڅا نه و کړی، اقبال خان وایي دوی د لودیانو سره نژدې اړیکې ځکه ساتي چې د ودونو لپاره د پښتنو کورنۍ غوره گڼي، هغه وویل د پنجاب د وېش سره د مالېر کوټله پښتنو ته سخت تاوان رسېدلی دی.. د اقبال خان دویم ورور محمد خان ځمکې ساتي

او د کروندگرو سره لگیا وي،کشر ورور اجمل خان یې په پوهنتون کې سبق ویېلو.. دده د معلوماتو له مخی درابڼ د پاکستان د اټک په سیمه کې دی او دغلته د دوئ د مشرانونه د یو صوفي پیر زیارت اوس هم شته دی.. هغه ته د پیر نوم نه و معلوم خو وایي چې زیارت ته یې د اوسپنې قفل (جرنده) لگیدلی دی،د ده په وېناکله چې د شېرواني کورنۍ غړي زیارت ته نژدې شي نو دا جرنده په خپله خلاصه شي. د زیارت مخې ته د یوې زړې او پخوانۍ ونې تنه هم پرته ده او مراد غوښتونکي دلته یو مېخ ټک وهي.
د مالېر کوټله د نوابانوسره نږدې اړیکی لرونکی یوه بله کورنۍ د اخلاق خان ده چې د شېرواني لقب کاروئ. دی د محکمې وکیل دی او ځینې پخواني روایات یې لا اوس هم ساتلي دي. په ماشومتوب کې به دی سکندر منزل او مبارک منزل ته ډېر تلو، او د نوابي کورنۍ د حالاتو نه هم زیات باخبره و. د نواب احمد علي د ژوند په اړه یې د مشرانو نه اورېدلي و چې هغه به ډېر شراب څښل، د ماښام سره به دی د سکندر منزل په بره دالان کې کښېناستو، یو نژدې ملگری به ورسره و او جامونه به یې کړنگول.
اخلاق احمد شېرواني راته د نوابانو د لباس په اړه وویل چې دوی به تنگې پایجامې، هغه چې ډېر چین لري او د هغې د پاسه شېرواني (د بندي غاړې اوږد کوټ) اغوستو. د ده په فکر د دې کوټ نوم شېرواني د مالیر کوټله د نوابانو لخوا ورته ورکړل شوی دی. نوابانو په سر پټکی تړلو او د هغه شمله به لوړه او ډېر ولونه یې لرل،د پټکی یوه پله به شاته تر ملا ځړېدله، د دې پټکی د پاسه به د سرو او د قیمتي ډېرو ښایسته جیغه(بروچ) لگیدلې و.
د دوی څپلئ(پڼې) به افغاني وې او اکثر به وربانديې د تیلې کار شوی و. دا څپلئ په مالېر کوټله کې د پټهاني جوتي(پښتنو پڼې) په نوم شهرت لري او اوس یې هم خلک په خاصو موقعو او ودونو کې په پښو کوي.. د سیمې پښتانه خمیره ډوډۍ او غوښه ډېره خوري، دوی یو ډول ډوډۍ پخوئ چې

غټه پېړه یا زواله اخلي لږ یې په تبۍ ږدي چې کلکه شي بیا یې په سرو سکارو ږدي چې غټه ډبله ډودۍ ترې پخه شي، دوی روغني ډوډۍ هم خوري او غوښه زیاتره په ښورا کې پخوي
د اخلاق احمد په کور کې یوه پخوانۍ توره (دده په وېناسل کاله زړه) تراوسه د شاوخوا خلک د ودونو لپاره ترې وړي د واده شاه ځلمی ته یې په ملا ورتړي.
هغه وویل د واده شاه ځلمي ته د تورې ورکول یو ویاړ ګڼل کېږي. بیا یې هغه توره را وغوښته چې ماته یې راښکاره کړي. توره د نسواري مخمل په تېکی کې بنده وه او په لاستی یې طلائ کار شوې و، زما په غوښتنه دوی توره د تېکی نه د راویستلو هڅه وکړه، خو داسې معلومیده چې دا چېري هم له تېکی نه وه را ویستل شوې،د اخلاق احمد یو ځلمي زوی په ډېرو زورونو سره اخردا له تېکی را وویسته او زما د توقع سره سم یوه زړه او زنګ وهلې توره ترې را ووته.
د مالېر کوټله یو بل اوسېدونکی نصرت اکرام خان د هند د پارلمان لپاره دوه ځلې انتخاب شوی دی او د کانګرس په حکومت (۱۹۹۷-۲۰۰۰) کې د لوبو وزریر هم و. نصرت اکرام د شېرواني لقب د خپل نوم سره نه لیکي او د پښتو ژبې په اړه یې راته وویل چې دمالېرکوټله پښتنو له پیل نه پښتوژبه نه ویله ځکه چې دوی په پنجاب کې ژوند کوو. دوی چېرې هم د خپلې ژبې او کلتور تبلیغ نه دی کړی که څه هم ځایي خلکو د دوی ډېر رواجونه خپل کړي دي ،د بیلګي په توګه پښتنې ښځې تل ستر او پرده کوي، په ځان څادر او یا بورقه اچوي، له دوی سره په سیالۍ د پنجاب ډېرو ښځو د څادرونو په سرول پیل کړل. دشېخ صدرالدین او د بهلول لودهی د کیسې په ویېلو دده سترګی له اوښکو ډکی شوی.
ساجده بیګم په ۲۰۰۵ کال کې مړه شوه او دهغې د مړینې سره د مالېر کوټله د نوابې کورنۍ له ځینو نورو رازونو پرده پورته شوه. نواب افتخار خان په

۱۹۸۰م کې ساجدې بیګم ته طلاق ورکړی وا و وروسته هغې د انور خان نومي یو کس سره واده وکړوخو د افتخار له مړینې وروسته ساجدې بیګم یو واري بیا په سکندر منزل کې ژوند پیل کړ اوځینو خلکو پری شک کوو چی د نوابې کورنۍ شیان یې په یوه او بل پلمه خرڅول. د هغې د مړینې نه ورسته یو تن چی ساجد علي خان نومېدو مانۍ کی کنبېناستو،ده دعوه وکړه چې د ساجدې بیګم لېورزوی دی، او په ماشوموالي کې هغې په فرزندي نیولی و. کله چې ساجد علي خان د خپلی کډی سره سکندر منزل کې داخل شو نو ځایي پولیس ورغلل ، تهول یې له دغه ځایه وشړل او کور یې بند کړو.
د نواب افتخارعلي خان په وصیت کې چې د ۱۹۷۱ م د دسمبر په میاشت کې لیکل شوی و ، دا مانۍ یو وقف بورډ ته سپارل شوې وه او خپل تر مرګه ساجده بیګم یې ددی مختاره ټاکلی وه چې هغه به د خپل مرګ نه وړاندې مانۍوقف بورډ ته سپاري. خو د طلاق نه وروسته افتخار علي خان خپل وصیت بدل کړو او د روڼ اندو مسلمانانو یوه دیارلس کسیزه کمېشن یې جوړ کړ چې د دې مانۍ څارنه وکړي خو د نواب له مړینې وروسته د وقف د دیارلسو کسانو له خوا هېڅ داسې څه عمل و نه شو چې د مانۍ څارنه پری شوی وای. په مالېر کوټله کې عامو خلکو وییل چې ساجده بیګم د کانګرس له غړو سره اړیکې لري او خلک تر ې وېرېږي اوبله دا په خپله هم د وقف بورډ مشره وه نو ځکه چا څه نشوای کولی.
په لاهور کې یو تن فیاض احمد خان چې د ساجده بیګم خپل سکه ورور و هم په دې مانۍ دعوه وکړه. د هغی یو لیکلی وصیت چې د مرګ نه یې نهه ورځې وړاندې لیکلې او دستخط کړی و را برسېره شوی دی، او په دې کې وایي چې د دې د مړینې نه وروسته د دې ټول جایدادبه د دې ورور فیاض احمدخان لاس ته ورځي. ځایي پولیسو د ساجدې سلطان د لاس لیکلی یو قانونی سند ترلاسه کړی دی چې په کې لیکل شوي چې د هغې د ناروغۍ پر مهال د هغې

Download From: AghaLibrary.com

خپلوانو په زوره ترې په ځينو کاغذونو دستخط اخيستی وچې کېدی شي ځينې په کې د جايداد کاغذونه وي. د مالير کوټله په مزکو يوه بله دعوه د کوروايې د نواب مېرمنی سرور جهان بيگم هم وکړه چې د نواب افتخار علی خان وربېره وه

هغه وخت يعنې په ۲۰۰۲ عيسوي کال په مالېر کوټله کې ما د ساجده بيگم په اړه څه ښه خبره نه وه اورېدلې. سره له دې چې په حکومت کې پاته شوی وه ډېره لوستې مېرمنه نه وه. ځينو خلکو ويېل چې هغې په چندي گړه (دپنجاب ايالتي مرکز)کی ځان له بنگله جوړه کړې وه، له دې مانۍ ټول قيمتي او ښايسته شيان يې هلته وړل او ورو ورو دکورنۍ د ځمکو او نورو شيانو په خرڅولو لاس پورې کړی و اود مالېر کوټله د تاريخي شتمني د ژغورلو لپاره يې لکه د نورو رياستونواو يا له حکومت نه مرسته نه وه اخېستې.

د مالير کوټله د هغې زړې کلا يو څو ديواله اوس پاتې و چې د شيخ صدرالدين کړوسي د کوټله په نوم جوړه کړې وه. په کومو ځايونو کې چې د دېوال اثار پاتې دي هلته د دې لوړوالی شل فټه قريباً اووه مېټره او پلن والی درې فټه يو مېټر ښکاريدو چې د خطر پر وخت به پرې ساتونکي له غشو او ليندو او يا د ټوپکو سره ولاړ و. په دغه کلا کې اوس لارې او هټۍ جوړې دي. د ښار مرکزي ځای د شيخ صدرالدين صدرجهان زيارت دی چې له هرې خوا نه ورته خلک ځي. له زيارت سره جوخته کوڅه محلت د حضرت شيخ يا شېخ حېدرمحلت نومېږي. د دې زيارت نه چارچاپېره د پخوانيو لويو تيږو ديوال جوړ دی. يوه نوبت خانه(نقارخانه) هم په کې شته چې د شيخ صدرالدين د کالنۍ عرس پر مهال په کې نغاره غږول کېږي.

ځايي خلک په دې باور دي چې دا ديوال پيريانو په يوه شپه کې جوړ کړی دی. زيارت ته تلونکي په لوی سړک د يو هندو فقير بابا اتمارام يادگاري ځلی دی چې په کې د هندو مذهب ځينې انځورونه جوړ دي . دې ځلي ته مخامخ په

جنوب کې یوه څاه ده چې څلورګوټېزه محرابي دروازې لري، له دې دروازو یوه پوړۍ ښکته تر کوهي جوړه ده خو په کوهي کې اوس اوبه نه شته. نواب سکندر علي خان د دې کوهي لپاره ځمکه وقف کړې وه او عامو خلکو به ترې اوبه وړلې.

د مالېر کوټله په شاهي هدیره کې د دې ځای د نوابي کورنۍ غړي ښخ دي. د ۱۷۱۲ کال راهیسې دلته د مېرمنو، ځوانانو او ماشومانو قبرونه دي چې په زیاترو یې د مغلي طرز ښښتې او کاشي تیږې کارول شوي دي خو د کوټله بنسټ ایښودونکي بازید خان قبرد ښار په بله څنډه کې دی. په شاهي هدیره کې تر ټولو ښکلی قبر د نواب سکندر علي خان دی.

د ده د نوابۍ پر مهال د ده مور یو صوفي بزرګ غلام شاه ته ځمکه او د اوقافو پېسې ورکولې چې د دې هدیرې ساتنه وکړي. اوس هم د غلام شاه اولادونو نه ځینې د وقف په پېسو ګوزاره کوي نور یې په مالیر کوټله کې دوکانداري او خیاطي کوي. ښایي د نواب سکندر خان قبر ته تر ټولو زیاته پاملرنه کېږي ځکه دا تل په ښه حالت کې وي. په هدیره کې د نواب شېر محمد خان قبر تر ټولو ساده دی او په دې هېڅ سایوان نه شته، د ده وصیت و چې قبریې ساده او خلاص پرېښودل شي د شاهي هدیرې د ځېنو قبرونو نه ښکاری چې د نوابي کورنۍ ځېنوغړو د رامپور د نوابانو تر اغېز لاندې شیعه مذهب خپل کړی و، اود دوی په نومونو کې د علی لقب هم له هاغه وخت راهیسې اضافه شوی دی.

د هدیرې پر قبرنو د هر زیارت په ورځ شمعې بلېږي، په دې ورځ د هدیرې منجاور دا ځای پاکوي او ځېنې خلک د خپلو مرادونو لپاره دلته راځي خو د نورو ځایونو په شان دغه هدیره هم مخ په زوال ده. د دی برج او هغه دیوال چې ورسره جوړ دی اوس ځایي دوکاندارانولخوا د خطر سره مخ دی، هغه دوکانونه چې دې دیوال سره لګیدلي دي د هغوی خاوندان غواړي چې دیوال دی وغورځول شي، د هدیری متولیان یې محکمې ته تللي دي.

په مالېر کوټله کې اوس د زاړو اثارو د ساتنې یوه ټولنه جوړه شوې ده او کېدی شي چې دوی دنورو تاریخي اثارو سره سره د هغو زړو کتابونو او تاریخي اسنادو ته هم پام وکړي چې نوابې کورنۍ نه پاتې شوي دي .
د پارلمان یو غړی سردار سنگ مان هلی ځلی کوئ او د نواب شېر محمد خان د قبر د موجودگۍ له امله یې دا د یو ژغورلي ځای په توگه اعلان کړی دی..
د زړو اثارو او کلتور ډایریکټر اندرجیت سنگ ساندهو هم په دې کار کې ملاتړ کوي.

د لاهور مالېری

زه د لاهور په ماډل ټاون کی د یو لوئ او ښاېسته کور د مېلمنو په کوټه کی ناسته ووم او دلته اېښی شیانو ته ځیر ووم. په دوو دېوالونو د مالېر کوټله د پخوانیو نوابانو رنگین قد ادم انځورونه، یوی خوا ته په لویه هنداره کی د چت سره ځړېدلی فانوس ، د برونزو ، چینی، بلوراو د ښیښی جوړ په رنگا رنگو شیانو دا کوټه را ته یو وړوکی میوزیم په شان ښکارېده. د کوټی د لویو کړکیو د شیشو نه بهر په چمن کی یو مالی (باغبان) نیالگی کښېنول. دا د شفقت خان کور واو ده راته ډېر په اعتماد وویل چی صدرالدین ملنگ نه بلکه د بهلول لودهی د یو جنرال ځوئ و. هغه په دی باور دی چی دده د ملنگئ کیسی د زیارت منجاورو جوړ کړی دی. دا خبره هم غلطه ده چی نوابانو تېغ(توره) او منجاورو دېغ (دېگ) غوره کړو. ایا صدرالدین خبر و چی دده په زیارت به دېگونه پخېږی. (دا دود د مغلو پر وخت پېل شو) ده د وروستی نواب افتخار علی خان په نوابئ هم نیوکه وکړه چی سکندر علی خان بی اولاده و. ده د ژوند په وروستیو شپېو کی ابراهیم علی خان په فرزندی

واخیستو او دی د گدئ دعوی دار شو. شفقت خان ځان د مالېر کوټله د عیسی خانی ټبر نه گڼی ، په لویدیځ پنجاب کی کارخانی لری او ځوئ یې د پاکستان د پارلیمان غړی دی.
د مالېر کوټله ځینو کورنیو ته د لاهور په فېروز پور سړک مزکه ورکړی شوی وه چی اوس پکی کورونه جوړ دی دا ځائ شېروانی ټاون نومېږي. خو د مالیر کوټله نه راکډه شوی پښتانه زیات تره د لاهور په ماډل ټاون کی ژوند کوئ. او ښایسته کورونه لری. دوئ هڅه کوئ چی په شېروانی کورنئ کی ودونه وکړي. د سجاد خان مېرمنه د شاهجهان پور شېروانی ده. دی د پاکستان د مظفرگړه نواب نصرالله خان سره هم خپلوی لری چی مېرمنه یې د مالېر کوټله ده.
اخلاق خان دنصرت خانی ټبر نه دی او نیکه یې حیات محمد خان نومېدو. دی بزنس کوئ خو پخپل کور کی یوه کتابتون لری چی د نور هر ډول تاریخ د کتابونو نه علاوه، د مالېر کوټله په اړه یې چاپ شوی هر څه پکی ساتلی دی. ده د مالېر کوټله د مخه ورو کسانو په اړه پورا معلومات لرل. د نواب زوالفقار علی خان د ځوئ رشید علی خان په اړه یې وویېل چی ده په ۱۹۰۱ کی د لاهور د گنگا رام روغتون سره نږدی یوه مانۍ جوړه کړی وه چی ځینی دېوالونه یې اوس هم شته. ده د لاهور په ایچیسن کالج کی سبق ویېلی و او ورسته د پټیالی مشر وزیر ټاکل شوی و. تر پاکستان جوړېدو په اس گاډی کی گرځېدو ، دده مېرمنه انگرېزه وه او اخلاق خان وائ چی قبر یې په لاهور کی دی. د رشید علی خان ځوئ رضا علی په اطالیې کی ژوند کوئ. د رشید ورور خورشید علی خان ځوئ نوشاد علی خان په ترکی او زمبابوې کی د پاکستان سفیر و.
اخلاق خان په دی باور دی چی هند ته د شېخ صدرالدین ورتگ ددوئ لپاره ښه و ، دوئ متمدنه شول، تعلیم یې وکړ، د ژوند شعور یې وموندلو. ما تری پوښتنه وکړه چی دی خلکو ته ځان ولی د یو افغان او یا د شېروانې په توگه

ورپېژني. هغه وويېل دا زما پېژندګلوي ده او زما لپاره مهمه ده، هر انسان د خپل اصل په اړه د وېنا حق لري.
وقار خان د کمپیوټر انجینیر او په انټرنېټ يې د مالیر کوټله وېب پاڼه لري.
دده سره د يو محکمې زړه دوسېه په کتابي شکل کې ده او د نیکه نه ورته يوه سیکه پاته ده چې د نواب اسداله خان (۱۷۸۰-۱۷۸۴)د وخت ده.
د وروستي نواب افتخار علي خان د وراره (د الطاف علي خان ځوئ) دکاظم علي خان سره مې هم په دې سیمه کې دده په کور کې ولیدل. دی ځان د مالیر کوټله د جمال خاني ټبر بولي اومېرمنه يې د کنج پوري د غورغشتي نواب دکورنۍ ده. ده په علي ګړه پوهنتون کې لوړې ازکړې تر سره کړې وې. خو ماشومتوب يې د مالېر کوټله په مبارک منزل کې تېر شوي دي.. ددې ماڼۍ په يو عکس کې يې راته په دوېم پوړ کې خپله کوټه را په ګوته کړه. د ماڼۍ په اړه يې وويل چې دلته د دوېم پوړ نیمه برخه د انګرېز استاځي(وا ېسرائ) لپاره ځانګړې وه . يوه کوټه د موسیقۍ لپاره وه او انګرېزانو مېرمنو به پکې پیانو غږوله. د نواب د کورنۍ ځینو جینکو به هم کله نا کله ورسره ملګرتیا کوله. کاظم علي خان راته وويل زما د کوټې سره جوخته د خیاط (درزي) خپله کوټه وه چې د نوابي کورنۍ د نارینو جامې به يې ګنډلې. د خپل نیکه نواب احمد علي خان په اړه يې وويل چې دده څلور شخصي ساتندويان و چې دوه مسلمانان او دوه به سیکان و. کاظم علي خان په مالېر کوټله کې د خپل نیکه د مزکو او ماڼیو د قانوني وېش په اړه د هندوستان دمحکمې له خوا لیک تر لاسه کړونو هلته يې د ځان لپاره يو سیک وکیل وټاکلو. ما تري پوښتنه وکړه چې دی به د خپلې برخې جاېېداد سره څه کوئ نو راته يې وويېل " زيات امکان ددی دی چې هر څه خرڅ شي او دې پېسې واخلي. زما ددې خبرې په جواب کې چې فکر نه کوئ په دې کار به ددوئ د خاندان میراث نورو خلکو

Download From: AghaLibrary.com

لاس ته ولوېږي، کاظم علي خان وويېل " هر څه ختم شي...پاچاهۍ او سلطنتونه ورک شول."

په مالېر کوټله کې د دوو کسانو نوم ته اوس هم درنښت کېږي، يو نواب شېر محمد خان او بل شېخ صدرالدين دی.

شجره

سرواني
شيخ نهال
شيخ جعفر
شيخ کاکړ
شيخ ابراهيم
شيخ محمود
شيخ موسی
شيخ احمد (جوان مرد)
شيخ ملهی (ملي)
شيخ علي شهباز
شيخ احمد (زنده پير)
شيخ صدر الدين (۱۴۳۷)
شيخ حسن (مشر)

شیخ موسی (کشر)
شیخ عیسی (د بهلول لودی لمسی)
خان محمد شاه
خان محمد اسحاق خان (خواجه مودود)
فتح محمد خان(فاتح)
بازید خان (سیف الملک)
(نواب) فیروز خان
خضر محمد خان
(نواب) شیر محمد خان
(نواب) غلام حسین خان
(نواب) جمال خان

ماخذونه

۱- د سیک خلکو تاریخ ۱۹۷۸-۱۴۶۹ ډاکټر ګوپال سنګ - نوی ډیلی
۲- تاریخ پنجاب - سېد محمد لطیف ۱۸۸۸ بیا چاپ- تخلیقات لاهور ۱۹۹۴
۳ - لودی پښتانه- پوهاند عبدالشکور رشاد کابل دولتي مطبعه ۱۳۳۶ هـ ش
۴- تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني- خواجه نعمت الله هروي
ژباړه: ډاکټر محمد بشیر حسین
۵- غزني - کابل او افغانستان - جي - ټي ویګنی - بیا چاپ سنګ میل چاپ اداره لاهور ۱۹۸۲
۶- حیات افغاني - محمد حیات خان ژباړه : عبدالطیف یادطلبي، دانش خپرندویه ټولنه ، ۲۰۰۷

۷- په پنجاب کې یو کال، هربرټ – بی – ایډوردز، ۱۸۵۱
۸- حاکمان پنجاب، اسد سلیم شیخ، اظهار سنز لاهور، کال نامعلوم
۹- د ملیرکوټله تاریخ، نواب افتخار علي خان ۲۰۰۰
۱۰- د کوټله د مهمو افغانانو حال – د ملیر کوټله خان عنایت علي خان،ملکی او پوځی گزېټیير ۱۸۸۲ د لاهور کتابخانه.
۱۱- د هندوستان سوشیالوجی یوه برخه.
خپلولی او سیاسی نظام. د مالیرکوټله افغان شیرواني مشران ۱۹۴۷ – ۱۴۵۴
د ریتابراره تحقیقی مقاله ۱۹۹۴
۱۲- افغان شرفا او مغل، ریتاجوشي، وکاس چاپ اداره نوی ډلی ۱۹۸۵.
۱۳- شیر شاهی تاریخ، د عباس سروانی تالیف، دکتور دولت محمد ترجمه، کابل افغانستان، ۱۳۵۴.
۱۴- پښتانه د تاریخ په رڼا کې ، بهادر شاه ظفر کاکاخیل، یونیورسټی بک ایجنسی، پیښور، ۱۹۶۵.
۱۵- د هندوتسان په مسلمانانو کې تفریق، د فرانسس رابنسن مقاله، کیمرج پوهنتون ۱۹۷۱، ۱۸۶۰ - ۱۹۲۳
۱۶- سیکان او افغانان، شهامت علی خان، ۱۸۳۹، بیا چاپ امر پرکاشان ۱۹۸۷، نوی ډلی.
۱۷- تواریخ خورشید جهان، ۱۳۱۱ هجري، شیر محمد خان گنډاپور (المکتبه الحقانیه، محله جنگی پیښور).
۱۸- احمد شاه درانی، گنډا سنگ ، ۱۹۵۹ ، رینا آرټ پریس لاهور، بیا چاپ ۱۹۸۱.
۱۹- تمدن هند ، د سیدعلي بلګرامي ترجمه، ډاکټر گستاولی بان، فرانسوی محقق، نیټه نامعلوم.

۲۰-تذکره روسائ پنجاب (پنجاب چیفس) سر لیپېل گریفن-کرنل مېسی ۱۹۱۰ ژباړه سید نوازش علی ۱۹۳۲ (دوېم جلد) بېا چاپ سنگ میل پبلیکېشن لاهور ۲۰۰۲

۲۱- د کابل د سلطنت حالات. ماونټ سټورټ الفښتون ۱۸۱۵، بیا چاپ ۱۹۹۲.

- د خیبر دره، د سلطنټ او حملو تاریخ، پیډی ډوکرټی ۰۰۷ ، فېبر ا فېبر لندن.

۲۳-د هندوستان کیسه، ماییکل ووډ، ۲۰۰۷، رینډم هاوس لندن.

۲۴- د پنجاب او د شمال لوېدېځ سرحدي صوبې قاموس-سر ډېنزېل ایبټسن ، سر ایډورډ مېکلاگن او ایچ اې روز- لومړی برخه-بېا چاپ سنگ میل پبلیکېشن لاهور- نېټه نامعلومه-

۲۵- په مالېر کوټله او لاهور کی د شیخ صدرالدین د کورنې غړي

یادونه

ددې کتاب لپاره په څېړنو کې ماسره بې شمېرو خلکو مرسته کړې ده.

په مالیر کوټله کې. محمد اقبال شیرواني او اجمل شیرواني چې د خپلې کورنۍ عکسونه او پخواني پاڼې یې راڅرګند اوځینی یي د چاپ لپاره کاپی کړل- د نواب شیرمحمد خان انسټی ټیوټ مشر پروفیسر زنیت الله خان او د هغه میرمنې.. دډهلی د جواهر لعل نهرو پوهنتون استاد عبدالخالق رشید. عبدالنافع همت او داود اعظمی چې ځیني کتابونه یې راته وموندل. په لاهور کی وقار خان ، اخلاق علی خان او زاهد خان، د وروستی نواب وراره نوابزاده کاظم علی خان ، شفقت خان او یو شمېر نورو پښتنوچی د خپلو کورنېئوپه

Download From: AghaLibrary.com

اړه یې معلومات راکړل- ، میرویس میاخېل جعفر هاند او د اسرار کریمزي نه منننه چې د کمپوز برخه یې سمباله کړه.

Get More e-books from www.AghaLibrary.com
AghaLibrary.com: The Digital Library